میاشتني

حریت

داسلامي انقلاب د اهـدافو خپـروونکي

سخنی در باب باز سازی فرهنگی

حکمتیار
دمجاهد افغانستان
د ملی زعامت
دمحراب په لوری




د تیری یوی میاشتی په خطرناکولوبو کی چا،چا کوم ، کوم نقش ولوباوه ؟



دکابل په سازش کی دایران لاس

لرزوونکی انکشافات

دپیښور معاهده دچا ابتکار و ؟

اسلام در برابر جهان

بسمه تعالی

الهی ارشاد

یادکړه هغه وخت چي له تاسي نه دوه ډلي دیته تیاری شوی وي چي بی زړه توب وښیئی ، پداسي حال کي چي الله (ج)د هغو دملاتړ لپاره موجود و او مومنان باید یواځې په الله(ج) باندی ډاډ ولري.

د ال عمران ۱۲۲ آیت

بسم الله الرحمن الرحیم

مياشتنى
د ۱۳۷۱دوري او غوائي مياشتي

حریت

داسلامي انقلاب داهدافو خپروونکی

دليكوالو دشورى ترنظر لانـدى
سرمحرر: محمد نذير« بشارت »

لومړي كال -لسمه او يوولسمه گڼه د۱۳۷۰ه.ش دوري اوغوايي مياشتي

ددي گڼي مطالب

١- آيا له تراژيدي دفاجعي په لوري......« ٢ »

٢- سخني در باب باز سازي فرهنگي.....« ٤ »

٣-حكمتيار دمجاهد افغانستان دملي ...« ٧ »

٤- اسلام در برابر جهان امروز..........«١١»

٥- وقاد داصوليت او شهامت د.... ......«١٥»

٦-دتيري يوي مياشتى په خطرناكو.....«١٦»

٧-مصاحبه نجم الدين اربكان............«٤٤»

٨-ديوه سنه ژورناليست اوښي خپروني.... « ٤٧ »

٩- نقدي برمجموعه داستاني" باران"......« ٥٤ »

١٠-ژور گرنگونه چي حادثو ته انتظار وو «٥٣»

١١-تكل.......................« ٦٠ »

١٢- ډيوه ....(لنده كيسه).......« ٦١ »

١٣-دكليمي بند.....(لنده كيسه).....« ٦٥ »

١٤-نقش يهودي ها در انقلاب كمونيست.. «٦٢»

١٥-پرجهاد دخوست دفتحي اغيزي...... «٦٨»

بانكي پته

اكاونټ لومره (۷۰۱٤)
حبيب بانك لميټد پشاور پاكستان

دگڼون بيه :

كلني په پاكستان كي (٨٥) كلداري
په اروپا اوامريكا كـي (٣٠) ډالره
په عربي هيوادونوكي (٧٥) رياله
ديوي گڼي بيه په پاكستان كي ١٠) روپي يادهغه معادل
دمحصلينو اومتعلمينو له پاره نيمه بيه .

مؤ قت پستي آدرس:
مياشتنى حريت ، پست بكس ٧٠٦
يونيورستي ټاون،پيښور

كمپوزوديزاين از مصطفى« سحر»

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

آیا له تراژیدی نه دفاجعی په لور.....؟

په افغانستان کی کمونیزم مات شو- دکمونیستانو رژیم نسکور شو ، مجاهدین کابل ته ننوتل خو ډیره حیرانوونکی ده چی نه دخوشحالی هغه مظاهری شته چی دکابل تر فتحی وروسته ئی طبیعی توقع وه ، نه دجګړی خطر له منځه تللي، نه امنیت شته او نه په ډیر اطمینان ددی اظهار چی کابل فتح دی!

واقعیت دادی چی دا ډیر دردوونکی او روانسوز حالت دی. تردی له خطرناك وضعیت سره شاید تر اوسه زموږ جهاد نه وی مخامخ شوی.

زموږ جګړه یوازی دجګړی لپاره نه وه ، دادشوق او هوس جنګ نه و، دا ړوند او بی هدفه جنګ نه ؤ - دادځیرو اونومونو په ضد جګړه نه وه بلکی دیوه سیستم پر ضد جهاد و او دیوه نظام او ارمان مبارزه وه .ولسونه دشوق ،نوم ، شعار او ځیرو په جنګونو کی په خپل ژوند او وینو داو نه وهی- هغوی په خپلی نظر ئی ، ناموس او حق باندی دتجاوز دمقابلی په ډګرونو کی په سرونو او وینو باندی لوبوته مجبوریږی.

داهیڅ منطق نشی منلای چی یو ملت دی له یو څو ځیرونه دخلاصون لپاره یو نیم ملیون وګړی قربانی کړی او څوارلس کاله دی په ، ګولیو او باروتو کی وترکیږی .

کله چی داسی ده آیا طبیعی نه ده چی زموږ ملت وپوښتی چی زما ددی شاندار او عظیم الشان جهاد هدف داو چی هیواد می دی دامریکا دپلانونو دتطبیق تخته شی؟ دشهیدانو په مبارکوجسدونو می دی دایران د تعصب او عظمت طلبی دشومو اهدافو شومه ډولی تیره شی؟ تاجکستان او ازبکستان چی زمادتوری شرنګ ئی له غاړو او پښو دروسی اسارت زولنی او غړو ندی مات کړل، دی دروسانو له لاسه لیدلیو حقارتونوانتقام له ما واخلی؟ زما په ټوکر ټوکر بدن دی په مالګو دوړولو سره پاکستانی واکمن دبوش د غوسناکو او برګو سترګو له « عذابه» ځان خلاص کړی؟ زما عزت او ناموس دی دکمونیستی رژیم دوحشی ملیشی رحم او کرم ته وسپارل شی؟ زما دشهیدانو، زما دعزت، زما دآزادی او زما دناموس قاتلان دی زما دسرنوشت په ګدی کینی ؟ زما سرنوشت دی دخپلو خپلوانو ، باندونو او هوسونو دپالللووسیله وی؟

آیا زه امنیت ته ضرورت نلرم؟ آیا زه دوطن آبادی نه غواړم؟ آیا زه ډوډی ته اړتیا نلرم ؟ آیا زما اولاد سرپناه نه غواړی ! آیا زه له دی ټولو مبارزو او ټولو قربانیو سره سره ددی حق نلرم چی راځخه وپوښتل شی چی څه غواړی ، څوك غواړی او څنګه ئی غواړی؟ داعادی پوښتنی نه دی، دا هغه درد دی چی که ځواب نشی هره شیبه په یوه توپان بدلیدای شی، هغه

توپان چې برېوکې به ئې ډېرتختونه نسکو راوډیر څه پو پنا کړي.

ددې ترڅنګ مجاهدین په یوه بل نوې ازمویښت کې لویدلي دي جهاني کفر او دهغوی اذنابو هڅه کوله چې وښیئ اسلام نه د مبارزې دین دی نه دسیاست او نه دقیادت جوړولو .

په دې کې خو هغوی ناکام دي، په اسلامي امت کې اوس د اسلامي مبارزې یوپراخ حرکت پیل دی، اسلام دنړۍ دسیاست لویه برخه نیولې ده ، اسلام ټولنو ته صادق او فداکارقیادتونه وړاندې کړل او نن دنوی جهاني استکبار په وړاندې د مقاومت یواځېنی جبهه داسلام ده .

کفار په افغانستان کې له خپلو ټولو هڅو سره سره دمجاهدینو په څپلو کې ناکام شول اودکمونستانو د سقوط مخه ئې ونشواي نیولای. اوس غواړي مجاهدین دحکومت کولو په مرحله کې له داسې ستونزو سره مخامخ کړي.چې په ډیرو ناوړو ماتـو ئې واړوي . او پدې بریالي شي چې نړۍ ته وښیئې چې داسلام حکومت عملي نه دی ، مسلمان مبارزین دحکومت کولو اهلیت نلري او دهغوی نظریه او طرز تفکر یواځې د« جنجالونو» ،« ماجراوو» او « اروډوز» دجوړولو لار ده ، نور دملتونوغوښتنو او ستونزو ته د حل او ځواب له ویلو عاجز دي .

داهغه هدف دی چې که خدای مکړه امریکا اونور کفار پرې لاس ومومي په هیڅ توګه له یوې فاجعې کم نهٔ دی- دابه داسلام په لوري رامات لوی میلان ته شدیده ضربه ورکړي- دمبارزینو روحیې به سختې تاواني کړي اودمسلمانو ملتونو راولاړه نشاط اوبیداري به له لویې سانحې سره مخامخ کړي.

په تاسف باید ووایو چې په کابل کې کومه وضعه ده،اودبې کفایتي، عدم صداقت، بې زړه سوې توب ، بې احساسي ، بې پروګرامي ، شخصي ګټو پاللو او عدم استقلالیت کومې بدشاګومه نبنې چې تر سترګو کیږي دهغو له مخې دپاس خطرونو احتمالات ډیر زیات معلومیږي .هغه خطرونه چې زموږ مظلوم ملت به له یوې اوږدې تراژیدې نه دیوې بدشامته فاجعې په لوري تیله کړي . خو داهیرول نه دي پکار چې زموږ مجاهد قوم چې دالله ج پردین کوم غیرت وکړ حالاتودلر په څیر وښوده چې غیرتي الله"ج" دهغه ځواب په څوچنده ورکړ ، دعقل او تحلیل ټولې محاسبې او معادلې ئې بیکاره کړي ،دروسیې په څیر هیبتناکې امپراتوري له ماتولو راواخله دټولو خوفناکو دسیسو او خنډونو باوجود په کابل کې دکمونیستي رژیم له ذلته ترډکې ماتې ، داپه هیڅ معیار له معجزو کم نه وو.

داسې چې الله (ج) افغان ولس ددې دوران د«اعجازونو » اودامت دروحي او جهادي رهبرۍ لپاره انتخاب کړی دی .

باید مطمئن واوسو چې زموږ ملت با ایمانه ،مظلوم اوصادق دی ، له اسلام سره دجنون تر حده مینه لري، او په تیرو څوارلسو کلونو کې ئې د ۱٦ لکه سرونو په نذرانه کولو ددې حقایقو شانداره مظاهره وکړه .

خدای (ج) به هیڅکله دځو خاینو، وطنفروشو او مفادفرستو عناصرو دبې کفایتیو، ، سنوئیدنو او خیانتونو انتقام له هغه څخه نه اخلي .

جهاد چې کوم تحول راووست دهغه له مخې اوس لله الحمد زموږ ملت دبرېښنده تورې ترڅنګ له ډیر دقیق اولوړ مومنانه بصیرت څخه هم برخمن دی !

په دې وجه کوم کسان چې دپردیو خوشحالولوته دخپلو ملت تر ګټو ترجیح ورکوي ،ځوک چې دخپل تقلبي اقتدار اونوم لپاره دافغانستان ملي وحدت معاملې ته وړاند ی کوي ،څوک چې داوضاع دلاخرابولو له لارې دسیاسي ګټې دپورته کولو سوچونه کوي، او څوک چې دملت دسرنوشت په دې نازکه مرحله کې دبې تفاوتۍ او بې کفایتي لار نیسي، نه یواځې به ئې دالله (ج) په وړاندې دملامتي، جرم او خطا ډیر بدپیټي په اوږو شي بلکې دافغان بابصیرته ملت له حسابه به هم خلاص نشي.

لوی خدای (ج) ته دعاکوو چې لکه په تیرو څوارلس کلونو کې ئې چې دافغان مظلوم ملت دعزم او قدم مرسته وکړه ،همداسې ئې له دې ازمویښته هم سرخرویه وباسي او یو باایمانه، صالح اوزړه سواند با کفایته قیادت ورپه نصیب کړي .

حریت

سخنی در باب باز سازی فرهنگی

وحید «مژده»

باسرنگونی رژیم کمونیستی در افغانستان ، دوره سیاهی که با کودتای ۷ ثور ۵۷ آغاز شده بود به پایان رسید. چهارده سال مبارزه و پیکار مشت های گره شده از ایمان سرانجام بر سرنیزه های ستم و اجحاف پیروز شد و دوران جدیدی آغاز یافت .

مجاهدین امروز وارث افغانستان ن ویران و بخاك یکسان اند، ویرانگری کمونیزم در افغانستان تنها منحصر به زمینه های مادی نیست ، ابعاد این فاجعه، عظیم بر حریم فکری، فرهنگی و اخلاقی جامعه، نیز گسترده شد ، در حقیقت نخستین هجوم کمونیست.ها علیه ملت مسلمان ما بر مرزهای فکر و اندیشه، جامعه بود و نخستین آثار ویرانگری آنان درین بخش ها به ظهوررسید، تعمدی که درین دوران سیاه به انحطاط اخلاقی جوانان نشان داده شد در تاریخ افغانستان بی سابقه بوده است.

سازمان جوانان و تشکیلات حزبی درین جهت ، یکسره در کوشش تباهکاری اخلاقی و دور ساختن جوانان از ارزش های دینی و اخلاقی بود. وقتی دختر یاپسر یك خانواده به جاسوسی اعضای فامیل خویش برای دستگاه حاکم می پرداخت در حالیکه میدانست چنین کاری به قیمت جان عضو یا اعضای خانواده اش تمام میشود، آیا میتوان انتظار چیزی بنام احترام به تقدس حریم خانواده را داشت؟تنها ارزش های دینی و اخلاقی نبود که اینگونه مورد بی حرمتی قرار گرفت: در ساحه، آموزش و تعلیم نیز وضع به همین منوال بود. کمونیست ها گذشته از اینکه جمع کثیری از تحصیلکرده ها و اهل فکر و دانش را به شهادت رسانیدند، در طول چهارده سال گذشته هزاران باب مکتب ومدرسه در سراسر افغانسان ویران و بخاك یکسان گردید، بسیاری از متعلمین ومحصلین یا راهی سنگر های جهاد علیه کفر و کمونیزم شدند و یا رهسپار دیار هجرت گردیدند .

کمونیست ها در افغانستان دانش سیاسی یعنی آموزش تئوری های مارکسیستی را با لاترین حد ارتقای سطح فکری یك محصل بشمار می اوردند که در حقیقت کاپی نصاب و شبوه تعلیمی بود که در شوروی درمورد محصلین کشورهای جهان سوم مروج بود.سیستم تحصیل در روسیه درمورد محصلین کشور های جهان سوم بر صدور کمونیزم به شیوه ماسکو به چنین کشورهاعیار شده بود که در آن آموزش مارکسیسم اهمیت اساسی داشت

درمناطق تحت کنترول دولت مکاتب و مؤسسات آموزشی از ابتدائی تا عالی، مرکز فعالیت های سازمانی و کمونیستی گردید، برای ارتقا از یك صنف به صنف دیگر ، داشتن لیاقت و آموزش درس ازاهمیت افتاد و بجائی آن عضویت در سازمان حزبی و پیش آهنگی معیار لیاقت و دانش قرار گرفت و به این ترتیب معیار تعلیم بشدت نزول کرد .

کمونیست ها در افغانستان دانش سیاسی یعنی آموزش تئوری های مارکسیستی را با لاترین حد ارتقای سطح فکری یك محصل بشمار می آوردند که در حقیقت کاپی نصاب و شبوه تعلیمی بود که در شوروی درمورد محصلین کشورهای جهان سوم مروج بود.سیستم تحصیل در روسیه درمورد محصلین کشور های جهان سوم بر صدور کمونیزم به شیوه ماسکو به چنین کشورهاعیار شده بود که در آن آموزش مارکسیسم اهمیت اساسی داشت، اگر یك محصل از یك کشور جهان سوم در رشته انجنیری یا طب نیزتحصیل میکرد ولی در مضامین مربوط به ایدئولوژی علاقه نمی داشت موفق به گرفتن سند فراغت نمی گردید در مقابل اگر محصلی در مضامین دیگر لیاقتی نداشت ولی در مضامین مربوط به ایدئولوژی کمونیستی نمره خوب حاصل میکرد عالیترین شهادتنامه را دریافت میکرد، به همین علت بسیاری از دیپلوم انجنیرها و داکتر های فارغ التحصیل پوهنتون های روسیه کمونیستی عاری از دانش لازم تخصصی بودند .

همانگونه که اشاره شد ، روسها از چنین شیوه و نصاب تعلیم درمورد محصلین کشور های جهان سوم اهداف استعماری داشتند و به همین علت محصلین کشورهای عقب مانده موفق نمی شدند دانش تخنیکی لازم راکه مورد نیاز

یك کشورِ عقب مانده است ازموسسات آموزشی شوروی حاصل کنند. اما کمونیست ها در افغانستان نیز چون اکثراً در روسیه با همین نصاب تعلیم تحصیلکرده بودند ، همین نصاب تعلیم و شیوه آموزشی روسها را در افغانستان روی دست گرفتند و به آموزش ایدئولوژی کمونیستی رجحان فوق العاده قایل شدند، بدون اینکه به این مسئله نهایت مهم توجه کنند که کشور های عقب مانده به دانش تخنیکی نیاز مند است.

البته این شیوه ء آموزشی به نفع روسها نیز بود زیرا روسیه میتوانست هزاران تن از جاسوسان خویش را بنام های متخصص ، مشاور.... به بهانهء اینکه بوجود آنان در افغانستان ضرورت است در افغانستان نگهدارد و بوسیله آنان ادارات دولتی راتحت کنترول مستقیم خود داشته باشد .

اعزام متعلمین و محصلین در جریان تحصیل غرض جنگ علیه مجاهدین و اعزام جبری آنان به خدمت سربازی نیز تاثیرمنفی بالای معیار آموزش و تعلیم از خود برجا نهاد، نتیجه کار آنکه امروز در افغانستان بسیاری از کسانیکه ازموسسات تعلیمی تحت کنترول رژیم کابل فارغ التحصیل گردیده اند حتی از سواد کافی نیز برخوردار نیستند .

اعزام متعلمین و محصلین در جریان تحصیل غرض جنگ علیه مجاهدین و اعزام جبری آنان به خدمت سربازی نیز تاثیرمنفی بالای معیار آموزش و تعلیم از خود برجا نهاد، نتیجه کار آنکه امروز در افغانستان بسیاری از کسانیکه ازموسسات تعلیمی تحت کنترول رژیم کابل فارغ التحصیل گردیده اند حتی از سواد کافی نیز برخوردار نیستند .

درجهت دیگر یعنی در محیط هجرت و همچنان درمناطق تحت کنترول مجاهدین در داخل نیز در بخش تعلیم و تربیه مشکلات فراوان وجود داشت ، بخصوص در داخل بعلت عدم دسترسی به معلمین ورزیده و امکانات آموزشی دیگر و همچنان عدم امنیت ازناحیه حملات زمینی و هوایی رژیم ، این مشکلات بیشتر بود ولی در محیط هجرت وضع نسبتاً بهتر بود ، به همین علت متعلمین و تحصیلکرده های مکاتب کمپ های هجرت ویا معهد ها ، پوهنتون ها و مدارس عالی بفضل خداوند ازمعیار تعلیم نسبتاًبلند تر برخورداراند که هم توجه به نصاب تعلیم درین برتری معیار تاثیر داشته است و هم موجودیت استادان ورزیده و جریان بدون وقفهء سال تعلیمی ، ولی باوجود این کمبود های نیز بچشم می خورد که ناشی از بی توجهی تنظیم های جهاد ی بوده است .

بطور مثال ما در سه یا چهار سال اخیر شاهد تاسیس پوهنتون های جهادی بوده ایم اما در رشته های چون طب و انجنیری تعداد فارغ التحصیلان کم و انگشت شمار است که اصلاً قابل مقایسه بانیاز ها نیست، در رشته ء زراعت که نیاز مبرم کشور مابه متخصصین مجرب درین رشته است اصلا ً انستیتوت و پوهنحی تاسیس نشد .

مشکل بزرگ شورای مؤقت مجاهدین درکابل ینست که آنها پرسونل لازم را برای جانشین ساختن آنها بجای مامورین رژیم سابق ندارند بطور مثال به گفته یکی از دست اندر کاران تعداد پرسونل در رادیو تلویزیون کابل ۱۲۰۰ نفر است در حالیکه مجاهدین یك دهم این تعداد از پرسونل فنی درین رشته رادر اختیار ندارند، پس چاره کار اینست که باید ازهمان پرسونل رژیم گذشته استفاده شود .

شرایط نامساعد دوران هجرت در طول سالهای گذشته نمیتواند گریزگاهی برای عدم توجه به این نیاز ها باشد ، همه ساله تعداد زیادی بورس تحصیلی از طرف بعضی از کشورها در اختیار تنظیم های جهادی قرار می گرفت ولی از این بورسها بیشتر کسانی استفاده کردند که اقارب بانفوذ درتنظیم های جهادی داشتند و درحالیکه از سواد کافی برخوردارنبودند باشهادتنامهء جعلی شامل پوهنتون هاشدند و بعد از یکی دوسال چون توان ادامه ء تحصیل را بعلت عدم لیاقت نداشتند اخراج شدند .

اکنون مادر برابر چنین شرایطی قرار

همه ساله تعداد زیادی بورس تحصیلی از طرف بعضی از کشورها در اختیار تنظیم های جهادی قرار می گرفت ولی از این بورسها بیشتر کسانی استفاده کردند که اقارب بانفوذ درتنظیم های جهادی داشتند و درحالیکه از سواد کافی برخوردارنبودند باشهادتنامهء جعلی شامل پوهنتون هاشدند و بعد از یکی دوسال چون توان ادامه ء تحصیل را بعلت عدم لیاقت نداشتند اخراج شدند

داریم ، ویرانگری کاریست که در کوتاه مدت میتواند انجام گیرد، درچند لحظه میتوان شهر ویاحتی کشوری را بخاک وخون کشید و منهدم کرد ولی باز سازی

آنچه که در یك لحظه ویران گردیده به سالها زمان نیاز مند است بخصوص بازسازی فکری ، اخلاقی وتعلیم وتربیه در یك جامعه کاریست که از توان یك نسل بیرون است، باز سازی معنوی یك جامعه بسیار بسیار دشوار تر و دراز مدت تر از باز سازی مادی و تعمیر ویرانه های است که انفجار بمب و راکت ببار آورده است .

باز سازی مادی جامعه نیز باید از باز سازی معنوی آغاز شود زیرا کار باز سازی را افراد جامعه انجام میدهند، افرادی که اندیشه و فکر آنان در کار آباد ساختن بکار گرفته میشود باید از لحاظ فکری مستعد چنین کاری باشد و گر نه حاصل کار آنان چیزی جز به هدر رفتن وقت و امکانات نخواهد بود.

جهان درین رابطه تجربه ء جنگ عالمگیر دوم را پیش چشم دارد درجنگ دوم اروپا میدان جنگ بود و بیشترین ویرانی های ناشی از این جنگ را نیز کشورهای اروپایی تحمل کردند.

امریکایی ها بخاطر رقابت باروسها که اروپای شرقی راتحت تصرف خویش داشتند، پلان مارشال را برای باز سازی در قطارکشور های پیشرفته جهان قرار گرفت .

آیا این معجزه از دالر امریکائی بود؟ هرچند امریکا بخاطر اهداف امپریالیستی خویش تلاش داشت تا همین ذهنیت را درجهان ایجاد کنند ولی تجارب بعدی درکشورهای جهان سوم نشان داد که معجزه نه ازپلان امریکا و دالرامریکائی بلکه ا ز همت مردمان اروپای غربی بوده است، به این معنی که وقتی امریکا به تأسی از پلان مارشال به بعضی از کشورهای جهان سوم نیز کمك اقتصادی نمود، این کمك ها به پیشرفت اقتصادی آن کشور ها نیانجامید.

علت اینکه کمك خارجی توانست در اروپا موجب باز سازی و پیشرفت اقتصادی گردد ولی درجهان سوم به این هدف نرسید این بود که اروپای غربی از نیروی کار آمد فنی برای بکار گیری کمك های خارجی برخوردار بود در حالیکه کشور های عقب مانده از چنین امکانی محروم اند .

> برای رفع این نیاز ها باید در اسرع وقت درجهت بوجود آوردن نصاب تعلیمی جدید مکاتب و موسسا ت آموزشی عالی توجه نمود، باز سازی و تعمیر هزاران مکتب که درطول جنگ ویران شده است ، تربیت و استخدام معلمین و دهها مسایل دیگر درین رابطه فقط یك جزء کوچك از مشکلات عمومی نظام جدید در افغانستان یعنی مشکل تعلیم و تربیه است، در حالیکه حکومت مجاهدین در هر بخش باچنین مشکلات بزرگ مواجه است .

شاید بعضی ها چنین استدلال نمایند که برای رفع نیازپرسونل فنی میتوان ازمتخصصین خارجی استفاده کرد ولی درکشور های عقب مانده ازجمله در افغانستان این راه نیز تجربه شده است ، حاصل این تجارب اینست که گذشته از اینکه استفاده از کادر های فنی خارجی قسمت اعظم ازکمك ها رابشکل معاش به متخصصین خارجی دوباره از کشور خارج میکند ، پروسه پیشرفت اقتصادی متداوم و استفاده از تکنالوژی وتجارب فنی دیگران نیازمند آموزش کادرهای فنی مجرب ومتعهد در داخل است، بوجودآوردن چنین کادرها باتجدید نظر انقلابی درسیستم تعلیم و تربیت ممکن است .

در طول چهادره سال گذشته بسیاری ازکادرهای فنی مورد نیاز مملکت یاازکشورهای خارج شده اند که دیگر امکان بازگشت آنان تاآینده قابل پیشبینی ممکن و متصور نیست و یا بعلت کبر سن متقاعد گردیده اند در حالیکه جای آنانرا کادرهای جوان پرنکرده اند و اگرمتخصصین نیز در دوایر دولتی از دوران سابق برجامانده اند درمورد تعهد شان به نظام جدید شایدسوالهای بسیار مطرح باشد .

برای رفع این نیاز ها باید در اسرع وقت درجهت بوجود آوردن نصاب تعلیمی جدید مکاتب و موسسا ت آموزشی عالی توجه نمود، باز سازی و تعمیر هزاران مکتب که درطول جنگ ویران شده است ، تربیت و استخدام معلمین و دهها مسایل دیگر درین رابطه فقط یك جزء کوچك از مشکلات عمومی نظام جدید در افغانستان یعنی مشکل تعلیم و تربیه است، در حالیکه حکومت مجاهدین در هر بخش باچنین مشکلات بزرگ مواجه است .

حل چنین مشکلات فقط در صورتی ممکن و میسر است که تنظیم های موثر جهادی که چشم امید ملت مسلمان و مجاهد افغان بسوی آنهاست درمیان خویش به یك تفاهم دست یابند ، و اگر خداناخواسته این آرزوی اکثریت ملت تحقق نیابد، نظام مستقر در کابل حتی از رژیم نجیب نیز ناتوان تر و درمانده تر خواهد بود.

در شرایطی که افغانستان برای باز سازی شدیداً نیازمند کمك های خارجی است، عدم موجودیت یك حکومت نیرومندمرکزی احتمال جلب کمك های خارجی راتیز بشدت کاهش خواهد داد و هیچ مشکلی ازمشـــکلات افغانســـتان حل نخـــواهد شد .

****

«حکمتیار» د مجاهد افغانستان د «ملي» زعامت دمحراب په لوری ...!

څومشوری، څو پیشنهادونه

محمد نذیر «بشارت»

دحمل ۲۳ سهار ۉ، زموږ کورته د«حکمتیار» صاحب یو محافظ راغی، ماته ئی وویل چی په ۸ بجو انجنیر صاحب په تاون کی دهغه کورته غوښتی یی.

د۸ بجو په شاوخوا کی د«حکمتیار» صاحب کورته ورغلم - هلته تر لږ انتظار وروسته دحزب داجرائی شورغړی او څو تنه نور هم راغلل.

د«حکمتیار» صاحب سکرتر حاجی فرید دشهادت ورځپاڼی او «الموقف» مجلی مسئولین او زه هغی کوټی ته رهنمائی کړو چی محترم «حکمتیار» پکی ناست ۉ، تر روغبړ وروسته ئی موږ دری واړه مخاطب کړو چی تاسی می ددوو خبرو لپاره راغوښتی یاست، لومړی داچی څه ډول کولای شو «شهادت» په یوه ښه معیاري ورځپانه واړوو. دوهمه خبر داده چی دتنظیمونو مشرانو د«غیرمتنازعه فیه» شخصیتونو دحکومت په طرحه توافق کړی، موږ نن ددغسی کسانو په لیست غور کوو، پدی کی ستاسی نظر هم پوښتو.

دلومړی موضوع په باب خبری وشوی، هغه په ډیر معقولیت او واقعبینی له هغو شرایطو سره دزړه له کومی موافقه وکړه چی دیوی معتبری اومعیاری خپرونی لپاره ضروری دی.

دمناسبو وسایلو او امکاناتو په برابرولو ئی برسیره داخبره هم استقبال کړه چی دپرسونل په استخدام کی دی تنظیمی محدودیت اودسلیقی او په غیر بنیادی مسایلو کی د نظر اختلاف مانع نه واقع

کیږی او دلیکوالانودقلم دآزادی مناسب حق دی تامین شی.

د دوهمی موضوع په باب ئی تر مقدماتی خبرو وروسته ماته وویل چی« ستاپه زرمت کی څوك د«غیر متنازعه فیه» کسانو په لیست کی راتلای شی» ماورته د یو

میراجان«سهیقی» نوم واخیست او بل له ځاځیو څخه د ادم خان.

دلومړی په باب یی موافقه وښوده او ددوهم په برخه کی ئی وویل چی هغه می لاله پخوا په نظر کی دی.

نورو دوو ورونو هم خپل نظرونه څرگند کړل، خو دا خبری ډیری لندی وی ځکه په مخامخ کوټه کی په همدی موضوع باندی دبحث لپاره دحزب داجرائیه شوری غړی او اوه اته نور کسان راپوره شوی وو. «حکمتیار»صاحب وویل چی راځی په دی موضوع به تفصیلی بحث په مجلس کی وکړو»

که څه هم د «حکمتیار» دافراط تر حده په نفس اعتماد، مظبوط اعصاب او لوړ مورال داگرانوی چی دهغه په څیره کی دی په ډیرو سختو حالاتو کی هم دوار خطائی او خپگان نبنی مطالعه شی، په ډیرو بدو شرایطو کی هم هغه «روحیه» او «امید» نه بایلی خوپدی ورځ ئی څیری دزیاتی خوشحالی ترجمانی کوله.

«حکمتیار» دغونډی په پیل کی وویل چی نن مازدیگر دڅو تنظیمونو غونډه ده په هغه کی به هڅه کیږی چی نوموړی حزبونه خپل لیستونه سره توحید کړی او سبا به دټولو تنظیمونو دمشرانو په غونډه کی وروستی اتفاقی تصمیم نیول کیږی.

مخکی له دی چی د افرادو په پیشنهاد خبری وشی «حکمتیار» وویل چی ددی کسانو بارز مشخصات باید داوی چی:

الف: مسلمان وی، ب:وطندوست وی او مزدور نه وی ج: لجوج او ماجراجونه وی چی دخپلو تعهداتو او ورسپارل

شوېو مکلفیتونو له پولو پښه واړوي . او دخپل اقتدار لپاره دولس او وطن مصلحتونه تر پښو لاندې کړي د-:دولو جهادي طاقتونو ته دمنلو وړ وي.

« حکمتیار » ددې طرحې په باب ډېر مخلص سکاریده اوپدې برخه کې ئې فوق العاده دواقعبینۍ او صداقت برخوردکاوه.

دمجلس په یوه برخه کې چې دځینو نومونو په باب دبعضې حزبیانو له مخالفت سره مخامخ شو دنورو دلایلو ترڅنګ یې وویل چې ورونه باید دا په پام کې ونیسي چې زمانظر او رایه فیصله کوونکې نه ده ، هلته « ګیلاني » او « مجددي» هم شته ، لازمه ده چې دهغوی رجحان او قناعت هم په نظر کې ونیسو .

پدې روحیه تر اوږدو خبرو وروسته لیست جوړ شو.

درهبرانو په غونډه کې چې کوم ۲۸ کسان انتخاب شول له هغو څخه ۲۲ هغه وو چې حزب اسلامي پیشنهاد کړي وو.

داخبره ددې ډېر ځرګند ثبوت دی چې « حکمتیار » په څومره اخلاص او واقعبینۍ چال چلن کړی دی .

داسلام آباد په وروستي جلسه کې کابل ته دغیر متنازعه فیه کسانو پرلیزلو خبرې کیدې چې په کابل کې کودتائی اقدام وشو.

دنوموړې غونډې په جریان کې دجمعیت اسلامي مشر رباني صاحب ته تلیفون راغی، داتلیفون دهغه دنظامي چارود رئیس انجنیر ایوب ؤ - ایوب په تلیفون کې ورته وویل چې په کابل کې دجمعیت قوتونو قدرت اخیستی دی، رباني صاحب چې دغونډې کوټې ته ننوت، په ډیره خوشحالۍ ئې برخوالوته دکابل دفتحې مبارکي ورکړه او زیاته ئې کړه چې نور په دې غونډو وخت ضایع کول نه دي پکار ، مسئله حل ده او دې مجلسونو خپل افادیت بایللی دی.

واقعیت داوچې په کابل کې دببرک دپلویانو ، رشید دوستم او احمد شاه مسعود ترمنځ داسې پروګرام جوړو چې پرچمیان له تجیب نه واك واخلي، مسعود او څه قوت ئې او حزب وحدت کابل ته ننوځي، مسعود به دکابل راډیو او تلویزیون له لارې د کابل فاتح اعلانیږي او پدې توګه به یوه ائتلافي اداره جوړیږي خو په پروان کې دحزب اسلامي ځواکونو دمسعود مخه ونیوه ، پروګرام ئې ګډوډ شو او دجریاناتو داصلي بڼې او ماهیت افشا کیدل شروع شول .

داسې لښکرې اور په بلیدو و چې دهیواد دسالمیت او ملي وحدت په ګډون ئې ډیر څه سوځول- بل داچې یوید حرکت وخودفتحې په نامه را روان وو.

ګڼ شمیرهیوادونه ددې حرکت تر شا ولاړ وو، په ټوله نړۍ کې دتبلیغاتو یو توند موج راپورته شو، داسې چې کابل ئې فتحه شوې ګڼه ، مسعود دصحنې قهرمان بلل کیده او ددې انکشاف په وړاندې مخالفت مطلق بغاوت او ماجراجویي ګڼله کیده. پاکستان په ټول جدیت او قوت دبیلا بیلو عواملو په وجه په دیر شدت په دې جریان ورګډشو .

که څه هم د «حکمتیار» دافراط تر حده په نفس اعتماد ، مظبوط اعصاب او لوړ مورال داګرانوي چې دهغه په څېره کې دې په ډیرو سختو حالاتو کې هم دوار خطائي او خپګان نښې مطالعه شي ، په ډیرو بدو شرایطو کې هم هغه «روحیه» او «امید» نه بایلي خوپدې ورځ ئې څېرې دزیاتې خوشحالۍ ترجماني کوله .

دی انکشاف « رباني صاحب » ته چې کابل ئې دخپلو قوتونو په لاس فتح ګڼه شوك ورکړ او تقریباً یوه هفته خاموش وه «حکمتیار » مخکې له دې چې بیګاه ته خبره رادیوګانو ته راووځي ، دوضعې په ماهیت پوه شوی و هغه ویل چې دببرك کسانو له تجیبه قدراخیستی او په توطیه ئې لاس پورې کړی دی. او پدې محتوی ئې رادیوئي وینا وکړه. خوهغه تقریباً له یوه غیر منتظره حالت سره مخامخ شوی و او په ځان د زیات اعتماد روحیې هغه یو ځل بیا په یوه سخت ازموینت کې اچولی و .

« حکمتیار » صاحب له خپل ټول ابتکار ، استعداد ، تیزبیني او ذهانت سره سره دا ستونزه لري چې مقابل لوری همیشه کمزوری ګڼي اودهغه حرکت ته سطحي او په کم نظر ګوري.

هغه په یوه مشکل حالت کې و له یوې خوا سازش په قوت رراوان و ، ددې سازش په ماهیت بنه پوهیده، علاوه په دې چې کمونستان په اقتدار کې ګډوو یو

دسیاسي او رواني فشار په کوم بدترین حالت کې چې «حکمتیار» واقع شو. شایدّ دمبارزو په تاریخ کې ډیر شاذ اونادر ځوك ورسره مخامخ شوی وي، دایواځې په دې نه چې هغه په میدان تنها ؤ او یایي دمرګ او ماتې خطره وه ، بلکې پدې چې دتبلیغاتو او توطیو امواجو په ډیره بده بڼه دده حقانیت ته دباطل او دده په مقابل کې ولاړې « ناروا » ته د«روا» بڼه ورکړې وه .

دپاکستان حکومت او تبلیغاتي وسایلو د«حکمتیار» پر خلاف طرف ونیو، د ایران په خصومت ولاړه موضع خو لا پخوا ځرګنده وه بیا په تیره چې پدې سازش کې ئې کلیدي برخه وه ، دمجددي صاحب تر مشرۍ لاندې چې کومه غیر ضروري شوري جوړه شوه هغه مطلقا دامریکا دفشار او اشارو نتیجه وه

مجددی صاحب دکابل داصلی فاتح په توگه تبلیغ شو ، دپاکستان سیاسی حلقو او دډله ایزی مفاهیمی وسایلو په ډیر شدت دهغه ملاتړ کاوه او په کنایو او کله ئی په صراحت«حکمتیار» ته دباغی عنوان ورکاوه، مجددی صاحب همیشه دکابل د اقتدار هوس دپزدیو په ملاتړ کی وینی، هغه نه دخپلی ټولنی په واقعیتونو پوهیږی ، نه دخپل ملت ارادی ته په نقش او درناوی قایل دی نه په هیڅ توگه په څه اصولو معتقد دی اونه دهیواد او ولس دمصلحتونو پروا لری، دهغه په برخه کی دا تحلیل تقریباً بشپړ ؤ مگر پدی وار ئی چی دکومی بی ظرفیتی او عاقبت نا اندیشی مظاهره وکړه هغی دا وښوده چی دمجددی صاحب سم پیژندل لانور وخت هم غواړی .

حالت داسی و چی زموږ مظلوم ملت سخت دیته منتظرو وچی دجهاد دبری د وروستی پړاو له اسمانه ئی دتشویش او خوف لوخړی ورکی شی، اودفتحی مفهوم په حقیقی معنی متحقق شی ،

مجددی صاحب ددی په ځای چی دخپل کړیدلی ملت دی احساس ته درناوی وکړی ، دهغه په زخمونو ئی دمالگی دوړول پیل کړل اوددی په عوض چی دوحدت دتامین او افتراق او انتشار دلری کیدو غږ وکړی له ستونی ئی دفتنی او اوږ بلونی اوازراووت .

په جلال آباد کی ئی وویل چی «حکمتیار» په کابل کی دوینو تویولو مسئول د ی او باید محاکمه شی....

«مجددی » صاحب په کابل کی په اصطلاح داقتدار داخیستو په وخت کی په ځای ددی چی دخپلو یونیم میلون وطنوالو دقاتلانو او دټول افغانستان دړنگیدو په مسئولینوغږیری ، د«حکمتیار» په ضد ئی دعقدی اودښمنی په ژبه خبری وکړی ، هغه فکر کاوه چی امریکا ، دایران حکومت اوپاکستان څنی واکمن اودکابل دپخوانی مزدور رژیم بقایا

په دی خوشحاله کیری چی له «حکمتیار» سره خصومت وسودل شی، اود هغوی خوشحالی دده لپاره بس ده .

هغه دی ته نه کتل چی ولس ئی څه غواړی او څه قضاوت کوی.

«گیلانی» صاحب هم خپل ټول

واقعیت داوچی په کابل کی دیبرك دپلویانو ، رشید دوستم او احمد شاه مسعود ترمنځ داسی پروگرام جوړو چی پرچمیان له نجیب نه واك واخلی، مسعود او څه قوت ئی او حزب وحدت کابل ته ننوځی، مسعود به دکابل راډیو او تلویزیون له لاری د کابل فاتح اعلانیږی او پدی توگه به یوه ائتلافی اداره جوړیږی خو په پروان کی دحزب اسلامی ځواکونو دمسعود مخه ونیوه ، پروگرام ئی گډود شو او دجریاناتو داصلی بڼی او ماهیت افشا کیدل شروع شول .

احتیاط او هوښیاری ته شاکړه او تصور ئی وکړ چی همدا وخت دی دټولو په «معنتوب» او« تنها » «حکمتیار» باندی دگوزارونو ، همدا موقع ده صحنی نه د هغه دایستو . هغه په ډیره بی انصافی او بی مسئولیتی «حکمتیار» په کابل کی دوینو تویولو مسئول وگاڼه او په حکومت کی ئی دحزب اسلامی دگډون په صورت کی دخپلو وتلو گواښ وکړ .

گیلانی صاحب هم دمجددی صاحب په څیر فکر کاوه چی دبهرنیو طاقتونو له لوری چی په «حکمتیار» کوم فشار پروت دی شاید هغه تری په روغه ملاونه وځی.

په کابل کی کمونیستانو دمسعود صاحب او مجددی صاحب په ستاینه کی محکه او اسمان گزول خود«حکمتیار» په باب ئی له گواښونو په ډکه لهجه خبری کولی .

متاسفانه مسعود له ډیری پخوا راهیسی په یوه غلط سوچ کی دی، پدی کی شك نشته چی هغه یو پر تلاشه ، بانظمه او با پلانه قوماندان دی، خوپه هیڅ توگه او هیڅ معیار دیوه قاید او رهبر په کچه پوره نشی ختلای. هغه هم دیوه اسلامی انقلاب او مسلمان ملت. د« استعمار» یو معمول روش دادی چی هغه دملتونو حقیقی قهرمانان په بیلا بیلو بڼو تخریبوی او وژنی او جعلی قهرمانان ورته تراشی.

مسعود صاحب فکر کوی چی په حقیقی اوعملی مفهوم هم د« قهرمانی» او «قیادت» په محراب کی دریدل دومره اسانه دی لکه غرب چی د مطبوعاتو په پاڼو اودرادیوگانو په خپوکی ورته اسانه کړی دی.

مسعود صاحب دداسی یوه دروغجن هوس په نیشه کی ځان دکابل« فاتح» گاڼه او د«حکمتیار» په برخه کی ئی دگستاخی اوغرور په ژبه خبری کولی .

مطلب داچی دغه ټول فشار چی په واقعی مفهوم دومره هیبتناك و چی اعصاب ئی خرابول او ارادی ئی لړزولی،

په «حکمتیار» پروت و ، تحلیل اودوضعی موج داسی و چی هر چا فکر کاوه چی هره لحظه تیریږی حکمتیار دخوفناك سقوط اوبدی ماتی دگړنگ غاړی ته ورنژدی کیږی، اوپدی حالت کی په خپله موضع د«حکمتیار» ټینگار هیچا له « انتحاره» کم نه گاڼه .

خو«حکمتیار» ودرید او داسی په شجاعت او میړانه ودرید چی دښمن ئی هم باید ورته په شاباس ویلو کی بخل ونکړی .

داعادی مقاومت اومعمولی دریدل نه و ، په جرئت ویلای شو چی« حکمتیار»په دی دریدو د افغانستان

دجهاد ګټلی میدان له بایلوده بچ کړ، دافغانستان سالمیت او ملی وحدت ئی له یوی هولناکی فاجعی وژغوره او په منطقه کی ئی دبیلتون او افتراق داوولغوړنی لنبی ژبغړاندی کیدوته پرینښودی . داحقایق دیرژر روښانه شول- ډیر ژر د«حکمتیار» موضع دزیاترو جهادی قوتونو موضع شوه او د«حکمتیار» غوښتنی دټولو هغو افغانانو غوښتنی شوی چی واحد اسلامی اودپردیو له واکه خپلواك افغانستان غواړی .

برعکس څومره چی حکمتیار دخپل جهاد په اهدافو اودخپل هیواد په خپلواکیدو ټینګار کاوه همدومره ئی ملت ترشاودرید.

دوهم داچی جهاد په واقعی مفهوم زموږ ولس ته یو مومنانه بصیرت او آګاهی ورپه برخه کړی، داستعمار له ټول تزویر اوټولو زهرجنو تبلیغاتو سره سره چی زموږ ملت په کومه چټکتیا اوژورتیا دکابل دپیچلی سازش ماهیت درك کړ او د«حکمتیار» دموضع پر معقولیت او حقانیت و پوهید ، هغه په هیڅ توګه له

مجددی صاحب دکابل داصلی فاتح په توګه تبلیغ شو ، دپاکستان سیاسی حلقو او دپله ایزی مفاهیمی وسایلو په ډیر شدت دهغه ملاتړ کاوه او په کنایو او کله ئی په صراحت«حکمتیار» ته دیاغی عنوان ورکاوه، مجددی صاحب همیشه دکابل د اقتدار هوس دپردیو په ملاتړ کی وینی، هغه نه دخپلی ټولنی په واقعیتونو پوهیږی ، نه دخپل ملت آزادی ته په نقش او درناوی قایل دی نه په هیڅ توګه په څه اصولو معتقد دی اونه دهیواد او ولس دمصلحتونو پروا لری، دهغه په برخه کی دا تحلیل تقریباً بشپړ و مګر پدی وار ئی چی دکومی بی ظرفیتی او عاقبت نا اندیشی مظاهره وکړه هغی دا وښوده چی دمجددی صاحب سم پیژندل لانور وخت هم غواړی

دی ازمویښت ددی په عوض چی«حکمتیار» کمزوری کړی هغه ته ئی ددی زمینه برابره کړه چی دخپل شجاعت په مرسته دمجاهد افغانستان د«ملی زعامت» په محراب کی ددریدو په لوری چټك پرمختګ وکړی .

دلته ددی خبری یادول هم ضروری دی چی دی جریان دوه حقیقته ډیر زیات روښانه کړل.

یو داچی افغان ولس یو بزدل اوبی شهامته قوم نه دی چی دپردیو فشار او دمواضعو څرنګوالی ئی دی تصمیم ته رنګ ورکړی . هغه دی ته ونه کتل چی ټول بهرنی طاقتونه په یوه ځانګړی شدت د«حکمتیار» پرخلاف ولاړدی نو دهغه ملاتړ به ستونزی ورته را ولاړی کړی ،

یوی معجزی کم نه دی .

اوس به راشو خپلی اصلی خبری ته - هغه داچی «حکمتیار» له دی اعصاب خرابوونکی اوپښی ازړزونکی پړاوه بریالی راووت، پدی معنی چی په فکری، او اخلاقی لحاظ ئی میدان مطلقاً وګاټه اوپه پوځی او سیاسی اړخ کی ئی هم دپام وړپیشرفت وکړ خو وروستی بری ئی نه دی تر لاسه کړی - کیدای شی هغه ته نوری ستونزی راولاړی کړای شی او دا تر ډیره حده حتمی ده ، که په راتلونکی کی هغه بیا په مشکل کی ولویږی خو خپل دا ګټلی فکری ، اخلاقی پرستیج وساتی ولس به یی یواځی نه پریږدی او ژوند به یی هم دقهرمان وی او شهادت هم . هغه اوس دټول ملت له موضع او رجحان څخه

نمایندګی کوی او باید داحالت وساتی . زماپه نظر زموږ دمسلمانو خلکولپاره دایو مهم او سرنوشت ساز انکشاف دی، البته ددی لپاره نه چی موږد« حکمتیار» له شخصیت سره ددلچسپی په بنا موضوع مطالعه کوو - بلکی پدی خاطرچی داسی یو څوك پیداکیږی چی هغه د« ملی زعامت» په معیارونو پوره ختلای شی، او دتنازع له میدان نه په وتو بریالی کیدای شی او د بلا تنازع ، منبر ته دختو اهلیت په ځان کی راپیداکړای شی ، دازموږ دملت لپاره چی دقیادتونو تعدد او تنازع ډیرکړولی یو بختور پرمختګ دی.

په همدی وجه موږ دټولو بادرده مسلمانو افغانانو مکلفیت ګڼو چی دسلیقی اختلاف ، دفروعاتو اختلاف ، دشخصی ګټو انتخاب او دشخصی خوښ او ناخوښ رجحان یوی خواته کړی او د اسلام او خپل هیواد دعلیاګټو لپاره په دی لار کی له «حکمتیار» سره مرسته وکړی.

ددی ترڅنګ «حکمتیار» صاحب ته هم زموږ مشوره داده چی ځان عملاً له نورو رهبرانو سره دمقایسی او رقابت له میدانه راوباسی ، په وړو اداری او عادی تنظیمی چاروکی له زیات مصروفیت نه حان وزګار کړی،(البته ددی خبری معنی دیوه تنظیم دنقش نفی نه دی بلکی هدف مو شکلی اداری سر ګرمی دی).

خپل زیات وخت دحزب اسلامی په داسی ارتقا ولګوی چی په واقعی معنی زموږ دولس دټولو مسلمانو قشرونو ،رجحانونو او قوتونو ممثل شی، دملت دروزنی ، رشد او رهبری کفایت پیداکړی، په هیواد کی دتفاهم ، اخوت او شرافت دسیاست په ترویج کی نقش ترسره کړی او په تمام عیار ډول دټول ملت او ټولو وطندوستو قوتونو دفکری ،اخلاقی او سیاسی رهبری په محراب کی ودریږی .

اسلام در برابر جهان امروز!

محمد معروف « فروغگر

نهضت اسلامي يا ملت مسلمان ؟ كدام يك ؟

در جهاني كه امروز ما زيست مي كنيم وضعي حاكم است كه همه مواضع قدرت و سياست را تمدن جديد باجزاي ساينس ، تكنالوژي ، علوم مدني ، اجتماعي و فرهنگ و يرانگرش در تسخير خود اورده است ، منطق مسلم زمان ، منطق زور و قدر تنمايي است ، معنويت اكثر مواضع را خالي نموده و مجبور به عقب نشيني وتربله شده است ، ملل سفاك ، خون آشام وحشي ، فاقد فرهنگ انساني و نورمهاي بشري را فتح ميگويند و سازمان ملل (يگانه مرجع حل مسايل و پرابلمهاي ملل جهاني) بحيث كانون تمركز قدرت زور مندان و بحيث آله دست آنها عمل ميكند ، وامروز به چهره خشن نيروي سركوب كننده ملل كوچك و بخصوص جهان اسلام (كه رقيب اصلي كارگردانان آن است)درميدان كارزار عرض اندام نموده است .

طبعيت به ميان آمدن تمدن چشمگير و مسلط مادي و فرهنگ وحشيانه توام بابي بندوباري نيرو هاي ضد اسلامي اين است كه خواهي نخواهي با فرهنگ انسانساز اسلام و نهضت ازادي بخش اسلامي در هر گوشه وكنار جهان به مبارزه برخيزد وحتي المقدور بكوشد آن را از پا در آرد ... به اين معني كه جنگ استكبار جهاني و قلدر غرب (امريكا) با نهضت جهاني اسلام به ويژه در پنج دهه قرن بيستم از ۱۹۵۰- ۱۹۹۲ ديگرمساله و تيزسي نيست كه مقطعي بر آن حساب شود ، بلكه پديده يي است از پديده هاي انكار ناپذير عصر ما ... امروز تمام وسايل مدرن غرب از قلم تا توپ و تفنگ و زن و زور وشراب و هوتل و طياره و كشتي به حركت درآمده است كه موج اسلام خواهي و تيزس جديد انقلابيان نهضت جهاني اسلام را سركوب نموده از پا در آورند اين امر از جمله بديهيات امور است و دلايل آن را روزمره در صدا و سيماي وسايل ارتباط جمعي و ميدياي جهان بوضوع مشاهده و احساس مينماييم ..... انگيزه هايي كه ميتوانند بحيث محرك غرب در امر سركوبي نهضت جهاني اسلامي چون فاكتور بر انها حساب شود ، انگيزه همه گيري دين اسلام و بيداري ملل اسلامي به ضد استكبار جهاني است ، واقعيت است كه اگر در جهان امروز سر نوشت ملل جهاني را اسلام به دست بگيرد به اين همه كشمكشها ومسابقات تسليحاتي خاتمه داده ميشود ، دوران باداري و غلامي ، قوي و ضعيف ، ظالم و مظلوم پايان يافته قانون اسلام با همه يكسان دادرساني ميكند و هر يك را در جايش حقوق قايل ميشود ، نيرو هاي انباشته بشري بسوي تعمير اخوتيكه مدينه فاضله چندين قرنه عالم بشر است بر پله هاي نظم وانسجام به بالا ميرود و انسان رابه معراج انسانيت رسانيده همه معادلات شيطاني بازيگران بر سر نوشت ملت ها رابر هم ميزند و طرحي نويني را پي ريزي ميكند كه ابناي بشر با هم برادر برادر شوند زمين خدا جل جلاله آباد شود و هيچ كس را گزندي بجز كيفر اعمالش نباشد .... در حالي كه غرب اين وضع را به هيچ وجه و هيچ شرط تحمل كرده نميتواند ؛ زيرا : سيادت امروز ملل بزرگ ، عقب ديوار هاي ضخيم فولادي توپ و تانك و تشعشعات آتومي و ذروي و ماشينهاي غولپيكر و بسيار پيچيده اقتصادي سياسي و اجتماعي -و بحران سرسام آور و حشت انگيز اخلاقي موضعي گير نموده است و اسلام ميخواهد كه موانع غير طبيعي از سر راه زندگي انسان برداشته شود- كه در اين صورت به غرب و پيروان آن چيزي باقي نمي ماند -گر چه پيچيدگي سياست اقتصادي و بحران اخلاقي جهان غرب ، عرصه زندگي را برخود آنها نيز تنگتر ساخته است ؛ ولي اميدي دارند كه روزي از عهده حل اين پرابلم بر ايند ، اما شكوفايي نهضت هاي اسلامي و تشكل روز افزون آن در جهان به هيچ وجه قابل قبول غرب شده نميتواند و نه آن استعداد را دارد كه طبق اين جريان عيار شده و يا آن را در جامعه اش امتصاص و جذب نمايد ... در اين جا نكته يي قابل تذكراست كه در اين اواخر برخي از دانشمندان وتيور يسنهاي نهضت اسلامي در جهان سعي بعمل مي آورند كه وحشت جهان غرب از اسلام را بكاهند و به اين سلسله با دانشمندان و رجال سياست آن در تماس شوند ؛ به عقيده من اين كار فايده يي ندارد ، زيرا دانشمندان و رجال سياست غرب در علوم اسلامي مطالعه دارند ، حتي كتب نخبه گان نهضت جهاني اسلام را مطالعه مي كنند

ولي ترس آنهاازاسلام از ناحيه يي نيست که به عوام تبليغ مينمايند وميگويند که امدن اسلام پيوسته است با کشتار و قتل وغارت و قطع دست و پا و پابندي بر ازادي زن و غيره !!! بلکه از تعميم و تنفيذ اسلام و گسترش آن بخاطري در هراس اند که سيادت و باداري و بي بندوباري آنها را جدا با خطر مواجه ميسازد ضابط تقنين را از آنها ميگيرد از هزينه هاي سرخ و سفيد و سيادت آنها را قطع مي کند اداره سياست واخلاق و امور مالي را به کسي ميسپارد که خود جز لاينفك نظام خلافت الهي و اسلامي است لذا دانشمندان موصوف را شايد که به عوض آنها و دربين ملل کفر نفوذ نموده کار و سيع دعوت شان را آغاز کنند ، انشا الله اين کار نتيجه يي خوبي دارد ... طوركه همين پروسه نهضت اسلامي در بيشتر كشور هاي افريقايي و امر يكايي و اروپا يي خيلي موثر وكار گرافتاده است ، حتي در بعضي اين كشور ها امروز و فردا اسلام و مسلمانان بحيث نيرويي عرض اندام مي كنند كه در سياست و اقتصاد آن كشور ها بر آن ها حساب مي شود ... انگيزه لشكر كشي امريكا ومتحدين ۳۵ كشور اش در حوزه خليج و حمله برعراق به خاطر آن نبود كه وي پشتيبان ازادي كويت ومخالف تجاوز عراق بر آن كشور بود بلكه او ميخواست از اين استراتيژي سياسي جنگي چندين هدفرا به دست آرد كه از جمله سر كوبي نهضت اسلامي و قطع شهرگهاي اقتصادي آن بحساب مي آيد ؛ زيرا هر جنگي كه در خاور اسلامي (شرق ميانه) مشتعل ميشود ، تنها يك كشور آن منطقه را متاثر نمي كند ، بلكه ساير اين منطقه را در بر ميگيرد و قرار تحليل مبصرين سياسي جهان اسلام قدرت نيرومند رهبري كننده نهضت اسلامي جهاني و كادر هاي علمي و ورزيده آن در خاور اسلامي اقامت دارند هم چنان اگر امروز امريكا جهت حمله بر ليبيا مقدمه چيني ميكند و بهانه ها ميتراشد ، اساسا مرامش اين نيست كه «قذافي متلون المزاج وعصبي» را سركوب نمايد ، بلكه هدفش نگهداشتن رعبش برنيرو هاي دست خورده و دست نخورده نهضت اسلامي در منطقه است . گذشته از اين همه جريانات مشهود تاريخ ، انتخابات الجزاير پيروزي نهضت اسلامي در انتخابات مذكور به رهبري عباس مدني و سركوبي اين نهضت و پيروزي آن از طرف هواداران و اجيران غرب در ارتش پا خواهد شد كه تاريخ بياد نداشته باشد و سخن از تجزيه افغانستان طوري خواهد گذشت كه در هرولايت و اولسوالي وعلاقه داري يك حكومت تشكيل خواهد شد ....

اگر پرسيده شود كه جلو اين توفانرا چگونه ميتوان گرفت پاسخ اين است كه : سازماندهي ايديلوژيك ميتواند از اين همه زدو بند هاي دشمن جلوگيري كند ، گفتيم « سازماندهي ايديولوژيك » مطلب ما از اين اصطلاح فقط تحقق اصطلاح

> **اگر امروز امريكا جهت حمله بر ليبيا مقدمه چيني ميكند و بهانه ها ميتراشد ، اساسا مرامش اين نيست كه «قذافي متلون المزاج وعصبي» را سركوب نمايد ، بلكه هدفش نگهداشتن رعبش برنيرو هاي دست خورده و دست نخورده نهضت اسلامي در منطقه است.**

و حكومت الجزاير در همين نزديكيهاي وقايع روز از مد نگاه ما گذشت و جريانات دنباله دارش گذشتني است و هنوز جريان دارد ... اگر از اين هم بگذريم تلاشهاي مذبوحانه بنين سيوان يهودي (كه سيزده سال تمام مشاور سياسي ميناخيم بيگن صدر اعظم سابق اسرائيل بود) در رابطه با حل سياسي قضيه افغانستان و پيشنهاد لست پانزده نفري جهت حكومت عبوري افغانستان و سپس تشكيل شوراي پنجاه نفري به رهبري صبغت الله مجددي و تركيب حكومت عبوري و روال كار آن ، آن هم درمدت يك شب غايله يي است كه سوالهاي بسيار خطر ناك را در ذهن ناظران تدعي ميكند نمي خواهم در اين رابطه به بحث بپردازم فقط به اين اكتفا ميكنم كه نتايج سود اين تركيب را همين حالا مي بينيم و اگر در آينده رهبران مجاهد ما از درايت انقلابي و تدبر اسلامي و بيداري سياسي كار نگيرند هرج مرجي در افغانستان بر نيست ، بلكه ميخواهيم نشان بدهيم كه اين سازماندهي نظر به خواسته ها و خاسته هايش ميتواند با هر گونه مشكل عصر مقابله كند و در نتيجه تصادم پيروز گردد ... طور مثال هر سازماندهي تشكيلاتي باخود داشته مي باشد و هر سازماندهي كه نداشته باشد فاقدتشكيلات باشد ، فاقد هر گونه چانش پيشرفت و پيروزي خواهد بود ، در غير آن سازماندهي قادر است در ساير تشكيلاتش بطور مستمري تاثير انقطاع ناپذير داشت درهر آن شاني در آن بمشاهده رسد گفته نميتوانيم كه وسايل و امكانات تاثيري در سازماندهي نداشته ولي نقش آن ، به اندازه يي عميق و كار گرنيست كه اراده وايمان كامل و حسابي اركان و اعضاي آن را تحت الشعاع قرار دهد سازماندهي حكم ميكند كه توام با پيشرفت و تكامل فكري اركان و اعضاي جامعه سازمان يافته در پيشرفت و تكامل امكانات و وسايل مادي نيز بايد

گامهاي متين برداشته شود و بحكم وسيع ، گسترد ، عميق و همه گير» واعدوالهم ماستطعتم من قوه ... »در تمام ساحه هاي اقتصادي ، سياسي ، اجتماعي، اخلاقي و نظامي كه مجموعاً مفهوم (قوه)را ميرساند حتي المقدور كوشيده شود بارقيبان همسري نموده ورفته ،رفته از آنها پيشي گيرد .

شايد اين طرح در نظر حتي اهل نظر ، طرحي سطحي و محصول بافت فكري نو

بياد دارم كه در سال ۱۳۶۵ هنگامي كه به همراهي معاون جريده شهادت آقاي محمد امين فروتن با داكتر اسرار احمد مصاحبه يي داشتيم ، وقتي از وي پرسيده شد كه در رابطه با جهاد افغانستان چه پروگرام داريدو در باره اين جهاد معلومات و نظر شما تا چه اندازه و چگونه است ، چون لب به پاسخ كشودند و معلوماتي پيرامون جهاد افغانستان ايراد فرمودند معلومات شان به اندازه يي سطحي بود كه تو گويي مردي بدوي يي از شاخ افريقا با ما صحبت ميكنند ، چون از ايشان پرسيده شد كه شما چرا در اين جهاد سهم نمي گيريد ؟ گفتند : ما خود در گير مشكلاتي سرسام آور هستيم ، نميتوانيم از ديگران !!! رسيدگي كنيم !

قيقت امر اين است كه اگر واقعا نهضت هاي اسلامي در جهان پلاننگ ونقشه و خريطه درست وحدت ، مودت و اخوت را ميان خود شان داشته باشند درمستقبل قريب اين كار ممكن است ... مثلا ما در جريان جهاد افغانستان اين امر را از نزديك مشاهده كرديم كه اعضاي نهضت هاي اسلام از هر گوشه و كنارجهان در جهاد مالي و جهاد مسلحانه ملت مجاهد افغانستان دوش به دوش شركت نموده ،امروز اكثر اين برادران ما كه در دوران جهاد مسلحانه در افغانستان به شهادت رسيده اند درهمان جامدفون بوده و مزار شان زينت خاك قهرمان پرور افغانستان شده است ..

ضرورت بسيار شديد از اين ناحيه احساس ميشود كه نظر به راي و تحليل اكثر ايديالوگها ، تيوريسن ها و رجال فكر و انديشه نهضت جهاني اسلام ، نهضتهاي اسلامي دراكثر مناطق جهان اسلام نا آگاهانه مصاب به مرض نشناليزم منطقوي شده اند و چون مسايل جهان اسلام مطرح ميشود- به عوض اين كه در رابطه با اوضاع عمومي صحبت كنند و به پاي بحث بنشينند فقط مسايل و مشكلات كشور خود شان را بميان ميكشند ، بدون اين كه در نظر داشته باشند ، كه اگر در باره مسايل ومشكلات جهان اسلام بصورت كل نقشه يي ولايحه يي كارترتيب داده شود و درعمل پياده گردد ، مشكلات منطقوي خود شان نيز حل و فصل مي گردد ... بياد دارم كه در سال ۱۳۶۵ هنگامي كه به همراهي معاون جريده شهادت آقاي محمد امين فروتن با داكتر اسرار احمد مصاحبه يي داشتيم ، وقتي از وي پرسيده شد كه در رابطه با جهاد افغانستان چه پروگرام داريدو در باره اين جهاد معلومات و نظر شما تا چه اندازه و چگونه است ، چون لب به پاسخ كشودند و معلوماتي پيرامون جهاد افغانستان ايراد فرمودند معلومات شان به اندازه يي سطحي بود كه تو گويي مردي بدوي يي از شاخ افريقا با ما صحبت ميكند ، چون از ايشان پرسيده شد كه شما چرا در اين جهاد سهم نمي گيريد ؟ گفتند : ما خود در گير مشكلاتي سرسام آور هستيم ، نميتوانيم از ديگران !!! رسيدگي كنيم !

گفتيم : ما نمي خواهيم كه شما تفنگ به شانه كنيد و به ولايات مرزي افغانستان برويد ، الحمد لله شما دانشمند سر شناس ، انديشمند وآگاه منطقه هستيدو به سطح جهاني اسلام شناخته شده و رهبر يك حزب اسلامي در پاكستان ، فقط تبليغ شما به نفع جهاد افغانستان و دست آورد هاي آن به مردم انصار ما پاكستاني ها كافي است و اگر به كمپهاي متعدد مهاجرين تشريف ببريدو درتنوير اذهان مهاجرين از جديت كار بگيريد و يا وفد هاي تبليغتي تان را به د اخل افغانستان اعزام داريد ، چه مشكلي خواهد داشت ؟! گفتند : من بعد ميكوشم اين كار را بكنم !! و يا استاد محمد قطب برادر كوچك استاد سيد قطب شهيد كه حتي در مجموع خانواده شان در ذخيره بيش بهاي فرهنگ انقلاب اسلامي عموما وانقلاب اسلامي ما خصوصا دست توانا و نفع بخش دارند يك يا دو مرتبه به پيشاور آمد و به همين اكتفا كرد كه فقط يك يا دو بيانيه ايراد نمايد و قس علي هذا ، مصطفي مشهور ، سعيد حوي مرحوم ، احمد محمد محمود صورف زينب الغزالي و آقاي عمر تلمساني مرحوم رهبراخوان المسلمين مصر ، راشد غنوشي ، يوسف قرضاوي ، احمدمغزالي ، حتي به پاكستان هم قدم رنجه نفرمودند ، وبخش شيعي نهضت اسلامي تا حدي بود كه رهبران شان رسما به حكومت پاكستان سفر ميكردند ، ولي اين زحمت را در حق شان روانميداشتند كه رابطه يي با قيادت جهادي ، جزوتامهاي نظامي نهضت اسلامي و كمپهاي مهاجرين داشته باشند گرچه در بيانيه هاي شان ميگفتند كه ما انقلاب را صادر ميكنيم !!

لب لباب مطلب ما این است که جهاد چهارده ساله نهضت اسلامي در افغانستان فرصت خوبي بود براي تشکل هر چه بیشتر نهضت واحد جهاني اسلام ، اگر مجاهدین جماعت اسلامي «گروپ کوچك» میتوانستند پهلوي برادران مجاهد افغاني شان قرار بگیرند ، اگر برادران مجاهد کشمیري ما ظرفیت آن را داشتند که مجاهدین ما را در سنگر هاي همراهي کنند ، بدین ترتیب اگر گروپهاي

اگر مجاهدین جماعت اسلامي «گروپ کوچك» میتوانستند پهلوي برادران مجاهد افغاني شان قرار بگیرند ، اگر برادران مجاهد کشمیري ما ظرفیت آن را داشتند که مجاهدین ما را در سنگر هاي همراهي کنند ، بدین ترتیب اگر گروپهاي کوچکي از اندونزیا ،مالیزیا ، کشور هاي افریقایي عربي وعربي آسیایي استعداد این کار داشتند ، آیا امکان نداشت که در عقب این سنگر ها در داخل افغانستان یك نیروي قیادي جهاني قرار میگرفت و به عوض جزوتامهاي متحد داکتر عبدالله عزام شهید ، جزوتامهاي خیلي نیرومند بین المللي اسلامي با داشتن شوراي نیرومند قیادي وجود میداشت ؟!!

کوچکي از اندونزیا ،مالیزیا ، کشور هاي افریقایي عربي وعربي آسیایي استعداد این کار داشتند ، آیا امکان نداشت که در عقب این سنگر ها در داخل افغانستان یك نیروي قیادي جهاني قرار میگرفت و به عوض جزوتامهاي متحد داکتر عبدالله عزام شهید ، جزوتامهاي خیلي نیرومند بین المللي اسلامي با داشتن شوراي نیرومند قیادي وجود میداشت ؟!! بلي ! ممکن بود ! کاري که باید میشد این بود که صرف نظر از گرایشهاي نشنالستي نهضت اسلامي هر کشور در نقاط مرزي و مرکزي افغانستان اردو گاه هاي تربیتي ونظامي داشته میبودند ، کار سازماندهي تربیت نظامي و تشکیلات قیادي و رهبري داشته میبودند ، این کار از یکطرف در حل پرابلم هاو مسایل اینده جهان اسلام کمك میکرد ، از طرف دیگر نهضت جهاني اسلام از یك نیروي متحد فکري و نظامي بر خوردار میشد و از سوي در وحدت صفوف مجاهدین افغانستان و مراکز قیادي آن موثر واقع میشد .... به هر تقدیر کانونهاي جهادي افغانستان این ذهنیت را با لمشاهده به نهضت هاي اسلامي جهان اسلام داد که بدون داشتن قیادت فکري و رزمي پیروزي بر طاغوت و چیره شدن بر نیرو هاي کفري والحادي غیر ممکن است واز طرفي موجي از آزادي خواهي جهان را در آغوش کشید ... چیزي که باید درآینده صورت بگیرد کاملا مربوط است به پیروزي انقلاب اسلامي در افغانستان .... اگرنیروهاي متعهد نهضت اسلامي درافغانستان با در نظر داشت حساسیت اوضاع و توطیه چیني هاي استکبار جهاني از فراست انقلابي استفاده بردند و متحد و یکپارچه در راه تحقق حکومت اسلامي قدم برداشتند ، امید آن میرود که یك بلاك اسلامي در منطقه و جهان عرض اندام کند و با مرکزیت نیرومندي درافغانستان مرکز تجمع سایر نیرو هاي نهضت اسلامي کشور هاي اسلامي گردد در ان صورت لازم است که در پهلوي کار سازماندهي و دعوت از رجال متخصص شان در پیشرفت علوم عصري و فراگیري ساینس و تکنالوژي مدني و نظامي گامهایي بردارند که غول غرب را باسراسیمگي بیشتر مواجه سازند- البته نوعیت این پیشرفت کاملأفرق خواهد داشت با پیشرفتهاي ساینسي و تکنالوژیك غرب ، زیرا هدف از تکنولوژي و ساینس غرب وسعت طلبي،عظمت طلبي ، دیگران رابه بردگي کشیدن است و هدف ساینس وتکنالوژي نهضت جهاني اسلام از بین بردن این همه ارزشهاي مبتذل ، ویران کننده ووحشتبار و نفرت افزا در کره زمین است .. من معتقدم که جهان اسلام لله الحمد اکنون این ظرفیت را دارد ، ولي شرط هماناست که تذکران رفت سعي نهضت جهاني اسلام بر این نکته باشد که به عوض ناسیونالیزم اسلامي جنبش جهاني اسلام را تشکل انتر ناسیونالیزم ببخشد ، طوري که یگانه اختلاف مولینا ابو الاعلي مودودي رحمة اله علیه با مرحوم محمد علي جناح وابو الکلام ازاد کانگرسي درهمین نکته بود ما باید ملتهاي فکري اسلامي بسازیم به عوض این که مصروف اصلاحات و ریفورمیزم ملي و منطقوي باشیم . انشا الله در این رابطه مقالات مسلسلي در مجله وزین حریت خواهیم داشت و در شماره آینده بر استراتیژي صلح بلاك اسلامي صحبت خواهیم کرد .

«وقاد» دشهامت او اصولیت دسیاست پر لار...

محترم قاضي محمد امین « وقاد » زموږ دجهادي سیاست یو مشهور نوم دی،سنګیني ، حلم او اعتدال ئی دسیاست او کرکټر بارز مشخصات دي،وقاد صاحب چی دکابل دوروستیو انکشافاتو او سیاسي تحولاتو په باب کومه موضع غوره کړی دهغی له مخی په ډیر جرئت قضاوت کولی شو چی هغه دخپلی نظرئی لپاره دیوه لوی موج په مخالف لوري کی ودرید .

ده سیاسي ګټی دجهاد داهدافو او ولس تر مصلحتونو قربان کړی . هغه ټول شور او ځوږ « وقاد » تر تاثیر لاندی رانه وستلای شو چی په جعلي توګه دیوه خاص ګروپ دسوبیالیتوب او قهرماني په عنوان کیده.

« وقاد » دبهرنیو هیوادو ز رورو میلان » متردد نکړای شوای، هغه له هغو ټولو ګیلو او شکوو سره سره چی ورسره دي نه یواځی دحکمتیار دموضع مخالفت ونکړ بلکی بی تفاوته هم پاتی نشو ، سره له دی چی په « حکمتیار» ګوزار په اصطلاح جایزه درلوده او که چاغوښتل چی په واکمن سیاسی او تبلیغاتي چاپیر یال کی نوموړی واخلی نو اسانه لار ئی د« حکمتیار» مخالفت و . وقاد له سیاسي امتیازاتو دبی برخی کیدو او د بهرنیو طاقتونو دنارضایتي خطر ومانه خو په اقتدار کی ئی دکمونیستانو دګډون شدید مخالفت اعلان کړ، له کابله ئی دپخواني رژیم دوسلوالي ملیشی د ایستو غوښتنه وکړه دمجددي صاحب په بښوئیدنو، غلطیو او ماجراجویانه تحرکاتو ئی صریح اعتراض وکړ او دټولو جهادي قوتونو د تفا هم له لاری ئی دقضایاووپر حل ټینګار وکړ.

دوقاد صاحب د« استقلالیت » اعتدال، شهامت او شرافت دی سیاست دهغه پرستیژ دولس په ذهنیتونو او قضاوتونوکی بنه لوړ کړ او داد قاضی صاحب دسیاسي مستقبل ډیره لویه سرمایه ګزاری ده .موږ پداسی حال کی چی وقاد صاحب ته په همدی لار دتلو دادامی توفیق غواړو ، دټولو بادرده مسلمانو افغانانو په تیره « حکمتیار» صاحب چی عملاً ئی دکابل د سازش اودهغه د اثارودمقابلی درجحان اوجبهی قیادت په غاړه دی مسئولیت ګنو چی د وقاد دی معقول حرکت قدر داني وکړي .

****

#######

لــړزوونـکي انــکشافــات

دتیرې یوې میاشتې په خطر ناکو لوبو کې چا،چا کوم ، کوم نقش و لوباوه ؟

د آی اس آی د مشر اخطار ته دحکمتیار ځوابي ګواښ!

دپیښور معاهده دچا ابتکار وه ؟

دکابل په سازش کې دایران لاس!

حزب اسلامی دڅه لپاره مسعود پریښود چې کابل ته ننوځی ؟

د مارچ په ۱۸مه نجیب د لومړي ځل لپاره دا اعلان وکړ چې اقتدار پرېږدي او په راتلونکي حکومت کې هم د څه ونډې اخستلو له دعوا نه تیر دي دغه اعلان هغه مارغه ؤ چې مجاهدینو په ډیر مهارت د ملګرو ملتونو د سازمان د هلو ځلو تر سیوري لاندې جال ورته غوړولي ؤ ، هغه داسې چې مجاهدینو دملګرو ملتو نو د سازمان د پنځه فقره ایزي طرحې په باب دا ټکي اعلان کړچې دغه سازمان که بیا خپله طرحه په نجیب نشي منلي نو حیثیت به یې له خاورو سره برابر شي نو ضروري داده چې لومړي له نجیب نه رسماً دا سند تر لاسه کړي چې اقتدار به پرېږدي وروسته به دپنځه فقره ایزي طرحې په باب خبرې کیږي.

لیدل مو چې د ملګرو ملتو نو د سازمان د پنځه فقره ایز پلان د ځینو ډیرو پاروونکو او دمجاهدینو له ارمان او هدف سره مغایرو ټکو په باب هم ځینو بنیادي او ځواکمنو ګوندونو ډیر سخت اعتراض نه درلود او دغه سازمان یې د ویرې او امید تر منځ ساته او دسازمان له ځانګړې استازي سره یې لید نې کتنې جاري وساتلې .

د خپلې خوښې د حل د تپلو په لارکې بینن سیوان او د هغه سرپرست امریکادد غه هلو ځلو په نتیجه کې بالاخره هماغه سهوه وکړه چې مجاهدینو یې انتظار درلود او د سترګو په رپ کې یې د لوبې لوري واړاوه ، دغه سهوه پر نجیب د دوې فشار ؤ تر څو د استعفا ورکولو اعلان وکړي .

بینن سیوان ویره درلوده چې که نجیب استعفې ته مجبور نکړای شي حیثیت به یې را ټیټ شي او مجاهدین به یې وړاندې کړې پنحه فقره ایزه طرحه ډیره په شدت سره رد کړي .

له بلې خوا د ملګرو ملتو د سازمان مامورینو عقیده درلوده چې د نجیب ددې اعلان له امله د مجاهدینو د پروپاګند تر ټولو زهرجن او خطرناك غشي له اغیزې

لوبړي چي بالاخره به دوي د ملګرو ملتو
نو لخوا تجویز شوي همدغه حل ته غاړه
ایږدي او که مخالفت کوي نو ټوله دنیا به
یي ملا متوي او یوازي به پاتي کیږي
چي په دواړو صورتونو کي به د لودیز
لخوا تجویز شوي حل پر افغانانو بنه په
شور او زور تحمیل وي .

دغه تمي بیځایه نه وي خوکه یي له
وضعیت سره پوره اړخ لګولي یا
دافغانانو د مزاج او طبیعت په آساس
جوړي شوي واي . پیښه داسي شوه چي
کله نجیب د اقتدار د پریښودلو اعلان وکړ
هغه ټول خلك ، مامورین پوځیان او
دوطن گوند غړي چي دده پر شاوخوا را
ټول وو د خپلي بقا په فکر کي شول او له
مجاهدینو سره یي د اړیکو ټینګولو
هڅي پیل کړي ملګرو ملتو نو دا خبره له
یاده ویستلي وه چي دوبیدونکي بیړي
موږکان هم پرېږدي دا خو انسانان وو .

تر ټولو وړاندي د افغانستان په
شمالي ولایتونو کي د ملیشاؤ قوتونه له
احمد شاه مسعود سره په تماس کي شول
چي وروسته دغي لړي دوام وموند او په
ټول هیوادکي دولتي قواو له مجاهدینو
سره اړیکي او لیدني کتني پیل کړي .

په مزارشریف کي"ملیشاؤ د قواو
بغاوت او له نجیب نه دهغوي سرغړونه
ددي سبب شوه چي مجاهدینو د ملګرو
ملتونو دسازمان پنځه فقره ایزه طرحه
ناقصه او دوخت او حالاتو سره نا موافقه
وبلله او دهغي پر ځاي یي بله لنډه طرحه
داسي وړاندي کړه چي د لویي جرګي د
رابللو پر ځاي باید دغیر متنازع افرادو
څخه چي دمجاهدینو د گوندونو لخوا باید
معرفي شي یو عبوري حکومت تشکیل
شي ، دغه حکومت دي له نجیب نه اقتدار
واخلي او د یوه کال دننه باید منتخبه
شوري او حکومت جوړ شي او بیا
دعبوري حکومت اقتدار همغه انتخابي
حکومت ته واك وسپاري . اوس د بینن
سیوان او دهغه انډیوالان په دي وپوهیدل
چي د نجیب د استعفي له اعلان نه
وروسته اوس له دوي سره څه داسي د
فشار او تهدید وسیله نشته چي مجاهدین
ورباندي وویروي له دي نه پرته چي د
عبوري حکومت لپاره له خپله ځانه زر تر
زره څني کسان اعلان کړي ، تر څو
مجاهدین چي اوس یو گام وړاندي راغلي
بیر ته په دفاعي رویه باندي مجبور کړي
. په دي کار کي دوي گټي دوي په نظر
کي درلودي یو دا چي د مجاهدینو پام
ورواړوي او په همدي ربړه کي مصروف
وساتل شي ، له مجاهدینو سره به خبري
اتري رواني وساتل شي او که د پنځو تنو
د نومونو په لاندي باندي کولو سره پدي
عبوري حکومت هغوي موافقه وکړي هم د
ملګرو ملتو سازمان به د ربړي د حل
ابتکار دځان کړ ځولي وي . دوهمه گټه
به یي دا وي چي په دغه لانجه کي به
نجیب ته څه فرصت په لاس ورشي تر څو
له اقتدار نه په تیریدوکي بیړه ونه کړي او
پر لویدیځ او ملګرو ملتونوزیات فشار
رانشي .

دنجیب له رژیم سره دځو تنظیمونو
پټي اړیکي

له دي نه وړاندي د امریکا په اشاره د
ځینو وړوکو گوندونو نمایندگان په پټه د
کابل له رژیم سره د خبرو اترو لپاره کابل
ته ولیږدول شول ، د یوي باخبري سر
چیني په قول د مجددي ، گیلاني او
محمدي د گو ندونو د غړیتوب دغه دعوه
داران دري ورځي په کابل کي پاتي شول
او له نجیب څخه یي د واك تسلیمولو په
باب خبري اتري وکړي .

اصلاً نجیب په دي کار غونښتل له
هرگو ند سره ځانګړي ځانګړي اړیکي
ولري او د دوي تر منځ اختلاف واچوي تر

حکمتیار

څو د ملګرو ملتونو د طرحي په وړاندي د
مجاهدینو د شریك اوځواکمن دریځ
مخنیوي وکړي .

دلته دا خبره هم د یادوني وړ ده چي
له پورتنیودریو وړوکو ډلو نه پرته نجیب
د مجاهدینو له ځواکمنو گوندونو سره هم
رابطه ونیوه او هغوي ته یي هم دا دریځ
اعلان کړ چي اقتدار مجاهدینو ته حواله
کول غواړي ، باید مجاهدین د خبرو اترو
لپاره خپل هیئتونه کابل ته ورواستوي په
ځواب کي د مجاهدینو مشرانو دا پیغام
ورکړ چي نجیب لومړي باید د ملګرو
ملتونو پنځه فقره ایز پلان رد کړي او
برالا اعلان وکړي ، بیا دي خپل یو هیئت
د مجاهدینو په لاس آزادي کومي سیمي
ته ور واستوي او داقتدار د انتقال ټولي
پوري او خبري اتري باید په آزادو سیمو
کي تر سره شي . د مجاهدینو مشرانو د
نجیب پورتني وړاندیز فریب او دوکه بلله
، هغوي دا گڼل چي که دوي کابل ته
هیئت واستوي نجیب به یي تبلیغوي او
دځان په گټه کار تري اخلي ، هغوي په
دي نظر ؤ چي که نجیب په دي پشنهاد
کي مخلص وي نو د ملګرو ملتونو د



استاد ربانی

پلان په ردولو کي باید هیڅ وړ تردید ونه کړي او که هغه دا کار وکړي نو دملګرو ملتونو او امریکا له ملاتړ نه به بي برخي شي.

نجیب هم د مجاهدینو تجویز ونه مانه په دي ډول مجاهدین د نجیب له کلابندي نه وساتل شول او دغه دسیسه ئي ناکامه شوه خو دمجاهدینو ځني مشران دومره بیدار نه وو د ظاهرشاه پلویانو دري ګوندونو خپل نمایندګان کابل ته واستول، له دریو نه دوو تنو مشرانو وروسته بیا ددي هیئت له استولو نه انکار وکړ خو مجددي په دي دلیل انکار ونه کړ چي هغوي ته د نجیب نه داقتدار تسلیمولو لپاره له هغه سره خبرو اترو ته حاضر دي او مخالفت یي نه کوي .

ددري ګوندونو د نمایندګانو کابل ته روانیدلو خبر لویو ګوندونو ته هغو سر چینو ورکړ چي د کابل له رژیم سره دننه کار کوي .

هغو کسانو ددغه هیئت د غړو د ورتګ او بیرته راتګ نیټي د اوسیدو ځاي ، او د شویو خبرو اترو تفصیلي راپور هم دوي ته راواستاوه بیا ددي تصدیق د نجیب د بهرنیو چارو وزیر « وکیل» دالمان دصدارت له مرستیال سره په یوه روغبړ کي هم د بن د کنفرانس له ناکامي نه وروسته جرمني ته دیوه سفر په دوران کي وکړ.

د هلمت کول دغه مرستیال په جرمني کي د مجاهدینو له یوه نماینده سره په ملاقات کي د وکیل د افشا ګریو په باب مجاهدینو ته له نجیب سره د مخامخ خبرو اترو تجویز وړاندي کړ.

د مجاهدینو نوموړي نماینده دغه طرحه ډیره کلکه رد کړه او ټول جریان ئي د خپل ګوند د«قاید» تر غوږه ورساوه . د مجاهدینو مهمو ګوندونو له نجیب سره د داسي ملاقاتو او لیدنو کتنو سره کلک عکس العمل وښود او څرګنده یي کړه چي په دي ډول لیدنو کتنو د مجاهدینو تر منځ د اعتماد فضا خرابیږي چي عواقب به یي ښایي ډیر خطرناک وي . راتلونکیو ورځو له نجیب سره مستقیمو تماسونو نیوونکو ګوندونو هم حس کړه چي په دي کار نجیب د دوي تر منځ مخالفت زیاتوي ، له بلي خوا د دغو اړیکو درلودلو په نتیجه کي ممکن دوي په مهاجرینو کي له محبوبیت او نفوذ څخه بي برخي شي ځکه خو دغه ډرامه هم نوره ونه چلیده .

دنجیب دتیښتی تیاری:

د اپریل په لسمه نجیب یو ځل بیا اعلان وکړ چي که عبوري حکومت جوړ شي که نه د اپریل تر پایه به له اقتداره ګوښه کیږم . دغه اعلان ظاهراً په جینوا کي د ملګروملتو د سازمان د سرمنشي هغه خبري کنفرانس ته د فضا برابرولو لپاره ؤ چي سبا ته «د اپریل په ۱۱ مه» دایریده . په دغه کنفرانس کي پنځلس کسیز کمسیون اعلان شو او پطروس غالي ادعا وکړه چي په دي کسانو ټول ګوندونه او ټول نور اړوند لوري توافق لري .

خو د نجیب دغه اعلان دده د حکومت پاتي ځواك او همت هم له منځه یوړ کوم چي له مجاهدینو سره یي د معاملي لپاره ساتلي ؤ.

له بلي خوا د ملګرو ملتو سازمان عمومي منشي د کمسیون د غړو د اعلان په وخت کي دا قول وکړ چي هغه په دي باب له یوه ګوند سره هم مفاهمه او مشوره ونه کړه ، حکمتیار ، سیاف ، رباني او خالص خو پر ځاي پریږده آن چي د ظاهرشا پلوي واړه ګوندونه یي هم ونه پوښتل او له دغو نومونو او کمسیون څخه ناخبره وو . مجددي له دي اعلان څخه ځان ناخبره وښود او محمدي له یوي بهرني نشراتي اداري سره په مرکه کي دغه اعلان له مجاهدینو سره تیري وباله او شکایت یي وکړ چي له هغه سره په دي اړه څه مشوره نه ده شوي نتیجه یي دا شوه چي د کمسیون له اعلان وروسته د مجاهدینو د ټولو خوا په کلکه رد شو چي په دي ډول یي راتلونکي شکمن شو .د اپریل په ۳۱ مه حکمتیار په پیښور کي په یوه خبري کنفرانس کي دا اعلان وکړ چي زموږ له خوښي پرته هیڅ یو کمسیون افغانستان ته نشي تلاي او نه کوم بهرني قوت ته ددي واك ورکولي شو چي زموږ لپاره واکمن انتخاب کړي .

په جینوا کي د بطروس غالي اعلان دومره ژور انعکاس او اثر درلود چي (٤٨) ساعته وروسته د اپریل په «۱۳مه » بینن سیوان له جینوا نه یوه وضاحتي اعلامیه خپره کړه چي په هغه کي ده اعتراف کړي ؤ چي دده ماموریت او دنده له لستونو څخه د شریکو نومونو راویستلو پوري محدودد دي . نه دا چي حکومت به جوړوي . دحکومت جوړولو کار پخپله د افغانانو دي او دوي د

افغانانو د دغه حق درناوي کوي . بل دا چې هغه ډېر زر پاکستان ته روانیږي تر څو هلته له مجاهدینو او پاکستاني مقاماتو سره د کمسیون د نامزدو کسانو په باب خبري وکړي .

دلته په زړه پوري خبره داده چې د ملګرو ملتونو د کمسیون کوم پنځلس کسان اعلان کړي د هغوي زیاترو له ځواکمنو ګوندونو تماس ونیو او دکمسیون په غونډه کي یې د شریکیدو اجازه تري غوښتله . مجاهدینو هغوي ته ځواب ورکړ چې باید د پاکستان د حکومت په غوښتنه راشي نه د مجاهدینو او په کمسیون کي یې دګډون پریکړه د دوي شخصي نظر ته پرېښودله.

اوس که مجاهدینو له حمایي سره د متبادل حل په څېر دغه کمسیون په کابل کي مسلط شي نودا سوال زیات مهم ږ چې که د نجیب ملګري جنرالان او پوځي ځواک منحل شي بیا به دغه کمسیون پر څو لکو وسله والو مجاهدینو څه ډول تسلط پیدا کوي ؟ څوک به وي چې د کمسیون په دفاع کي ځان پر مجاهدینو ووژني او یا امن او سوله راوستلي شي ؟ دافغانستان دننه خو د داسي ځواك موندل محال وو . دکوم بل هیواد پوځي ځواك راوستل او دلته یې کارول دومره له امکان نه لري وو چې بحث هم وربانديي ځایه ږ، یوازیني لاره دملګروملتو دامن او سولي پوځ دي چې دځنو خلقو په نظر ددغه عبوري دوري د ساتني او امنیت لپاره باید په کار راشي، خو رښه داوه چې د ملګرو ملتونو د امن پوځ یوازي هغو ځایونو ته استول کیداي شي چې دجګړي داړوندو دواړو لوريو توافق ور باندي راغلي وي هلته چې دواړه لوري په اور بند توافق ته رسیدلي وي خو یوازي یو

استاد سیاف

پر بل اعتماد نلري او ملګرو ملتونو ته د پوځي نظارت واك وسپاري د ملګرو ملتونو دسولي پوځ تر اوسه پوري دجګړي دیو لوري پرخلاف د اقدام کوم مثال تر اوسه پوري نشته. بیا دا پوښتنه هم را ولاړیده چې آیا ملګري ملتونه به په داسي وضعیت کي چې پر دغه سازمان ورځ په ورځ د اعتماد او باور فضا ختمیږي وکولي شي چې دمجاهدینو ترمنځ دکومي ډلي پر خلاف له استعمال نه ځان وساتلي شي.

او ددغه سازمان د امن پوځ به نیغ په نیغه دکوم لوري په خواکي ونه دریږي او د هغو مجاهدینو په مقابل کي به ونه دریږي چې روسي امپراتوري یې دړي وړي کړه ؟ د زیاتو مبصرینو نظر داڅ چې د امن پوځونو لپاره فضا مساعده نه ده ځکه چې د یوي خوا هلته وضعیت دومره په تیزي سره تغیر خوري چې هره ورځ ددي احتمال وي چې دنجیب دتیښتي خبر به اوري، د یوي باوري منبع په قول د کابل په هوايي دګر کي یوه الوتکه له پوره ساز او سامان سره د نجیب دتیښتي لپاره تیاره ولاړه ده .

بل داچې تر شلو زرو تنو زیات مجاهدین دکابل تر شاوخوا راتاو دي او همدومره شمیر نور د راتلونکي اوني ترپایه پوري دکابل کمربندونو ته درسیدو په حال کي دي، دوسلو او غذایي موادو ذخیري دپاکستان له سر حد څخه د کابل نژدي ځایونو ته رسیدلي په کابل کي دنجیب دمخالفوپوځیانو شمیر ورځ پر ورځ مخ پر زیاتیدودي ، هغوي له مجاهدینو سره تماسونه نیولي او دنویو پراګرامونو په طرحه کولو لګیادي، دنجیب دتیښتي دمخنیوي لاري چاري سنجول کیږي، دپوځ په هوايي قواو کي مجاهدینو خپلو انډیوالانو ته حکم کړي دي چې که نجیب له هیوا د نه د تیښتي اقدام کاوه الوتکه یې را و غورځوي ، دمجاهدینو ددي تیاري په مقابل کي ملګري ملتونه غواړي چې دوخت تګ سست کړي دنجیب د مخالفو پوځیانو په لاره کي خنډ شي چې له مجاهدینو سره اړیکي ونه نیسي او هغوي کومي درېمي لاري ته و هڅوي ، په تیره بیا هغوي د هغي ډلي مجاهدینو سره بلکل باید اړیکي ونه نیسي چې په تیرو دیارلسو کالوکي زیات فعال او ګرندي وو خو تر اوسه بیا هم د افغانستان لپاره کوم « رفسنجاني » نه دي موندل شوي خود پاکستان په څېر یو تهوبي لاس ته ورغلي چې دخپلي خوښي « حل» او نظام ډولي کابل ته وربانديي ورسوي.

دپاکستان دحکومت عجیبه رویه

دپاکستان دحکومت رویه ډیره عجیبه او حیرانوونکي ده ، په سوچه او ساده وینااوي ته منافقت او دوه مخي ویلي شو، دمجاهدینو له مشرانو سره په خبرو اترو کي پاکستاني مسؤلین وایي چې دملګرو ملتونو مسؤلین احمقان دي، هغوي چې څه کوي کوهي دي ، بالاخره

به هغوي ناكاميږي او پاكستان خو دمجاهدينو ملاتړ دي، دغه مسؤلين د آي اس آي دمسؤل بدلون دخپل اخلاص دليل راوړي، خو ددي اعتراض په وړاندي بيا چوپ شي چي نوي مشر بيا دلوړو مقاماتو له مشوري اوتائيد پرته كله څه پريكړه كولي شي؟

دمجاهدينوبومهم مشر وايي چي دپاكستان له صدر اعظم سره په هر ځل ليدنه كتنه كي دهغه له تجويزونو او طرحو سره پوره توافق اوبي دريغه ملاتړ ثرگندوي خو عملاً يي كړه وړه صفر ښكاري.

بلي خواته د ملگرو ملتونو دسازمان له نماينده سره په ملاقاتونو كي هغوي ته نه يوازي دپاكستان له خوا دبشپړ ملاتړ وعده وركوي بلكي پر مهاجرينو د راشن بندول ، دهغوي تگ راتگ محدودول دخپل بهرني وزارت څخه ددغه سازمان د طرحو په ملاتړ بيان اخستل او تر ټولو تيره بيا نجيب ته دلس زره ټنه غنمو مرستي استولو اقدامات د ثبوت به ځير وړاندي كوي. معلومه نه ده دا سادگي ده كه چالاكي خو داسي محسوسيږي چي پاكستان ... په يوه وخت كي په دواړو آسونو داو وهي اويه دواړو خواو كي دځان شرمولو اسباب برابروي .

دا بايد ووايو چي د اپريل ددوهمي لسيزي په جريان كي په اسلام آباد، پيښور او كابل كي دسياسي او سفارتي فعاليتونو له مخي د افغانستان دتاريخ يونه هيريدونكي تود باب تشكيلوي، د افغانستان دننه نه اټكليدونكو توندو بدلونونو نه يوازي پخواني څلور كلن ركوداو جمود مات كړ بلكي دسياسي او نظامي بدلونونو پخواني ريكارد يي هم مات كړ ، ددي منلو رامنځو په جريان كي د ملگرو ملتو د عمومي منشي ځانگړي استازي بينن سيوان له اسلام باده تر كابله دمنځو رامنځو سره سره اودپاكستان دبهرنيو چارو دبي دريغه ستومانيو نه علاوه داپريل په ۱۶ مه د جمعي په ورځ دنجيب استعفي دملگرو ملتونو طرحه پر اوبو لاهو كړه ، هغه طرحه چي په نتيجه كي به يي په افغانستان كي يوسيكولريستي حكومت منځ ته راتلو.دمجاهدنو د مشرانو ، پاكستاني حكومت اود ملگرو ملتونو دنماينده تر منځ څه وړ خبرو جريان درلود ، دمخالفت اوتوافق تكسي كوم كوم وو، دكابل او اسلام آباد ترمنح څه وړ پيغامونه سره تير او بيرشول ، د افغانستان دننه كوم بدلونونه راغلل او په راتلونكي كي به څه كيږي؟!

جهادي مشرانو ته د حكمتيار اطلاع

راځي په دي باب مفصله څېړنه وكړو:

د اپريل په ۱۲ مه انجنير حكمتيار نورو جهادي مشرانو ته اطلاع وركړه چي كه ددوو ورځو دننه كومه شريكه طرحه وړاندي نه كړي نو حالات به ډير خراب شي، ددي خبر سره سره دوي ورځي وروسته چي دمشرانو كومه غونډه كيده په هغي كي سياف، رباني اوخالص شريك نه شول، په دغه غونډه كي دعبوري شوري لپاره نومونه انتخابيدل ، خو كله چي سباته دبگرام د هوايي ډگر دفتحي خبر خپور شو نو دجهاد مشرانو ټكان وخور او په هوش راغلل. ة

په همدغه ورځ له (۱۲) بجونه وروسته مجددي له حكمتيار صاحب او نورو مشرانو څخه وغوښتل چي دده په

مولوی محمدی

كور كي را غونډ شي ، دغه غونډه دشپي ترناوخته ، پوري روانه وه او كومه نتيجه تري راونه وتله ، مابنام حكمتيار له غونډي نه ووت او پرځاي يي انجنير قطب الدين ته هدايت وركړ چي هلته شريك شي،

د اپريل په ۱٤مه په پيښور كي دمجاهدينو دټولو گوندونو د مشرانو دشيعه ډلو حزب وحدت او حركت اسلامي دنمايندگانو په شمول گډه غونډه وشوه چي خبري اتري پكي گرمي رواني وي، د افغان عبوري حكومت تر اوسه پوري رئيس صبغت الله مجددي په دي ټينگار كاوه چي عبوري حكومت بيرته فعال كړي اويادوي د عبوري شوري د رئيس په حيث ومني، دهغه دريځ داؤ چي دشوري لپاره د غير متنازع كسانو نامزدول بي ځايه دي ، ځكه هغوي ټول دظاهرشاه اجنټان دي او د ظاهر شاه له اجنټانو څخه خو زه « مجددي»ډيردمنلو وړيم ، دهغه دوهم دليل داؤ چي په پخواني عبوري حكومت كي تاسو ټول جهادي مشران وزيران او په حكومت كي شريك وي اوس كه دظاهرشاه اجنټان حكومت واخلي نو تاسوته به په حكومت كي برخه درنه كړي ددي دلايلو دويلو په وخت كي يي دظاهر شاه داجنټانو دغندني په اړه دا هير ووچي

پخپله يې هم (۱۳) کاله دظاهر شاه لپاره له هيڅ ډول خدمت څخه مخ نه دي اړولي خونن يې پر خلاف خوله خوځوي ، هغه داهم هيره کړي وه چې له دي نه وړاندي دمجاهدينو مشرانو دعبوري حکومت په دوران کي په اقتدار کي دنه شريکيدو او دقيادي شوري په څير دحکومت دکړو وړو څارني او لار ښوونې پريکړه کړي وه . مجددي داهم هير کړي وو چې دمجاهدينو دمشرانو په شمول چې کومه عبوري اداره ديوه کال لپاره جوړه شوي وه، څلور کاله يې دوام وکړ او دخپلي بې کفايتي ډير خاپونه يې شاته پريښودل ، بيا هغه په دي هم نه پوهيده چې که نوي عبوري حکومت د اولس د آرزو گانو سره سم له ستونزو څخه بريمن راونه وزي نو د متبادل قيادت په څير بايد جهادي مشران موجود وي تر څو سملاسي چاري سنبال کړي که جهادي رهبران په حکومت کي شامل شي او بيا دغه حکومت ناکاميږي نواولس به بيرته بې ديڅه او ظاهر شاهي گوډاگيانو ته سترگي پرلار شي .

په هر صورت د مجددي خپل دايمي انديوال اودسياسي سفر ملگري پيرگيلاني داځل هم دهغه ددريځ کلك ملاتړ وکړ، استاد رباني اوخالص نيم رضامند وو، خو حزب اسلامي، اتحاد ، دشيعه گانودواړه ډلي اتحاد او حرکت ديته تيار نه و و، تردي چې بيا د اپريل په ۱۵ مه د (۳۵) تنو نومونه وړاندي شول. ، چې دمختلفو گوندونو لخوا دمعرفي شويو کسانو څخه مشترك راووتل.په دي ډله کي پر (۲۸)تنو دټولو اتفاق ؤ پر (۷) تنو بحث جريان درلود دهمدغي ورځي تر ماسپښين پوري پر دغو نومونو باندي اتفاق رانه غي او بحث جريان درلود، په همدي ورځ په يوه خصوصي الوتکه کي دمجاهدينو مشران اسلام آباد ته ورروغوښتل شول ، په دغومشرانو کي سياف ، خالص او حکمتيار نه وو، هغوي خپل خپل نماينده گان ليږلي وو .

له رباني صاحب نه دنوازشريف پوښتنه :

حکمتيار په افغانستان کي د راتلونکو بدلونو په وجه په پيښور کي پاتي کيدل غوره وبلل ،



قاضي حسين احمد

هلته دهيواد دننه احمد شاه مسعود خپلو تر لاس لاندي قوماندانانو ته دمخابري له لاري قومانده ورکوله او بل لوري ته دکابل شاوخوا دحزب اسلامي لويو قوماندانانو استاد فريد، استاد فتح محمد، انجنير طارق اونورو له خپل امير څخه هدايت او قومانده غوښتله ، له دي نه وړاندي د اپريل په ۱۳مه بېنن سيوان کابل ته پټ سفر وکړ او له نجيب سره يې وکتل ،په دي کتنه کي نجيب هغه ته پر ځان دوورځ تر ورځي زياتيدونکي فشار په باب يادونه وکړه او په راتلونکو دوو دريو ورځوکي يې د استعفي ورکولو هيله څرگنده کړه، سيوان دنورو شو ورځو دپاتي کيدو مشوره ورکړه ترڅو په يوه عبوري شوري باندي توافق وشي ، نجيب سيوان ته اشاره ورکړه چې هغه پخوا له دي چې له اقتداره کوز کړاي شي په عزت او آبروکي ځان ويستل غواړي، خو بالاخره هغه دبېنن سيوان د ډير ټينگار په وجه دخپلي استعفي د اعلان څخه د صرفنظروعده ورکړه.

هلته په اسلام آباد کي دمجاهدينو دمشرانو ترمنځ دعبوري شوري دنومونودټاکلو په باب غونډو جريان درلود، په دي کي په حيرانوونکي ډول ځني مشرانوله هغو (۲۸) نومونو څخه هم انکار وکړ چې مخکي پريکړه ورباندي شوي وه، دهغوي په باب نه يوازي پريکړه او اتفاق شوي ؤ بلکي ټولو پردي لاسليك هم کړي ؤ ، لږ او ډير ۱۴ ساعته دغه غونده اوږده شوه چې دجهادي مشرانو نه علاوه صدر اعظم نواز شريف ، د آي اس آي مشر تورن جنرال جاويد ناصر او د بهرنيو چارو وزير مملکت صديق کانجواو د آي اس آي ډگروال طارق هم پکي وو .

دپنجشنبي ورځ د اپريل ۱۷ مه ډيره زياته مهمه وه ، دبېنن سيوان سر گرداني او وارخطايي دننداري وړ وه ، هغه به بيا بيا په غونډه کي شريکيده اوپر نومونويي د سملاسي اتفاق غوښتنه کوله ، خوله حزب اسلامي افغانستان پرته نورو ټولو گوندونو په هغو نومونو هم اعتراضو نه کول چې په پيښور کي يې ورباندي توافق ښودلي ؤ ، ښايي دوي ته به دوضعي دنزاکت اندازه نه وه لگيدلي ، د چارشنبي په مابنام دکانادا تلويزيون دنجيب دناکامي تيښتي او بيا دنيول کيدو خبر نشر ته وسپاره چې دهغه د تصديق لپاره دټولي نړي د اطلاعاتي ادارو خبريالان کابل ته ورسيدل.

دپنجشنبي په غونډه کي د استاد رباني دريځ حيرانوونکي غونډي مبهم ؤښايي هغه به دخپل قوماندان احمد شاه

مسعود نه دڅه پیغام تر لاسه کولو په انتظارکي ؤ ، هغه په همدي انتظار کي وخت تیراوه ، په همدي دوران کي دپاکستان صدر اعظم نواز شريف له استاد رباني نه پوښتنه وکړه چې که په کابل کي څه بدلون راشي او ستاسو دگوند قوماندان پکي شريك وي ستا عکس العمل به څه وي؟

غالباً به نواز شريف اي اس آي په

(استاد فرید)

کابل کي له پيښيدونکو بدلونونو خبر کړي وي . په ځواب کي استاد رباني وويل چي زه به هغه وخت په دي باب دپريکړي تصميم نيسم چي دا کار صورت و نيسي، صدر اعظم يو ځل بيا خپله پوښتنه تکرار کړه او وضاحت يي وغوښت ، رباني صاحب بيا خبره تاَل کړه ا وشاته يي وغورځوله دغو خبرو اترو جريان درلود چي رباني صاحب ته د خپلي نظامي کميټي رئيس انجنير ايوب لخوا تليفون راغي، رباني دتليفون له اوريدو وروسته چي بيرته راوگرځيد په لوړ آواز يي ټولو ته مبارکي ورکړه او وي ويل:

مبارك موشه کابل فتحه شو، زموږ مجاهدينو کابل نيولي دي اوس هلته اسلامي حکومت جوړ شوي دي، ځکه خو نورد عبوري شوري د افرادو په غړو بحث ته څه ضرورت نشته زه ديوڅه ضروري کارونو دسرته رسولو لپاره نور خپل مرکزي دفتر ته ځم .

دايي وويل او دمجلس له تالار نه بهر ته ووت ، خو پوره يونيم ساعت وروسته په همدغه دجهادي مشرانو په غونډه کي شريك او ناخوښ ؤ .

هغه ته غلط خبر ورکړل شوي ؤ ، په کابل کي بدلون راغلي ؤ خو دغه بدلون دنجيب پر ځاي دهغه نظامي شوري د قدرت واگي په لاس کي اخستي وي او احمد شاه مسعود واك نه ؤ تر لاسه کړي .

په غونډه کي بينن سوان يو ځل ډير احساساتي شو له ځايه پورته شو او په لوړآواز يي وويل :

زه حزب اسلامي ته سلام کوم چي دعبوري شوري په باره کي دگډي پريکړي په دريځ لا کلك ولاړ دي .

دکابل تر کودتايي اقدام وروسته دنوي طرحي هڅې

دحزب دريځ داسي ؤ چي په پيښور کي په کومو (۲۸) کسانو اتفاق شوي ؤ له هغو نه دي عبوري شوري او حکومت جوړ شي ، بينن سيوان ويل ماته اوس دغه کسان را وسپاري زه يي کابل ته رسوم .

خو ددي لپاره نور گوندونه تيار نه وو درايو داختلاف په دغه چاپيريال کي چا يوه نوي طرحه داسي وړاندي کړه چي هر گوند دي دوه دوه کسان معرفي کړي چي په هغوکي يو تن قوماندان وي او بل سياستپوه ، په دي ډول به يو کميسيون په کابل کي اقتدارترلاسه کوي، حزب دغه طرحه رد کړه، دحزب نماينده انجنير قطب الدين « هلال» ويل چي دا دمجاهدينو دگډي پريکړي سره مخالف دي په کوم کي چي دا اصولي پريکړه شوي وه چي عبوري انتظاميه به غير متنازعه اوبي طرفه وي او همدغه انتظاميه به انتخابات کوي، چي ورروسته به اکثريتي گوند ته اقتدار حواله کوي .دقطب الدين له دي دريځ سره سملاسي پاکستاني مقاماتو په پيښور کي له حکمتيار سره تماس ونيو او له هغه څخه يي دراتگ غوښتنه وکړه .او په ځانگړي الوتکه کي حکمتيار له پيښور نه اسلام آباد ته ولاړ او دټول وضعيت له درك کولووروسته يي دغوندي دبرخوالو په وړاندي دري طرحي وړاندي کړي.

۱: دکابل دشاوخوا ۳۵ تنو قوماندانانو ته دي عبوري اقتدار وسپارل شي « ددغو قوماندانو دشوري اعلان حکمتيار په همدغه ورځ په پيښور کي کړي چي په دي شوري کي دټولو گوندونو مشهور قوماندانان شامل وو» په دي کي يو ترميم داسي هم کيداي شي چي دکابل د اطراف قوماندانانوته حدود او مقررات توضيح شي، که دکابل دپنځوس کيلومتري ساحي قوماندانان وي او که د (۱۰۰) کيلومتري، ددي بريدنه دننه ټول قوماندانان دي چي قوت ولري په شوري کي شريك شي، او همدغه شوري به دکابل داداري او نظم مسئوليت په غاړه اخلي.

۲: دجهادي مشرانو قيادي شورا دي جوړه شي چي دعبوري حکومت څارنه وکړي او په دغه عبوري حکومت کي دغير متنارع افراد را شريك کړاي شي ،

۳: له هغو(۲۸) کسانو څخه دي نومونه وټاکل شي او عبوري شوري او حکومت دي جوړ شي .

بينن سيوان وويل چي له دي دريو طرحو څخه مو چي په هره يو ه توافق راغي زه دشوري غړي کابل ته رسوم خو

هغه ته دانه وه معلومه چي په کابل کي په اقتدار ورسره شريکوي او که به يي مستقل دوي ته حواله کوي، دجمعي په مابنام دجهادي مشرانوجلسه بيله کومي نتيجي پاي ته ورسيده او دوي ټول هر يو خپل خپل ځاي ته ولاړل .

دخفگان ځاي داو چي هلته دمجاهدنو دسره يو کولو لپاره يو داسي شخصيت نه ؤ ، صدراعظم نواز شريف ،صديق کانجو او د آي اس آي مشر جنرال جاويد ناصر يوه هم ددي اهليت نه درلود چي مجاهدين قانع کړاي شي ، که په دي غونډه کي قاضي حسين احمد او جنرال حميد گل گډون در لود لاي په دي وروستيو شيبو کي هم دکومي معجزي دليدو امکان ؤ ، دباخبرو منابعو په قول صدر اعظم نواز شريف له جنرال حميد گل سره رابطه درلوده خو دځنو مصلحتونو او په تيره دلويديځو مشرانودفشار او تهديد له ويري يي مجلس ته راونه غوښت ، همدغسي تر اخره پوري دقاضي حسين احمد په باب هم دوه زړي ؤ ، هغه په دي نه پوهيده چي قاضي صاحب پر جهادي مشرانو څومره اثر او رسوخ لري دغونډي له ناکامي نه وروسته دوي دا حس کړه اودپيښور په غونډه کي قاضي صاحب رابللي ؤ خو تر دغه وخته پوري له پلونو نه لاندي ډيري او به تيري شوي وي .

هلته له کابل نه پرله پسي او ضد او نقيض خبرونه راتلل، لومړي دنجيب دتيښتي ورپسي يي دنيولو او بيايي د ملگرو ملتونو په دفتر ، فرانسي او يا هند په سفارتخانو کي دپناه اخستلو خبرونه خواره شول .

دکابل په سازش کي د ايران لاس :

په کابل کي دفرانسي سفارتخانه په دارالامان کي دصدارتي ماڼي ترڅنگ ده، ددي خبر په باب په اسلام آباد کي دفرانسوي سفارت څخه پوښتنه وشوه خو چا څه تصديق نه کړه، د فرانس پريس ايجنسي نماينده له کابل نه دنجيب داستعفي خبر تر ټولو دمخه ورکړ، دراتلونکو ورځو لپاره د فرانسي داطلاعاتي اداري (A.F.P) دغه نماينده ټولي نړي ته د خبرونوداستولو ستره ذريعه شو، داسي ولي وو؟ ددي يادونه موږ اوس کوو.

په کابل کي دپوځي شوري له غړونه نبي عظيمي تر ټولو زيات فعال ؤ ، له هغه سره جنرال آصف دلاور - جنرال بابه خان، جنرال رشيد دوستم اوجنرال مومن هم ملگري وو، دوروستيو ذکرشويو دوو جنرالانو قواووپه مزار او کابل کي دهوايي ډگرونو ساتنه او دفاع کوله ، دا بايدواضح کړو چي دغه جنرالان ټول فارسي ويونکي دي دنجيب پر خلاف دپوځي بغاوت کومي څپي چي په کابل کي پورته شوي دهغي نقشه په مزارشريف کي جوړه شوه ، پردي پلان عمل هم له مزار شريف نه پيل شو .

داسي وشول چي داپريل په لومړي اوني کي په پاکستان کي استوگن يو ايراني سفارتکار « نجفي» له يوه هيئت سره د ايران په لاره مزار شريف ته ورسيد، هلته په يوه مهم مجلس کي دنجيب د اقتدار دتختي اړولوپريکړه وشوه ، په دغه مجلس کي له ايراني هيئت پرته جنرال رشيد دوستم چي اوس له نجيب څخه خفه هم ؤ، جنرال نبي عظيمي دکابل ددفاع وزارت مرستيال احمد شاه مسعود او جنرال مومن شريك وو ، له مسعود نه پرته دغونډي نور برخوال دپرچم ډلي دنجيب د مخالفي ډلي غړي وو دوي دپښتو ژبي نجيب مخالف او دتاجك ببرك کارمل پلويان ووچي په گوند کي دننه يي دنجيب دبرتري مخالفت کاوه .

انجینر فیض محمد

په خلق گوند کي دپښتو ژبو کمونستانو اکثريت پرچم ډلي ته دفارسي ژبو لاره ورونبودله - خودنجيب دواك ته رسيدو سره سم هغوي يو ځل بيادبي امني احساس وکړ، پخپله درشيد دوستم دخفگان يو سبب دا گڼي چي نجيب دهغه دورځ په ورځ زياتيدونکي ځواك دمخنيوي او نظارت لپاره خپل يو نژدي ملگري جمعه اڅك پر هغه دپاسه مقرر کړ ، رشيد دوستم پردي کار احتجاج وکړ ، تردي چي نجيب دجمعه اڅك په لري کولو مجبور شوخو په همدي کار دوستم له نجيب څخه مخ واړاوه او له نجيب نه يي دبيلتون اعلان وکړ .

داحمد شاه مسعود سره دغو خلکو هغه وخت تماس ونيو چي دنجيب پخواني ددفاع وزير او دخلق گوند غړي جنرال شاهنواز تني له حکمتيار سره تماس ونيواو پوځي پاڅون يي وکړ، دغه پاڅون ناکام شو خو ژبني عصبيت پالوته يي لاري ور په نخښه کړه .

دتاجك قوم او فارسي ژبو په بنياد رابطي پيل شوي په شمالي افغانستان کي راپيدا شويو دغوڅپو ته ايران تر خپله

وسه هوا ورکړه ، هغوي پخوا تردي دسني او شیعه پر ویش په کابل کي دحکومت جوړولو ناکامي هڅي کړي وي ، په پورتني ذکر شوي غونډه کي احمد شاه مسعود ولي شریك شو؟

آیا هغه هم دتاجك قوم حامي دي؟ دهغوي ترمنځ د اقتدار دشریکولو لپاره څه ورطرحه تر لاس لاندي وه ؟ په دي باب یقیني څه نه شي ویل کیداي.

مسعود دکابل له احتمالي انکشافاتو استاد سیاف خبر کري ؤ :

خود با خبرو منابعو په قول انجنیر مسعود له دغو تماسونو څخه استاد سیاف ته خبر ورکړي ؤ او له هغه نه یي مرسته غوښتي وه ، د استاد سیاف د مرستیال انجنیر احمد شاه په قول چي مسعود موږته وویل چي زه پوځي جنرالان استعمالوم اودمجاهدینو حکومت به جوړوم هغه په دي باب له موږ نه مرسته غوښتي وه .

په ځواب کي دسیاف مرستیال د مشروطي مرستي وعده ورکړي وه او خبر داري یي ورکړي ؤ چي : که ته له دوي سره د برابري په بنیاد اقتدار شریك کړي نو زموږ ټول جهادي شخصیت به پیکه شي، که په اقتدار کي ستا ونډه زیاته او ددوي لږه هم وي ګډ حکومت زموږ ددیارلس کلونو جهاد او قرباني له اهدافو څخه مخالفت دي، او جهاد به مو لکه دار شي او که چیري بیله څه قید او شرطه له رژیم څخه جلا کیږي او دمجاهدینو حکومت ته سلامي کیږي نوموږ ستا ملګري کوو له دي نه پرته موږ له همکاري نه معذور یو .

انجنیر احمد شاه وایي چي مسعود له موږ سره دپرلپسي تماس ا ودنویو اطلاعاتو راکولو وعده وکړه چي تر ننه پوري بیا تر سره نه شوه .

دادیویل استعمالولو په لوبه کي څوك کامیاب شول، راتلونکو ورځوددي ځواب ورکړ په ژبني تعصب له احمد شاه مسعود سره د مرستي په نوم جنرالان موفق شول چي دنجیب رژیم درانسکورولو لپاره دمسعود مرسته تر لاسه کړي او کابل ته ورننوزي، ددوي له کابل ته ننوتلو سره سم احمد شاه مسعود په چاریکارو او جبل سراج حمله وروړه ،دکابل په شمال (۵۰) کیلومتري کي یي دبګرام پر هوایي ډګر فشار راووړ که څه



حقانی

هم دمسعود قواوو له دي نه وړاندي دتګ توان نه در لود ځکه له بګرام نه تر کابل پوري ټوله سیمه په بشپړه توګه دحزب اسلامي « حکمتیار» دمجاهدینوترواك لاندي وه خو د لندو خبرو لړ اوبه دارو وي دنجیب اقتدار ښه جټکه وخوړه او له پخوانه منتظر جنرال نبي عظیمي، جنرال مومن مزار شریف ته واستاوه هلته د رشید دوستم وسلوالي ملیشاوي کابل ته دتګ لپاره تیاري وي ، په همدي شپه دبي بي سي رادیو له خولي په ۱۵) الوتکو کي نژدي شپږ سوه تنه ملیشیان دکابل دخواجه رواش په هوایي ډګر کوز شول ، هغوي سمدستي دهوایي اډي دساتني اودفاع لپاره مورچلونه ونیول ، ددوستم ګلم جم ملیشاکابل ته رسیدلي وه او دنجیب له لاسه نوره لوبه وتلي وه ،

نجیب ته دمخالفو جنرالانو تر قوماندي لاندي ملیشو پر هوایي ډګر دکنترول اطلاع دامنیت دولتي وزارت « واد » وزیر جنرال یعقوبي ورکړ، نجیب هغه زر تر زره دخواجه رواش هوایي ډګر ته واستاوه او دیوي الوتکي دتیارولو امر یي ورته وکړ جنرال یعقوبي له خپل مرستیال سره هوایي ډګر ته ورغي او الوتکه یي وغوښتله ، ملیشودهغه دحکم له منلو نه انکار وکړ ، جنرال یعقوبي مقاومت وکړ چي بیا جنرال مومن هغه په ګولیو وویشت او وي واژه، دهغه مرستیال یي ټپي کړ، هلته ددفاع وزیر اسلم وطنجار دتاجکو کمونستانو دزیات اقتدار پر خلاف احتجاج وکړاوغوښتل یي چي نجیب له کابل نه وباسي نو هغه یي هم په ګولیو ټپي کړ او روغتون ته یي واستاوه

داټوله کار روایي بیڼن سوان دیوه ناتوانه شخص په څیر لیدله خوله نجیب سره یي ددوستي په پاس کابل پرینښود، پر نویو واکمنو یي پرلپسي زور واچاوه تزڅونجیب له کابل نه وباسي کوم چي تر اوسه پوري یي د ملګرو ملتوپه دفتر کي پناه اخیستي وه دملګرو ملتو دسولي پلان له خاورو سره برابر شو ي ؤ خو بیڼن سوان اوس هم دخپل وجود پر اظهار ټینګار ا و شله ګي کوله ، په حقیقت کي دنجیب له اقتدار ه، غور ځیدلو سره په کابل کي یو ژور تحول را غلي ؤ چي په هغي کي ترټولو زیات اثر پر پاکستان غورځیده، بدلون داؤ چي جنرال عظیمي او مسعود دایران دحکومت په هلو ځلو پرکابل قبضه وکړه او د افغان جهاد په

تاریخ کي یې دلومړي ځل لپاره دسفارتي معاملاتو دابتکارمرکز له اسلام آباد څخه تهران ته نقل کړ، په اسلام آباد کي دمسئلي له کړکیچن توب څخه ناخبره واکمن، له ملګرو ملتو څخه په ویره کي د بهرنیوچارو وزارت او دآي اس آي نوي او بي خبره مشران د افغانانو له طبعیت سره دسمي پریکړي له کولو نه بشپړ پاتي راغلل ، د اپریل په ۱۵ او ۱٦ مه چي په

احمدشاه مسعود

اسلام آباد کي کومي غونډي وشوي په هغي کي دپاکستانیانو لپا ره هیڅ موقف نه ؤ ، هغوي مجاهدینو ته یوازي داتحاد او اتفاق خبري کولي او له دي خبري نه ناخبره وو چي له دي نه وړاندي به دمجاهدینو د اکثریت ډلو رایه په ټولو منل کیدله او پاکستان به یوه منځني لاره انتخابوله ، هسي هم بېنن سیوان له پاکستان نه د ابتکار واګي پخوا اخستي وي او پاکستان بیله څه فکر او دقت څخه د ملګرو ملتونو دسازمان د طرحي په ملاتړ ډلهوري غرزولي.

دضیاء الحق تر وخته پوري دمجاهدینو مشرانو ته د پاکستان رویه مجتهدانه وه، دمقتدي پاکستان خو هغوي هیڅ تصور نه شو کولای چي بیا په داسي چا پسي اقتداچي داتیر (۱٤) کاله مجاهدینو هیڅ اعتنا هم نه ورته درلوده .بله مهمه معامله چي دلته له پامه غور ځیدلي وه دکابل نیول وو.دکابل لاندي کول دډهول افغانستان دفتحي کولو په معني وو، پردي حقیقت به نور څوک پوهیدل او که نه خو مجاهدین او دکابل مزدور رژیم پردي ښه پوه وو ، ځکه خو نجیب له خپلي استعفي څخه دري ورځي وړاندي پاکستاني مقاماتو ته ددغه بدلون خبر ورکړ په دي تمه چي شاید دوي کومه حل لاره وباسي.

خودځینو منابعو په قول پاکستاني مقاماتو دغه خبر له ځانه سره وساته او جهادي مشرانو ته یي اطلاع ورنه کړه ، حال دا چي دا یي دمجاهدینو په اتحاد کي دفشار د وسیلي په حیث کارولي شواي .

دچارشنبي په ورځ ایران رادیو اعلان وکړ چي نجیب تښتیدلي دي خودفرانس پرنس آژانس نماینده بیاپه کابل کي دنجیب پر موجودیت اصرار درلود .دځنو منابعو په قول د « AFP » نماینده په کابل کي له ډیر فکر او دقت نه وروسته تاکل شویدي.دپنجشیر دري احمد شاه مسعود له فرانسویانو سره پخواني اړیکي درلودي او دغه اړیکي دومره مهمي او ژوري وي چي څو کاله وړاندي په یوه ځانګړي موکه مسعود له پنجشیر نه ټول هغه عربان و ایستل چي دجهاد او مجاهدنو د خدمت لپاره هلته ورغلي وو حتو فرانسویان یي بیاهم پرېښودل او وېي نه ویستل.

مسعود له خپل تنظیم « جمعیت اسلامي» څخه بیل په فرانسه کي خپل ځانګړي دفترونه پرانیستل ، له فرانسویانو سره دهغه په ډیرو نژدي روابطو ځني کسان دا ګومان هم کوي چي په کابل کي له تاجکو جنرالانو او دنجیب له مخالفینو سره دمسعوددارتباطو په ټینګولوکي دفرانسي سفارت خورا مهم رول لوبولي دي چي دصدارت له ماڼي سره نژدي والي اود عصري تخنیکي او جاسوسي وسایلو په درلودلو سره یي تل دجمهوري ریاست په منځ کي فعالیتونه تر نظارت او څارني لاندي وو، د فرانسپرس آژانس دنماینده ساتل په کابل کي ددي سبب وو چي دهغه له خوا مخابره شوي د مسعود د فعالیتونو په رابطه خبرونو ته به ډیر اهمیت ورکول کیده او ډیر اوچت به تبلیغیدل ، له بلي خوابه له مسعود سره دادفرانسي دنږدي رابطي او دوستي دلیل هم ؤ ، هلته چي دایران د انقلاب زیاترو مشرانو د جلا وطني او ږده کالونه تیر کړي او د ایران د اوسني انقلابي حکومت له زیاترو څواکمنو افرادو سره هم ژوري اړیکي لري.

ایراني حکومت دغه لوبه ډیره په مهارت سره پر مخ یووړه چي دمسعود او عظیمي په ځیرو کي یي لوبغاړي په لاس کي لویدلي وو، او دوي هم دذي مثلث یوه څنډه وو ، خوله دوي نه هم په دغه معامله کي یوه تیروتنه وشوه ....

داپریل په ۱۷ ه د جمعي په ورځ د ایران دپاسداران انقلاب یوي ډلي ځوتنه پیلوټان له ځانه سره واخیستل چي دیوي منبع په قول (۲۰) تنه پیلوټان پکي وو دهرات او فراه په پوله دشینډنډ هوایي ډګر ته ورسیدل له غه ځایه یي دوي الوتکي والوزولي او په مشهد کي را ښکته شول، د ایرانیانو ددغه دسیسي او مداخلي په وجه ځني جهادي مشران حیران شول ، تر اوسه ئي په دي قضیه کي د ایران د حکومت دومره ستره لاسوهنه نه تصور کوله ځکه خو سمدستي دایراني سیاست ستر انتقادکوونکي مولوي یونس خالص دګوند دووتنو

مشهورو قوماندانانو مولوي جلال الدين خقاني او عبد الحق دحکمتیار ددریځ دملاتړ اعلان کړ .د اپریل د ۱۸ مي هفتي په ورځ ددغه اعلان نه دري ورځي وړاندي دکابل دړژیم دبهرنیو چارو وزیر وکیل په الوتکه کي چاریکارو ته له سفر وروسته دمشبتوخبرو اترو اعلان کړي ؤ ، وکیل پخپل خبري کانفرانس کي چي په کابل کي يي ورکړدي ته اشاره وکړه چي له نوي حکومت سره دمسعود ملاتړ شته ، او دکابل ددفاع لپاره به د افغان پوځ او ملیشاؤ ترځنګ دمسعود مجاهدین هم وي له (٤٨) ساعتو تیریدو وروسته هم دغه خبر دچا لخوا رد نه شو .

دکابل دفاع .... خوله چا څخه ؟ !

دمسعود او نبي عظيمي پلان :

هوکي ! دحکمتیار ،،،سیاف او نبي محمدي دحملو په مقابل کي د رباني قوماندان مسعود خپلو ګروپونو ته د کابل پر شاو خواد امنیتي کمر بندونو جوړولوامر ورکړ، یو نوي ماتم پیلیدونکي ؤ، دکابل نوي انتظامیي په ډیرمهارت او چالاکي مجاهدین له مجاهدینو سره په ټکر وروستل .

هلته د اسلام آباد خبرو اترو له ناکامي وروسته یو حل بیا دیکشنبي په شپه په پیښور کي مشران راغونډ شول .

صدر اعظم نواز شریف داخل قاضي حسین احمد له ځانه سره راوستلي ؤ حکمتیار دهغتي د سهار په څلورو بجو افغانستان ته تللي ؤ ، دهغه دراوستلولپاره یي یوه هلیکوپټر پاراچنار ته ور واستوله خو هغه له راتګ څخه معذرت وغوښت او انجنیر قطب الدين هلال ته يي له پوره صلاحیت سره په غونډه کي دشریکیدو هدایت ورکړ، د عبوري شوري دنوموړتعیین لپاره دسهار تر څلورو بجو پوري غونډي دوام وکړ خودخبرو تر پاي ته رسیدو وروسته کومه اعلامیه خپره نه شوه . دنجیب له تخت چپه کولو وروسته دپلان سره سم دمسعود مجاهدین باید کابل ته ننوتلي او دښار دامنیت او اداري په برخه کي یي له پوځ او ملیشو سره مرسته کړي واي خو دکابل پر شاوخوا دحزب اسلامي مجاهدین مسلط وو ددي خنډ د لري کولو لپاره مسعود خپل ورور ته هدایت ورکړ چي له

قطب الدين هلال

قاضي حسین احمد سره وګوري، دپنجشنبي په شپه داپریل په ۱٦ مه دغه ملاقات وشو.مسعود کابل ته درسیدو دلاري غوښتنه کړي وه ، له دي نه وړاندي هغه همدغسي یو شکایتي پیغام مجددي ته استولي ؤ چي په هغه کي یي دحزب له رویي نه ګیله کړي وه ، خود مسعود ګیله بیځایه وه ، هغه پخپله په دي ښه پوهیده چي دجهاد یو مهم روایت یي پخپله مات کړي دي، اوس له حزب اسلامي نه ددوهم اصل دماتولو غوښتنه کوي، هغه هم په داسي حال کي چي دکابل رژیم تر اوسه دیوه طرف په حیث پیژني ، چي یابه جګړه ورسره کیږي او یابه مجاهدینو ته بي قید اوشرطه تسلیمیږي ، له هغوي سره د اقتدار شریکول ممکن نه وو، جنرال شهنواز تني ددي یومثال ؤ ، هغه دنجیب پر خلاف بغاوت وکړ او بیابي ځان بیله شرطه حکمتیار ته تسلیم کړ ، خوددي اصل پر خلاف دنبي عظیمي او مسعود تر منځ د اقتدار مساوي شریکول وو، دنوي انتظامیي له لومړنیو فرمانونو څخه یو داهم ؤ چي مجاهدین بي وسلي کولي شي ښارته ننوزي، دادمجاهدینو لپاره سپکاوي ؤ له دښمن سره جګړه او یا دهغه بي قیداو شرطه له تسلیمي پرته له هغوي سره دواك شریکول د ۱۳ کلن جهاد له روایت او اصولو څخه کلك مخالفت ؤ.

دجهاد بل اصل چي مسعود هم ښه وریاندي خبرؤ داؤ چي په تیرو کلونو کي په مختلفو سیمو کي دخپلو سیمو قوماندانانوقبضه درلوده ، داد جهاد یو منلي اصل ؤ چي دیوي سیمي قوماندان بلي سیمي ته مجاهدین نه ورننه ویستل مګر په لاندي صورتونو کي:

۱:ترڅوبه چي پخوا دمجاهدینو دورتګ موافقه نه وي شوي.

۲: دسیمي له مجاهدینو سره په ګوه ددښمن پر خلاف دګډي حملي دپلان لپاره

۳: دیوه قوماندان په مرکز دقوي حملي په وخت کي دمرستي دګروپونو دغوښتني په صورت کي .

٤: که دجګړي په وخت کي مجاهدین له خپلي سیمي څخه ددښمن له لاسه په وتو مجبور شول هغوي به په بله سمه کي اوسیدل ، له دي پورتنیو صورتو نو څخه پرته دبل قوماندان سیمي ته ورننوتل دهغه سره دجګړي په معني وو، که څه هم مسعود خوشو ځله په شمالي ولایاتو کي دنورو زیاتو قوماندانانو پر سیمو پخواهم ورغلي ؤ خو دلته وضعیت بلکل

بل ډول ؤ .

دحزب اسلامي شل زره تنو روزل شویو اوازمویل شویو مجاهدینو له کلونو کلونو راپه دي خوا کابل کلابند کړي ؤ .

دکابل په ولسوالیو کي له جملي نه په شپږو ولسوالیو کي حزب اسلامي بشپړ تسلط درلوده، په دغو ولسوالیو کي جنوب ختیځ ته دبگرامیوولسوالي ، جنوب ته دچار آسیا ولسوالي ، شمال ختیځ ته دده سبز شمال ته دشکردري ، لویدیځ ته دپغمان ، جنوب لویدیځ ته د چاردهي، شمال ته د قره باغ او ختیځ ته دسروبي ولسوالي دي .

په سروبي کي دمولوي خالص دگوند قوماندان عبد الحق او په پغمان

اوچاردهي کي داتحاد اسلامي هم زیات مجاهدین شته، په چاردهي کي د افغان پوځ اتم فرقه رشیخور هم ده چي حزب اسلامي زیات نفوذ پکي لري.

دحزب اسلامي له مجاهدینو سره دکابل دبدلونوپه باب له څه مشوري پرته له هغوي نه د لاري غوښتل دجهاد له روایاتو مخالف کار ؤ څکه هغو قوماندانانو مسعود ته پیغام واستاوه چي په خپله سیمه کي پر ځاي پاتي شي، پرکابل دعملیاتو لپاره دوي کافي مجاهدین لري، که بیا وروسته دمرستي ضرورت ؤ نو مسعود به راوغواړي .کابل ته د مسعود ځنډدي سبب شو چي وکیل په چاریکارو کي له مسعود سره و گوري ،له بیرته را گرځیدلو نه وروسته د وکیل لهجه دحکمتیار په باب تونده وه هغه اعلان وکړ چي حکمتیار به کابل ته ننوتلو ته پري نږدي او که حمله وکړي نو سخت ځواب به وويني، د وکیل له دي بیان نه وروسته د ۲٤ ساعتو په موده کي په پیښور کي د افغان قونسلگري مسؤل ډیره پاروونکي اعلامیه خپره کړه:

«موږته ددي ضرورت نشته چي په پاکستان کي دغله په څیر اوسیدونکي حکمتیار سره تماس ونیسو.»

دغه دواړه اعلامیي دیوي دقیقي اوسنجول شوي طرحي له مخي خپري شوي، فضاپه ډیره توندي خړه پړه شوه ترڅو دحزب اسلامي مجاهدین وپاربږي او پرکابل حمله وکړي اوبیا دحزب او مسعود دجگړي په څیر تبلیغ شي ، تر اوسه پوري دداسي نښتي مخهٔ ډیرو خیر غوښتونکو په هلو ځلو اومنډو رامندونیولي شوي وه .

دافغان قونسلگري مشر ابراهیمي او وکیل ته داسه معلومه وه چي کابل دمجاهدینو دحملي مخه نه شي نیولي، خوددغي ډرامي لوبول دکابل په دفاع کي دمسعود مجاهدین له حکمتیار سره دجنگولو لپاره وو چي که یوځل دغه اور لگیدلي واي نو لمبي به یي ډیر زر په ټول افغانستان کي غځیدلي .

دحالاتو ځني کتونکي په دي عقیده دي چي ددي مرحلي له ناکامي نه وروسته به دکابل واکمن مسعود په هلیکوپتر کي راولي او دکابل اقتدار به ورته سپاري . مسعود به دمجاهدینو دحکومت له اعلان سره سم له ټولو خلکو نه وغواړي چي وسلي په ځمکه کیږدي ، چي دا صورت به زیاترو مجاهدینو ته د منلو وړ نه وي اودتاجك او پښتون پر بنیاد به یوه خطرناکه جگړه پیل شي، نسل پال عناصر دغه ربړي ته په دي وینا ښه زور ورکوي چي همدا دپښتنو د دوه سوه کلني واکمني دختمولو ښه زرینه موکه ده او باید گټه تري پورته کړاي شي.

حال داچي په تیرو دیارلسو کلونو جهادي دوران کي د افغانستان هر قوم او ټبر«پښتون ، تاجك ...ازبك ...» یوشان بي دریغه قرباني ورکړي، دقوم پرستي ددغه زهرو په خوړولو کي دکابل له رژیم نه علاوه هغه ایران هم شریك دي چي واني د سني او شیعه پر بیلتون خوښ نه دي .

د افغان او تاجك په جگړه کي هغه کمونستان ځانونه ساتلي شي چي دا تیر دیارلس کاله دولس په وژنو کي دنورو دلاس آله شوي وو.

داحمد شاه مسعود دواك ته رسولو لپاره د امریکا دلچسپي له دي نه ښه تره حرگندیږي چي داپریل په (۲۰)مه دامریکا د بهرنیو چارو په وزارت کي دافغانستان دامورو څارونکي یو افسر په خپل بیان کي څرگنده کړه په هغه بیان کي نوموړي دمسعود د حتمي اقتدار ته رسیدلو ادعا وکړه . پوښتنه داده چي دالویه به ترکومه پوري روانه وي ، داسي ونه شي چي مسعود به دکابل په تخت کیني او نور مجاهدین به یي پرخلاف و دریږي ترهغو پوري چي یاخو د افغانستان دویشلو پړاو راورسیږي او یا دیوي هیبتناکي اوخونړي جگړي سبب شي چي بیا یوهم په زور درامخي ته کیدو توان ونه لري او بیا د ظاهر شاه او دهغه

دملاتړ و د اقتدار ته راوستلو ترتيبات ونيول شي .

دوطن گوند اختلافونه :

داپريل په ۲٤ مه په څلورو بجو دکابل د رياست مرستيال جنرال رفيع په لوگر کي له انجنير حکمتيار سره وليدل ، ددې ملاقات له موضوع او نتيجې نه وړاندې لازمه بولو چې دکابل دننه دواکمن گوند« وطن » داختلافونو په باب لږ رناواچوو.

له حکمتيار سره د رفيع دخبرو اترو نه وړاندې دکابل انتظاميه په دوو ځواکمنو ډلوويشل شوې وه ، په دې ويش کې گوند ، پوځ ، حکومت او مليشې ټول شامل وو .له زياتو کړکيچونو سره يې له تعارف نه وړاندې هغوی په دووبرالاگروپونو ويشل شوي وو ، لومړۍ ډله هغه وه چې دگوند دننه يې کودتاوکړه ، نجيب يې استعفې ته مجبور کړ او اقتدارې تر لاسه کړ، په هغې ډله کې دکابل دگارنيزيون قوماندان نبي عظيمي، جنرال مومن چې مليشې يې دکابل دهوايي ډگرپرساتلو موظفې وې، دجوزجاني مليشو قوماندان جنرال رشيد دوستم، جنرال آصف دلاور، جنرال بابه جان، اودبهرنيو چارو وزير وکيل شامل ؤ ، دا همدغه ډله وه چې دنجيب له استعفې نه وروسته يې په کابل کې په رسمي ډول واك په لاس کې واخيست خود پردې شاته اصل قوت دمحمود بريالي چې دببرك کارمل ورور دي اوفريد مزدك چې زيات ځواکمن او دنفوذ خاوند دي په لاس کې ؤ. دوی دپخواني مشر ببرك کارمل طرفداران وو، دغې ډلې داقتدار ترلاسه کولونه وروسته درې څلور داسې کارونه وکړل چې پر خلاف يې دکرکې څپې را پورته شوې ، يو دا چې په اداري امورو کې يې حکومت له پامه وغورځاوه او دگوند پر بر لاسي کولو يې لاس پوري کړ. ټول فرمانونه دوطن گوند لخوا جاري کيدل او په رسمي دول يې اعلان کيده ددې نتيجه دا شوه چې دحکومت خلك له دوی نه زړه توري شول ، بل حرکت يې داؤ چې دځانونو دموقعيت دځواکمن کولو په خاطر يې له مزار شريف نه دجنرال دوستم مليشه او داحمد شاه مسعود مجاهدين دکابل او هوايي ډگرددفاع لپاره راوړل، ددوی ددې حرکت سره سم دحکومت مامورين پوځيان او دپوليسو قواوي «څارندوي» زيات په غوسه شول ، د مليشياقواوي په چوکونو او سرکاري دفترونو کې راښکاره شوې، دغې ډلې د افغانستان په تاريخ کې دلومړي ځل لپاره داسې حرکت پيل کړ چې په نتيجه کې يې د افغانستان د ويشلو خطر وو او هغه داچې دتاجك او پښتون مسئله يې راپورته کړه .

دکابل دړژيم دتعميراتو دوزير ډاکتر فقير محمد په قول دغه مسئله اصلاً وطن گوند راپورته کړه او غوښتل يې په دې ډول خپل اقتدار مضبوط کړي، همدغه دتاجك پښتون پرنباد دوی له مسعود سره تماس ونيو او هغه ته يې دکابل د اقتداردشريکيدو پيشنهاد وکړ، په حقيقت کې دغه پيشنهاد يو جال ؤ چې مسعودپکې ايسار شو، ددوی نظر داؤ چې مسعود دخپل اقتدار دتقويې لپاره استعمال کړي، دهغه مجاهدين به دکابل په دفاع وگوماري له يوی خوابه دهغوځواکونو له مرستې نه بې نيازه شي چې دوی يې ځواکمنولاې شواي خو ددوی پلويان نه وو له بلې خوا به مسعود دمجاهدينو له هغو ډلو سره په جگړه

نواز شریف

کښې ښکيل کړي چې اصلي ځواك لري، او په افغانستان کې سوچه اسلامي نظام جوړول غواړي، چې په دې چل کې تر ډيره پورې کامياب هم شول.

دباوري خبري منابعو په قول چې کله مسعود ته داقتدار وړانديز وشو نو هغه دې خبرې ته اشاره وکړه چې زه دبرهان الدين رباني دجمعيت اسلامي گوند نه منم او که په کابل تسلط پيداکړي نوبڅپله چې واك په لاس کې واخلي او پورتني شپږ کسه به چې نومونه يې ذکر شول له کارمل پرته په واك کښې شريکوي، هغه ويل چې کارمل زيات بدنام شويدي هغه به مزار شريف ته ولاړ شي.

عبدالوکيل ته دا ويل شوي وو چې دمسعود له اقتدار ته رسيدو سره سم به لومړي دبهرنيو چاروزير وکيل وي، بناي همدا وجه به وه چې وکيل دمسعود په ملاترځمکه او آسمان سره يو کړل. له دې وضعيت رامنځته کيدو نه وړاندې نجيب يوبل کار کړي ؤ هغه له استعفې نه وړاندې دنبي عظيمي اونورو جنرالانو دغه تجويز منلي ؤ چې جوزجاني مليشه بايد کابل ته راوغوښتل شي ځکه خو په (۱۱) الوتنو کې (۵٦۰) تنه مليشيان کابل ته راغلل او پر هوايي ډگر راديو تلويزيون استيشن اونورومهمو ځايونو

حاجی قدیر

کي يې سنگرونه ونيول ، له دې سره يوځاى نجيب خپل څلور واړه مرستيالان عاطف، رفيع، عبدالحميد محتاط او عبدالواحد سرابي بر طرف کړل، دې څلورو واړو دبرطرفي له فرمان صادرولو وروسته يې خپله استعفي وليکله او بينن سيوان ته يې خبر ورکړ .

دشپې په دوو بجو هغه هوايي ډگر ته روان شو ، دبينن سيوان او ملگروملتودنوروماموربنو نظر داو چې دنجيب وتل افغانستان دکورني جگړې اورته ورتيل وهي هلته دنجيب مخالفينوته هم شيبه په شيبه راپوروته ورکول کيدل، دلته داسې حالات رامنځ ته شول چې دځو ډلوگټې په دې کبني سره شريکي شوې چې نجيب بايد له کابل نه ونه تيښتي ، يو خبر داهم دې چې بينن سيوان دنجيب مخالفو جنرالانو ته خبرورکړ چې نجيب راوگرځوي په دې کار به افغانستان دخونړي جگړې ډگرشي نجيب له يوې خوا دغه اورته دلمن وهلو په منظور له شمال نه دجوزجاني مليشي دراوستو فرمان ورکړ « که څه هم دا فرمان ليکسنه ؤ شفاهي ؤ » له بلې خوا يې دپکتيا اوکندهار پښتنوته احوال ورکړ چې له شمال نه ازبک اوتاجک دکابل دلاندې کولوپه هڅه کې دي، تاسو هم دکابل دنيولو لپاره راشي - چې وروسته بيا پر ما داتور پورې نه کړې چې سره له دې چې پښتون وې موږدې له دې حال نه خبر نه کړو.

له دې ټول وضعيت نه دڅنو باخبرو حلقو نظر داؤ چې يوازې نجيب کولې شي دجگړې دپيښيدومخه ونيسي نو بايد هغه راوگرځول شي، کله چې نجيب هوايي ډگرته ولاړ په لاره کې دگاڼ دخاص لوا قوماندان رزاق هغه ودرواوه او پوښتنه يې ترې وکړه چې چيرته ځې، نجيب ورته ووېل چې زه له هيواده بهرته ځم يو سفر لرم، قوماندان رزاق ورته ووېل چې موږته ستاسو رسمي امر په دې هکله نه دې راغلې، نجيب ورته ووېل زه دادې اوس رسمي خبر درکوم، هغه ورته ووېل چې زه يې داسې نه شم منلې تاسو مهرباني وکړې بيرته ستون شې، تاسو زموږ جمهور رئيس ياست رسماً موږ ته دخپل سفر هدايت وکړې ترڅو موږ ستادساتنې لپاره لازم امنيتي تدابير ونيسو کوم چې ديوه هيواد دمشر له شانه سره برابر وي ، له هغه نه وروسته تاسو بهر ته تلاى شې، نجيب وپوهيده چې دهغه دراگرځولو لپاره ټوله انتظاميه فعاله شوې ده څکه هغه بيرته راوگرځيدخود جمهوري رياست مانۍ پرځاى دملگرو ملتونو دنمايندگۍ دفتر ته ولاړ.

ديوې ډيرې باورې منبع دخبر له مخې نجيب له کابل نه دوتلو له اقدام نه دمخه د« واد »وزير يعقوبي اوددغه وزارت دنظامي څانگې دمسئول جنرال*باقي په واسطه معلم عمر چې دهمدغه وزارت ديوې حساسې شعبې سرپرست ؤوواژه ، دهغه دوژلو سبب داؤ چې هغه دنجيب له ډيرو رازونو څخه خبر ؤ او ويريده چې هغه دبين المللي مجرم په حيث دمحاکمې ميز ته راکش نه شي نويې دوژلو امر ورکړ، نجيب وروسته دملگرو ملتونو دفتر ته پناه يووړه چې دوروستيو اطلاعاتو له مخې تر اوسه همالته دې.

داپريل په ۲۳ مه ملي شوري غونډه وکړه - په دې شورې کې د نجيب دغه احکام وړاندې شول چې څلور واړه مرستيالان يې بر طرف کړې وو دشورې رئيس محمود حبيبي دغه فرمانونه غونډې ته وړاندې کړل، چې په بشپړ اتفاق بيرته مسترد شول دنجيب احکام غير قانوني وبلل شول، په همدغه ورځ په کابل کې دا آوازه هم گرمه شوه چې نجيب له کابل نه وتلې دې او بينن سيوان هغه له ځانه سره بيولې دې خوپه حقيقت کې داسې نه وو.

له حکمتيار سره د جنرال رفيع ملاقات :

له نجيب نه وروسته دنبې عظيمي اونورو ملگرو يې اقتدار ته له رسيدو وروسته دجمهوري رياست مرستيال رفيع له نورومرستيالانو سره مشوره وکړه چې بايد له حکمتيار سره خبرې اترې وشي، له هغه سره په دې نظر کې ددفاع وزير اسلم وطنجار او دکورنيو چارو وزير رازمحمد پکتين هم ملگرې وو بالاخره دوى دا پريکړه وکړه ، چې له حکمتيار سره خبرې وکړې اوبيا داپريل په ۲۴ مه داملاقات کابل ته نژدې په لوگر کې وشو .

ددغه ملاقات اصلي محور دوى خبرې وې يو دا چې تاسوپرکابل حمله مه کوى په دې به دکابل ښاريانو ته زيات مالي او ځاني تاوانونه واوړي ، دوهم داچې تاسودمجاهدينو يو گډحکومت جوړ کړې او موږ« دکابل رژيم » به هغه ته واک وسپارو.

دحکمتيار خبره داوه چي دکابل انتقال اقتدار لپاره د ټولو ګوندونو دشريك حکومت پيشنهاد ضروري نه دي ځکه دوي اټکل نشو کولي چي داسي اتفاقي حکومت به کله جوړيږي ، خوڅت په توندي روان دي چي دنوړانتظار فرصت نشته . نو ځکه دزر تر زره يو ګړندي اقدام ضرورت دي چي حالات سنبال کړي .

لومړي داچي کابل ته رابللي شوي، ددوستم مليشا ، دجنرال مومن مليشه او دمسعود مجاهدين بيرته وباسي ترڅو دمجاهدينو شريك حکومت په بشپړ ډاډ په کابل کي اقتدار تر لاسه کړي که دي ته تيار نه وي نو بيا دکابل اقتداردکابل دقوماندانانو شوري ته وسپاري هغه شوري ته چي دکابل اودکابل داطرافو ټول قوماندانان دټولو ګوندونو به پکي وي، دوي به عبوري حکومت جوړوي او په لومړنيو شپږومياشتو کي به دجمهوري رياست انتخابات کوي اوپه راتلونکو شپږو مياشتو کي به بيا دشوري لپاره انتخابات کوي .

دکابل دقوماندانانو شوري به دهر ولايت دقوماندانانو له شوري څخه دوه دوه تنه قوماندانان هم په خپله شوري کي واخلي په دي ډول به دکابل عبوري اداره دټول هيواد له نمايندګانو څخه جوړه وي چي په لومړي سرکي به دا دري کارونه تر سره کوي .

۱- دجګړي بندول
۲- دعامي بخښني اعلان
۳- دټول هيودا دوسله والو مجاهدينو کابل ته دننوتلو مخنيوي ترڅوګډوډوي اواړودوړ جوړ نه شي .

جنرال رفيع ويل چي هغه اصولاً له دي دواړو خبرو سره توافق لري خو دغور اوفکر لپاره لږ فرصت غواړي چي ايا له کابل څخه مليشه ايستلي شي که نه ،رفيع چي بيرته کابل ته ستون شو سمدستي يي له عاطف سره وکتل هغه ته يي دخبرو اترو ټول تفصيل واوراوه ، بيايي ورته وويل چي دمليشو دراغوښتلو فرمان يي ولي جاري کړي دي خو عاطف کلك انکار وکړ چي داکار ما نه دي کړي اونه اوس مليشي بيرته زه ايستلي شم، رفيع په دي ټينګار کاوه چي دحکمتيار دا اعتراض پر ځاي دي او بايد ځواب ورکړ شي.درفيع اوحکمتيار دملاقات په رابطه د اپريل په ۲٤ ماښام ديوي اعلاميي لوستل تر پروګرام لاندي ووخو ددي لپاره دا کار ونشو چي رفيع او ملګري يي په دي نظر وو چي ددي اعلاميي له نشر سره سم به مخالف ګروپ عکس العمل وښيي چي په نتيجه کي به کابل دکورني جګړي ډګر شي، رفيع ددفاع او کورنيو چارو وزارت په ټولو کارکوونکو وسلي وويشلي او هغوي ته يي هدايت ورکړ چي هر ځوك دنظم اخلال کوي له منځه يي يوسي.حکمتيار رفيع ته وويل چي: موږ يوه نيته ټاکو چي داپريل ۲٦ مه ديکشنې ورځ ده. که تردغي نيټي پوري دغه قوتونه له کابل څخه ونه وتل موږ به په زور په کابل ورننه وزو. داپريل په ۲۳ مه بينن سيوان مزار شريف ته ولاړ هلته يي له مسعود سره ملاقات وکړ او هغه يي له دي ټولو بدلونونو څخه خبر کړ - له حکمتيار سره تر ملاقات وروسته رفيع دکابل دبهرنيو چارو وزارت په تالار کي يو خبري کنفرانس راوغوښت هغه په دغه کنفرانس کي له حکمتيار سره دخپلو خبرو تفصيل واوراوه ، دغه کنفرانس دکابل تلويزيون هم خپورکړ. په حيرانوونکي ډول دلويديځو خبريالانو زياتره پوښتني دمسعود په محور راڅرخيدي دهغه يوه هم له دي سره څه دلچسپي نه ښوده چي داخبري څه وړ دي ، دڅه لپاره وي او څه نتيجه تري راووتله او بالاخره په افغانستان کي به دجګړي دپاي ته رسيدو په لار کي څومره موثري وي، دهغوي پوښتني پرلپسي داوي چي ايا دادمسعود دبهرپريښودلو لپاره کومه دسيسه نه ده؟ اياالحمدشاه مسعود ته په دي باب خبر ورکړل شوي دي؟او داسي نوري ...

جنرال رفيع له حکمتيار نه سخته دفاع وکړه او ويي ويل چي هغه يو ډير وطن دوست سړي دي او دا (۱٤) کاله دهغه پر خلاف شوي پروپاګند او تبليغات ټول دروغ او غلط دي، درفيع له دي خبري کنفرانس نه وروسته د نبي عظيمي مخالف خو تيت پرك ځواکونه پر رفيع راټول شول، په هغوي کي دخلق ګوند غړي ټول شامل وو، دپرچم ګوند هغه ډله

چي دببرك کارمل ا و محمود بريالي مخالف وو هم وو دريم دخارندوي قوت اونور هغه پوځي او نيم پوځي ځواکونه چي پوهيدل مليشاورباندي حاکمه کړاي شويده ، څلورمه ډله دګوند دننه دنژادي تعصب پر بنياد را پاريدلي او دپښتو

پر بنیادیي ، دحکمتیار ملاتړته ترجیح ورکوله ، دزیاتو مبصرینو نظر دادي چې دلساني اونژادي تعصب راولاړولو مسئلي مسعود ته تاوان ورساوه او حزب اسلامي ګټه وکړه ځکه دنسلي او ژبني دغي فتني

شفق یاد

ټول مخالفین چې غوښتل یې ددي اور مخه ونیسي ټول په یو ځل راپورته شول او ددي فتني پر خلاف د حکمتیار تر څنګ ودریدل ځکه حزب دتاجك او پښتون دمسئلي سخت مخالف دي، له بلي خوا دتاجکو دحاکمیت مخالفان هم له حزب اسلامي سره وذریدل ، دهغوي نظر دادي چې ددي مشکل حل یوازي همدادي چې دحزب دریځ کلك اوپیاوړی شي کارمل ددغي وضعي له درك کولو سره سم د اپریل په ۲۵ مه مزار شریف ته ولاړ ، له دغي نیټي نه دوي اوني وړاندي ببرك کارمل یو ځل په کابل کي له سخت سپکاوي سره مخ شو کله چې دجمعي په ورځ دوزیر اکبرخان میني جومات ته دلمانځه اداکولولپاره ولاړ نو هلته چې خلکو ولید ده په موجودیت کي یې له لمانځه کولونه انکار و کړ او هغه ته یې وویل چې زر تر زره له جومات نه بیرته ووزي ځکه دي کافر دي او له کافر سره دمسلمان لمونځ هم خرابیږي - هغه جومات نه ووت او یوه بل جومات ته ولاړ خو هلته هم له همداسي وضعي سره مخامخ شو په ډیول هغه ښه له سپکاوي سره مخ شو.

هلته د جنرال رفیع او ملګرو یې دا رایه وه چې داپریل له ۲٦ مي نیټي وروسته د حزب اسلامي دمجاهدینو دحملي مقابله نشو کولي نو غوره داده چې ښار حزب اسلامي ته تسلیم کړي ځکه دادمجاهدینو تر ټولو ستره او منظمه ډله ده چې کولي شي دښار امنیت وساتي، په کابل کي دپوځ اونورو ښاریانو څخه هم دپوښتنو په ترځ کي نظر واخستل شو.

زیاترو داویل دا دنبي عظیمي او دهغه ملګرو فتنه ده چې غواړي کابل ښار په کنډوالو بدل کړي نوباید داسي یو ځواك راپیداشي چې دوي تار اومار کړي دټولورایه همداوه چې که څه هم حکمتیار ډیر سخت ګیر سړي دي خو دکابل لپاره اوس یو داسي سړي ته ضرورت دي چې اداره یې کړاي شي.داحیرانوونکي خبره ده ځکه په کابل کي دفارسي ژبو اوسیدونکو شمیر نږدي نیمایي دي بیا دوي چې دژبي اونژاد له دایري څخه لوړ فکر کوي نو ډیره غوره خبره ده .

درفیع له خبري کنفرانس نه وروسته ښار په حیرانوونکي ډول آرام شو، دخوراکي موادو نرخونه راولویدل- همدغسي دښار دوکانونه دشپي تر ډیره وخته پوري خلاص پاتي وو دکابل تلویزیون دمختلفو خلکو مرکي نشر کړي ، هغوي ټولوله ملیشي نه شکایت درلود چې ملیشیان نه یوازي له خلکو نه پیسي او ساعتونه اخلي بلکي موټر ټیتوي اونور قیمتي سامان په زور لوټوي ، هغوي یوازي داپریل په ۲٤ مه په یوه ورځ کي پنځوس عرادي موټر له خلکو نه په زور واخستل په دي کي سرکاري موټر هم شامل وو دتعمیراتو وزیر وایي چې دوه موټر یې دده مربوط وزارت څخه هم اخستي وو،له دي ملیشیانو سره پترول او ډیزل نه وونو سرك ته به وختل او چې موټر به یې ولید هغه به یې په زور واخست او پکي سپاره به شول بیا به یې چیرته پریښود او یابه یې له ځانه سره ساته .

جنرال رفیع په خپل خبري کنفرانس کي وویل چې له حکمتیار سره یې په کتنه کي هغه داطرحي وړاندي کړي او دوي یې له دواړو سره توافق لري، دتیرو (۲۰) کالو را په دیخوا دالومړي ځل ؤ چې دکابل له تلویزیون څخه دحکمتیار نوم په ډیر درناوي اخستل کیده په کابل کي دبدل وضعیت په بنا په پاکستان کي دګوندونو مشرانو دحزب اسلامي په غیاب کي دیوي شوري دجوړیدو اعلان وکړ، په هغي کي یې دحزب اسلامي راضي کول ضروري ونه بلل، هغوي ددي شوري له جوړیدو سره سم په کابل کي د اقتدار تر لاسه کولو هیله حرګنده کړه ددوي دغه هیله دکابل دبهرنیو چاروزیر وکیل په یوه خبري کنفرانس کي ښه استقبال کړه اودغه شوري ته یې دحکومت دواك ورلیږدولو اعلان وکړ، حال داچې په اصولي ډول وکیل ددي صلاحیت نه درلود هغه په حکومتي معاملو کي له یوه لاسلیك پرته نور هیڅ واك نه درلود - هغه په دي کار دکابل داوضاع ګډوډول او دنوي ځواکمن ګروپ په وړاندي ستونزي راولاړول غوښتل کوم چې مخکي یې له حزب سره اړیکي نیولي دي او دکابل اقتدار یې ورته سپارل غوښتل .

دوکیل خبري کنفرانس وضعیت نورهم بي باوره کړ په دي کار هغو افغاني مشرانو ته نوره طمعه هم پیدا شوه چې

غوستل يې دعبوري دورې پر ځاي ددايمي واکمني تاج پر سر کړي.

پـه پيښور کې دمشرانو بيړه دحکمتيار او مسعود مخابروي خبري :

ديوه باوري منبع په قول په پيښور کي جهادي مشرانو ځکه ډيره عاجله عبوري شوري جوړه کړه چي له کابل نه دوي ته داخبر ورکړل شوي ؤ چي که تر هفتي پوري عبوري شوري په کابل کي اقتدار تر لاسه نه کړي نو حالات به بلکل بدل شي او دکابل ځواکمن گروپ غواړي کابل دمجاهدينو يوه ځواکمن گوند ته وسپاري ،

همدغه ويره وه چي دپيښورجهادي مشران يې بيړي ته اړ کړل اوبي له دي چي دحکمتيارتائيد دشوري په اړه تر لاسه کړي هغوي عجالتاً يوه عبوري(٥١) کسيزه شوري جوړه کړه.

دحزب نظر داؤ چي دمجاهدينو دگوندونو پرځاي عبوري حکومت بايد له غير متنازعه کسانو څخه جوړ شي چي انتخابات وکړي او انتخابي حکومت رامنځ ته شي.دابه يو عبوري حکومت وي چي وروسته به ځاي انتخابي حکومت ته پريږدي نه دپيښور دعبوري حکومت په څير چي بيايي څوك له واکه نه کوزيږي .

حکمتيار له جنرال رفيع سره په کتنه کي هم دغه خبره کړي وه چي موږ اقتدارنه غواړو ، که افغان ولس درايو په واسطه په موږ اعتماد وکړ نواقتدار به تر لاسه کوو،که نه چي ولس په هر چا اعتماد وکړ حکومت دي واخلي.

دهغه په نظر په عبوري حکومت کي نه بايد مشران برخه واخلي او نه دهغوي نږدي خپلوان،ځکه که داسي وشي بيابه دجمهوري اوخلکو دخوښي نظام په

راتلوکي خنډ جوړ شي او همدغه دعبوري دورې واکمن به زيار باسي چي دايمي پاتي شي .

داپريل په ٢٤ مه درشيد دوستم زر تنه نور مليشيان هم کابل ته راوړل شول او دهوايي ډگر کنترول يې په لاس کي واخست په همدغه ورځ دقاضي حسين احمد دهلو ځلو په نتيجه کي انجنير حکمتيار او مسعود دمخابري له لاري يو له بل سره خبري وکړي، احمدشاه مسعود په دي ټينگار کاوه چي حکمتيار بايدپيښور ته لاړ شي او هلته دعبوري شوري اوحکومت په تشکيل کي له نورو مشرانو سره شريك شي، بل داچي هغه په دي هم اصرار کاوه چي پرکابل دحملي ضرورت نشته او که څوك حمله کوي نوموږ به يې په مخه کي ولاړ يو. مسعود دانتخاباتوپه کولو هم توافق ښکاره کړ څرگنده يې کړه که نور څوك نه وي نو اقلاً بايدحزب اوجمعيت انتخابات وکړي .

خو په ځواب کي حکمتيار ورته وويل چي دکابل دفاع بايد اصلاً دمليشياوکمونستو حواکونو څخه وشي، ځکه هغوي په کابل کي لوټ او وحشت پيل کړي دي، حکمتيارمسعو ته داهم وويل چي که ستا مجاهدين د مليشه يانو په دفاع کي ووژل شي نه به دخداي (ج) او اولس په وړاندي څه ځواب وايي، ددي پرځاي خو لازمه داوه چي ته له مجاهدينو سره يو ځاي شوي واي او دمليشو پرمرکزونودي په عملياتو کي برخه اخستي واي، مسعود وويل چي ماددي هڅه وکړه چي له استاد فريد او استاد فتح محمد سره تماس ونيسم خو هغوي حاضرنه شول - حکمتيار وويل چي دهغوي نه حاضريدل هم تاته ددي

جوازنشي برابرولي چي له دښمن سره يو ځاي شي.

دحکمتيار ديوه بل اعتراض په ځواب

انجينيرطارق

کي چي ولي يې له نبي عظيمي او دوستم سره اتحادکړي دي مسعود وويل چي داکار ماله خپلو مشرانو څخه زده کړي، دهغه اشاره دجنرال تني كودتاته وه چي له ناکامي ورروسته يې حزب ته پنا يووړه. خو حکمتيار په ځواب کي وويل چي تني خو پر نجيب بمباري وکړه او وروسته يې بي له څه قيد اوشرطه حزب ته پناه راوړه خو هلته ستاسووضعيت بيابيل اود اقتدار دتساوي پر بنياددي، تاله داسي چاسره اتحاد کړي چي هغه نه يوازي پر کابل تسلط لري بلکي دمجاهدينوسره دي دجنگولو دسيسي هم جوړوي خو بالاخره دغه مخابروي خبري اتري بي له کومي مثبتي نتيجي پاي ته ورسيدي.

کابل ښار ته دحزب اسلامي دمجاهدينو ننوتل

داپريل په ٢٥ مه دحزب اسلامي مجاهدين دکابل ښار ته ننوتل ، دکابل په ښار کي هغوي پرته له څه ديادوني ورمقاومته دجمهوري رياست دماڼي په شمول په ډيرومهمو دولتي ځايونو دفتحي بيرغونه ورپول، همدارنگه دمسعود

مجاهدین هم که ګلم جم ملیشو سره یو ځای په ښار کي راښکاره شول دهمدغي ورځي په ماښام ځلور نیمو بجو حکمتیار له کابل نه په مخابره په پیښور کي یوه خبري کنفرانس ته وینا وکړه ، په فارسي ژبه‌دغه کنفرانس ترجماني په انګریزي نواب سلیم کوله ، انجنیر حکمتیارووېل چي زه نن دتاریخي ورځي مبارکي ټولو مجاهدینو ، مسلمان ملت او دنړي مسلمانانو ته وایم، دا یوه ستره ورځ وه چي موږ له اوږدي مودي نه ورته سترګي پر لاره وو .زه د الله تعالي ډېر شکر ګزاریم چي دکابل مزدور رژیم بشپړ رانسکوراوجګړه پای ته ورسیده په دي تاریخي فتحه کي ټولو جهادي ځواکونوبرخه واخسته او ددي عظیم جهاد ویاړ د افغان غیرتي ولس حق دي چي په تیرو دیارلسو کلونو کي یې هر راز ستونزي او ناخوالي په ورین تندي ومنلي حکمتیار زیاته کړه چي زه ددي اعلان کوم چي د الله تعالي په فضل سره جګړه پای ته رسیدلي او اوس باید دهیواد ټول ځواکونه په یووالي سره دهیواددنظم او آبادي لپاره یوبل ته لاس ورکړي .

انجنیر حکمتیار دپیښور دنوي تشکیل شوي عبوري شوري په باب ووېل چي نور هغي ته ضرورت نشته چي دلته اقتدار تسلیم کړي په یاد باید و لرو چي په پیښور کي په عاجله توګه یو یوپنځوس کسیزه‌کمیسیون د صبغت الله مجددي په مشري جوړ شوي ؤ چي له هرګوند څخه به پنځه کسان ورمعرفي کیدل دغه کمیسیون به ددوو میاشتو لپاره په کابل کي یوه عبوري اداره جوړوي ، له دي نه وروسته به د څلورو میاشتو لپاره بیا یو عبوري حکومت ته واک سپارل کیږي چي مشر به یې برهان الدین رباني او صدراعظم به یې حکمتیار او یا دهغه دګوند غړي وي ، په عبوري اداره کي دفاع وزارت انجنیر مسعود ته ورکړل شوي ؤ، خو انجنیر حکمتیار دیو پنځوس کسیز کمیسون دوه میاشتني اقتدار بي ګټي او بي وخته و ګاڼه او دوي ویل چي باید سملاسي عبوري حکومت په کار پیل وکړي چي تر راتلونکي یوه کاله پوري انتخابات وکړي او واك یوه منتخب اسلامي حکومت ته وسپاري .

په کابل دحکمتیار دمجاهدینو قبضه په بهر او داخل کي له ډول ډول عکس العمل سره‌مخ شوه، دکابل ښاریانو دحزب مجاهدین دګلونو په شیندلو استقبال کړل، خودملیشو لخوا ورو ورو دهغوي په وړاندي دجګړي اور بل شو.

استاد فتح محمد

چي داپریل په ۲۶ مه یې دبالا حصار ،شاه شهید ، کارته نو ، چهلستون په سخته بمباري لمبي نوري هم اوچتي شوي دهمدغي ورځي په مازدیګردشینډنډ له هوایي ډګر نه دحزب اسلامي تر قوماندي لاندي الوتکي راپورته شوي دمزار شریف ددهدادي هوایي ډګر ، بګرام او خواجه رواش یې کلك بمبارد کړل چي تر لسو زیاتي جنګي هغه الوتکي چي ملیشیانو دحزب اسلامي دمرکزونو اودښاردجنوبي څندو په بمباري کي کار تري اخیستې ویجاړي شوي. دشینډنډو له هوایي ډګرنه دالوتکو را الوتلو او په مزار شریف او بګرام باندي بمباري په هوایي قواوو کي دحزب برتري ثابته کړه.

داپریل په (۲۷) مه صبغت الله مجددي دعبوري کمیسیون له ۱۸ تنو سره دځمکي له لاري کابل ته روان شول، هغوي په تورخم کي دآي ،اس، آيّ مشر جاوید ناصر رخصت کړل خو دصبغت الله د استقبال لپاره دپولي نه وړاندي هیڅوك هم نه وو، یوازي دننګرهار والي حاجي عبد القدیر ثمرخیلوته له دوه موټرو کسانو سره راغلي ؤ چي بیا دجلال آباد له ښار څخه هم بیله څه خاصو مراسمو تیر شو، صبغت الله مجددي د جلال آباد په ښار کي په وینا کي په دیره ستوغه لهجه له حکمتیار نه سرټکونه وکړه او ویې ویل چي هغه باید له ملت نه بخښنه وغواړي. مجددي دوروستیو جګړو مسؤل حکمتیار وباله .

دآي اس آي دمشر اخطار او دحکمتیار حوابي ګواښ .

دکابل کوڅي په وینو ورنګیدلي ،د۱۹۷۹ کال د اپریل له ۲۷ څخه بیاد ۱۹۹۲ داپریل تر ۲۶ مي پوري د افغانسان ترټولو آرام ښاراوس دجهاد هغه پور پري کاوه چي نور افغانستان مخکي پري کړي ؤ په تیرو دیارلسو کلونو کي له کابل نه پرته نور ټول افغانستان ناکراره ؤ دمجددي ،ملیشو ، مسعود او وطن ګوند ترمنځ دغه ګډ حکومت چي پاکستاني صدر اعظم او وزیر خارجه هم تري قربان او صدقه کیدل دمجاهدینو دتجویز شوي شوري له پریکړو څخه هم ښکاره سرغړوني پیل کړي دهغي شورا چي دنواز شریف حکومت او دسعودي او امریکایي

فشار په نتیجه کي جوړه شوي وه ځیني حلقي پر دي حیراني اخستي دي چي دپاکستان حکومت دومره لویه خبره هم درك نه کړاي شوه چي دکوم حکومت طرحه دپیښور په غونډه کي پاس شوي وه هغه نه وه کومه چي دمجددي له ورتګه وروسته په کابل کي جوړ شوي ؤ ، په پیښور کي دمجاهدینو دنماینده حکومت د تشکیل طرحه جوړه شوي وه خومجددي صاحب په کابل کي دملیشا ،وطن ګوند دکارمل له ډلي سره شریك حکومت جوړ کړ ، چي له حکمتیار پرته دچاهیڅ ګومان هم نه ؤ چي داسي به کیږي، دپاس شوي طرحي پر خلاف اقدام په اړه پاکستاني حکومت باید داعتراض غږ-اوچت کړي واي نه داچي صدر اعظم دمبارکي لپاره کابل ته تللي واي .

دځنو اړخونو نظر دادي چي داناخبري نه وه چي نواز شریف یې کابل ته ور ورساوه بلکی داټول دیوی پلان شوی طرحی له مخی عملاً په مخ ولاړل ، ددی حلقو دعوه داده چی مجددی کابل ته دتګ لپاره آماده نه ؤ هغه دحزب اسلامی دمجاهدینو لخوا کلابند کابل ته دتګ خطرنشو قبلولی، دپاکستانی حکومت په هدایت او دآی اس آی لخوا دمجبوری له مخی دې کارته چمتو شو، هلته یی له رسیدو سره سم نه یوازی دوطن ګوند له شپږو تنو، جنرال نبی عظیمی، جنرال بابه خان، وکیل ، فرید مزدك ، جنرال آصف دلاور او محمود بریالی سره ګډ حکومت جوړ کړ بلکی پورتنی کسان یی د هغی د (٥١) کسیزی شوری په غړیتو ب هم ومنل چی یوازی دمجاهدینودحکومت جوړولو لپاره تشکیل شوی وه .

پاکستانیو واکمنو داخبره هم له نظره وغورځوله چی مجددی په رسمی ډول

چارگل نشاد

عبدالرحیم عاطف دکابل حکومت دصدر « په وروستیو وختونو کی دجمهوری ریاست سر پرست وټاکل شو» څخه اقتدار تر لاسه نه کړ، رسماً خو باید عاطف له خپلو نورو مرستیالانو سره استعفی کړی وای او مجددی بیا لوړه پورته کړی وای ، خو داسی ونه شول اومجددی په دی اله ګوله کی له ځانه سره لوړه پورته کړه - هغه ته دکابل واك دجنرال نبی عظیمی لخوا هدیه شو چی دډېنی تعصب په سر یی له احمد شاه مسعود سره لاس یو کړ ددی مغلوبه حکومت دجوړیدو او دهغی دمنځ ته راتلو پر لاملونو له بحث نه وړاندی غوره داده چی د اپریل په ٢٥ می نیتی پر پیښور او دکابل د فتحی دسترګو لیدلیو کیسو په باب څه ووایو ، ددی خبری پیل د اپریل په ١٥ مه د رهبرانو غونډی ته رسیږی ، په کومه غونډه کی چی حکمتیار ته جاوید ناصر د آی اس آی مشر اخطار ورکړ چی که داطرحه ونه منی چی له هر ګوند څخه دی دوه دوه تنه شوری ته معرفی شی نومور به له تاسره سم لاس ګریوان شو او بل داچی ته تر هغو پوری له دی غونډی نه نشی وتلی ترڅو د اپریکره ونه منی، دا اخطار ډیر حیرانوونکی ؤ ، حکمتیار غونډی د نفوذ او ځواك خاوند لیډرخو

پرځای پریږده چی په تیرو(١٤) کالوکی دمجددی او ګیلانی غونډی دلړو افرادو درلودونکو جهادی مشرانو اوقوماندانانو سره هم په داسی لهجه خبری نه وی شوی .

حکمتیار پر دی اخطار خفه شو ، هغه له ځایه جګ شو وی ویل چی زماسپکاوی وشو زه له دی غونډی نه ځم که څوك ما راګرځولی شی نومهربانی صرفه دی نه کوی - د افغانستان او افغانانو له سیاست سره نابلده جاوید ناصر دا کار دچاپه اشاره وکړ؟ !

دباخبرو منابعو په قول داکار هغه دپاکستانی فوځ دیوه ډیر لوړ رتبه پوځی مشرپه هدایت وکړ چی دهغه حکمتیار سره نه ایستی.

هغه هم څکه چی څو میاشتی وړاندی حکمتیار ددروسیی دصدارت دمرستیال روتسکوی په وړاندی دهغه پوځی مشر یو توهین آمیزه حکم نه ؤ منلی اودهغه دحکم سره سره یی دیو څو تنو روسی بندیانو له خوشی کیدونه انکار کړی ؤ، پوځی مشر حکمتیارته دزر تر زره څو روسی پوځیانو دخوشی کولو خبره کړی وه او تر څو روتسکوی له ځانه سره بوځی ، نوموړی پوځی مشر دمجاهدینو له مشرانو سره له څه مشوری پرته هسی دځان غټ ښودلو په خاطر دروسیی مرستیال ته دا وعده ورکړی وه .

په هر حال داپریل په ١٥ مه حکمتیار له جلسی نه ووت او غونډه هم پرته له کومی نتیجی پای ته ورسیده وروسته بیا د آی اس آی مشر ته دمعاملی وزن څرګند شو ، هغه زر تر زره له جنرال حمید ګل سره رابطه ونیوه کوم چی پرڅولوجهادی مشرانو دزیات اثر او خاطر درلودلو سره سره تر اوسه پوری په دی

معامله کې نه ؤ پوښتل شوی. حمید گل له حکمتیار سره تماس و نیو او هغه یې له جاوید ناصر سره ملاقات ته تیار کړ، خو یوځل بیا مرموز لاسونه په حرکت راغلل اوناصر له ملاقات نه انکار وکړ دلته ؤچې نور حکمتیار دا کلکه پریکړه وکړه چې په دې سیاسي دسیسه بازیو کې به له ډوبیدونه دنجات په غرض افغانستان ته ځم. له وروستنیو پیښو او حادثو نه

ظفرالدين

اندازه لگیزی چې دیوی دقیقې اوسنجول شوی طرحې له مخې داسې حالات منځ ته را وستل کیدل چې حکمتیار پکې یوازې شي او له نورو جهادي مشرانو سره په یوه گډه اتفاقي طرحه کې شریك نه شي. چې پر زیاتو یې کار شوی ؤ او په یوه ځانگړې طرحه رضا شوی وو.

دپیښور معاهده دچا ابتکار وه؟

داپریل په ۲٤ مه چې په پیښور کې دجهادي مشرانو کومه غونډه جوړه شوی وه په هغې کې صدراعظم نواز شریف ، دآی،اس،آی" مشر ناصر او ځنې نور پاکستاني مقامات هم وو چې په نتیجه کې یې یوه پیچلې طرحه پاس کړه چې په هغې کې به دعبوري شوری درئیس په توگه ددوو میاشتو لپاره صبغت الله مجددي کار کوي ، وروسته له دوو میاشتوبه عبوري حکومت پکارلویږي چې رئیس جمهور به ربانی او دحکمتیار په غیاب کې یې دصدارت پوست هغه ته ورکړی ؤ .

په دې معاهده کې یو ه ځانگری خبره داوه چې ټولو گوندونو مساوي نمایندگي درلوده چې دحکمتیار دطرحې سره له یوې مخې خلاف کارو اوبل داچې دحزب اسلامي له پر لپسې اصرار او مخالفت سره سره یې په حکومت کې بیاهم لیهران شامل کړی وو. دغه پیچلې کرنلاړه دچا لخوا او ولې تجویز شوی وه؟ او په حزب اسلامي یې دا لوروونه « صدارت چوکی» ولې کړی وه ؟

باخبری منابع وايي چې دسعودي عرب دلوړ رتبه مسئولینو په خصوصي هدایت دهغه هیواد د اطلاعاتي اداری رئیس شهزاده ترکي الفیصل پاکستان ته راغی ، هغه استاد سیاف چې دسعودي نفوذ او اثر ته زیات قابل دی دیته چمتو کړ چې دغه طرحه وړاندی کړی. په کوم کې چې مجددي ته یوه مهمه چوکی او رول ورکړی شوی ؤ . که څه هم سیاف چې په څه شي باوري کړای شوی ؤ له هغه څه سره ډیر توپیر درلود چې دمجددي کابل ته له رسیدونه وروسته مخې ته را غلل ، خو سیاف دسعودیانو په احترام د حکمتیار له غیابت څخه پوره گټه پورته کړه او د خپلی فصیحې ژبې په قوت یې ټول مشران دمجددي صاحب رول ته تیار کړل، حزب دانظر در لود چې لومړی خو دی کار ته هیڅ اړتیا نشته ، بیاکه دی هم نو دریاست لپاره تر مجددي"محمدي" زیات موزون دی، هغه وخت هم استاد رباني ددې مخالف ؤ چې مجددي دی ددوو میاشتو لپاره اقتدار تر لاسه کړی، دهغه دریځ داؤ چې که ما وروسته د څلورو میاشتو لپاره دحکومت دمشر مقرروی نو ددوو میاشتو لپاره دمجددي ریاست ته څه ضرورت دی؟ داکار هم زه دهیواد دمشر په توگه کولی شم، خو دربانی صاحب دی ته پام نه ؤ چې کراماً کاتبین دی کارته زمینه برابره کړی وه ، استاد سیاف حزب اسلامي ته د صدارت چوکۍ تجویز کړه ،دهغه نظر داؤ چې حکمتیار به داټوله معامله دسترگو په رپ کې رد کړی او دصدارت چوکی به پخپله دهغه په غولی کې ور ولویږي .

داپریل په (۲٦) مه حکمتیار له کابل نه یو حل بیا په مخابره کې د عبوري ٥١کسیر کمیسیون تشکیل بې ځایه وباله، دهغه په لوگر کې استوگنه بې ځایه نه وه هغه د رهبرانو له روش څخه نا امیده او دپاکستان له دریځ څخه بیزار شوی ؤ هغه په دې پوهیدلی ؤ چې غواړي ماپه بد حالت کې محاصره کړي خو جال یې څیری کړ اولوگر ته ولاړ .

هغه خپلې رابطې گړندی کړی چې په نتیجه کې یې دکابل د صدارت مرستیال جنرال رفیع ملاقات ته راغی اوبیا دحزب اسلامي مجاهدین پر کابل ورننوتل، پرکابل دحزب اسلامي دقبضې خبر یو انفجار ؤ، صدر اعظم نواز شریف په مخابره کې له حکمتیار سره اوږدې خبرې وکړی او هغه ته یې په ډیر ټینگار وویل چې پیښور ته راستون شي دهغه وینا وه چې:

«وروره زه دې یو ځل څیره لیدل غواړم »

دترکي الفیصل ټینگار داؤ چې:

«ماتاسوته دکعبې دامام یو پیغام راوړی دی مهرباني وکړی یو ځل تشریف راوړی او هغه تسلیم کړی .»

نواز شریف ته دحکمتیار ځواب داؤ

چي زه اوس لړ مصروف یم چي کله له خبره فرصت پیدا کړم ضرور به درځم خو زما ډیر کوشش دادی چي راتلونکی ملاقات مو په کابل کی وی. ترکی الفیصل ته یی ځواب ورکړ چي ته دغه پیغام انجنیر قطب الدین ته وسپاره چي په پیښور کی زما سیاسی نماینده دی هغه به یی ماته وسپاری.

پوښتنه داده چي دی ټولو کسانو ولی په دی ټینګار کاوه چي حکمتیار باید پیښور ته را شی ؟ دباخبرو منابعو وینا ده چي دوی نه غوښتل چي دحزب اسلامی امیر دکابل په ۲۰ کیلومتری کی کښینی اودخپلو هغوګروپونو قومانده په غاړه ولری چي په کابل کی یی عملیات پیل شوی وو. تر څو دوی ته دخپلو سیاسی لوبو دتودولو لپاره څه فرصت په لاس ورشی ، چي بالاخره دامناسب فرصت دوی ته لاس ته ورغی خود حزب اسلامی دامیر پیښور ته په ستنیدو نه بلکی دمجاهدینو دیوه قوماندان احمد شاه مسعود دیوه اقدام په نتیجه کی.

مسعود چي له لویدیځ سره بنې اړیکی لری په مزار کی دګلم جم له قوماندان جنرال دوستم سره اتحاد وکړ، که څه هم دحزب اسلامی قوماندانانو مولوی عبادی او انجنیر مهدی ته هم دوستم دتسلیمی په باب وعده ورکړی وه خو اوس یی له احمدشاه مسعود سره په داوکی د لوبی میدان ته لویدلی ۋ.

په پیښور کی دحزب او جمعیت داوربند ترون.

حزب اسلامی د کابل رژیم ته د اپریل تر ۲٦ می پوری وروستی نیټه وټاکله چي مجاهدینو ته اقتدار حواله کړی که نه وی نو مجاهدین به په زور کابل ته ننوزی خو دځینومنابعو څخه یی داخبر تر لاسه کړ چي دنبی عظیمی او کارمل ډله کابل ملیشانو ته سپاری نو ځکه یی دټاکل شوی نیټی نه یوه ورځ وړاندی داپریل په ۲۵ سهار دحزب اسلامی دیوځو ګروپونو مجاهدین بنارته ننوتل، او په مهمو ځایونو یی قبضه وکړه .

پرکابل دحزب بشپړی ولکی دډیرو اړخونو لوبی ګډوډولی مثلاً دکابل دکمونستانو دکارمل ډله چي دتاجکانو د بر لاسی خوبونه یی لیدل یا احمد شاه مسعود چي کابل ته دننوتو اوواکمنی خوبونه یی لیدل مثلاً مجددی او ځنی نور لیډران چي دحکمتیار دحکومت تصور یی پراندامونولرزه ګډوی. ، مثلاً پاکستان چي دحکمتیار په اقتدار ته رسیدویی دامریکانارضایتی نشوای زغملی، مثلاً ایران چي دژبنی تعصب، په بنایی له مسعوداو نبی عظیمی سره لوبه جوړه کړی وه، او بالاخره مثلاً امریکا چي په دی سیمه کی حکمتیار دتروریست او بنیاد ګراپه نوم پیژنی ،هلته مسعود ته له ملیشیانو سره مرسته او دحزب دپرمختګ

ابو بکر

مخنیوی له څو اړخونو دیر مهم وو .

۱- لویدیز خبری او اطلاعاتی اداری ټولی دده په خدمت کی وی ځکه خو پرکابل دبشپړ تسلط او یایی پر یوه زیاته برخه قبضه کولو لپاره تردی بله ښه موکه په لاس نه ورتله .

۲- دخپل حکومت دجوړولو په صورت کی که له زیاتو ستونزو سره مخ کیدای بیایی که حکمتیار اونور مشران په حکومت ور شریکول دلته به دده موقف دیر لوړ او دیوه ایثار ګر قهرمان په حیث به میدان ته راووت .

۳- دحینو ژبنی او نژادی متعصبینو په نظر دا ډیره ښه موکه وه چي له (۲۰) کلونو وروسته دپښتنو بر لاسی ختمیده

٤- تر ټولو مهم مسعود ته له کابل نه دسودا بازی کارت جوړول وو دده لپاره اصلی ارځښت شمالی افغانستان لری او دشمالی افغانستان د غلبی لپاره ضرور وه چي بلخ دده په لاس کی وای، بلخ به هغه وخت دده په لاس لویده چي درشید دوستم ملیشی له مزار نه راویستل شوی وای اوکابل ته راغلی وای چي دهغو ملیشو په موجودیت کی پر مزارکنترول دمسعود لپاره ممکن نه وو .

مسعود په یو غیښی دوه مارغان ښکار کول غوښتل ، له یوی خوایی ددوستم له ملیشو سره خپل یوشمیر مجاهدین ملګری کړل او هغوی یی دحزب اسلامی په مقابل کی ودرول - له بلی خوایی پر مزار شریف دخپل تسلط لپاره هلته خپل ګروپونه و ټاکل - اوس که ملیشیانودحزب په وړاندی ماته خوړلی نو د مسعود یو لوی دښمن به له منځه تللی ۋ او مزار به یی په لمن کی لویدلی ۋ اوکه وضعیت بل ډول وای نو بیابه دحزب اسلامی غوندی له یوه ستر ځواك نه بی غمه شوی ۋ ،درد ناکه خو داده چي مسعود په دغه لوبه کی هغه اصول تر پښو لاندی کړل چي په تیر ۱۳ کلن جهاد کی یی ارځښت درلود ، ټولو په خپلو

ستړګو دکابل په سار کی دمسعود مجاهدین له ملیشیانو سره اوږه په اوږه ولاړ لیدل .

عجیبه تماشا ده - دچا په خلاف چی مجاهدینو د ۱۵ لکو تنو وینی تویی شوی دی اوس هغه له مجاهدینو سره اوږه په اوږه ولاړ دی

خو دمسعود پښه یو ځل بیا هم ښوئیده ، یو خو هغه دعام ولس هیبت په پام کی نه و نیولی- بل یی په جهادی مشرانو کی یوازی په مجددی قناعت وکړ .له ملیشو سره ګډون یی دهر افغان پر دماغ بد ولګیدل، او دحکومت په کرسیو په نویو مقررو کی له حزب نه علاوه آن چی دانور شپږګوندونه هم حیران کړل چی په هغی کی یی خپل ګوند جمعیت اسلامی هم ؤ .

د اپریل په (۲۷) په پیښور کی دحزب او جمعیت ترمنځ په کابل کی داور بند موافقه لاسلیک شوه او حزب په عبوری حکومت کی د عملاً برخی اخستلو لپاره استاد فرید دخپل ګوند له لوری دصدر اعظم په توګه انتخاب کړ، حزب غوښتل چی ملت له نژادی فتنی څخه د ساتنی په خاطر باید« وروکی بدی» ته غاړه کیږدی دحزب اسلامی لخوا دغه اعلان هم یو انفجار ته ورته ؤ خصوصاً هغو خلکو ته چی پوهیدل چی حزب به له خپلو اصولو څخه تیرنشی، داپریل په ۲۸ مه رومبنی عکس العمل پیر ګیلانی وښود چی په کوم حکومت کی چی حزب شامل وی موږ شرکت نه کوو.

داپریل په ۲۹ مه دوهمه ډېره دمجددی ګران زوی ذبیح الله وغورځوله« موږ په شوریٰ کی پریکړه کړی چی له حزب څخه د صدارت چوکی بیرته واخلو.»

دمجددی زوی دهغی شوریٰ خبری کوی چی له (۵۱) تنو څخه یوازی (۱۹) تنه حاضر وو له دی نه وړاندی دهغه پلار مجددی داقتدار تر لاسه کولو په ورځ دبهرنیو چارو په وزارت کی ویلی وو چی که حکمتیار بخښنه وغواړی نو هغه به معاف کړو او په حکومت کی به یی د شریکولو په باب هم فکر کوو .

دامریکا غږ.راډیو په قول دمجددی له دغی خبری نه پوره یو ساعت وروسته د بهرنیوچارو په وزارت کی راکټ را پریوتل چی دا دحکمتیار ځوابیه پیغام ؤ.

دحزب لخوا د صدارت چوکی ته انتخاب شوی استاد فرید د کاپیسا ولایت اوسیدونکی او دپروان کاپیسا دجهاد امر ؤ چی داځو کاله یی دلته ښه نظم چلولی ؤ ، هغه په قوم تاجك دی چی دکابل او مسعود تر منځ یو کلك دیوال غوندی ولاړ ؤ . د مسعود لپاره ددغه ستر حریف په کابینه کی نوم ډیر ځوروونکی ؤ هلته چی دی به ددفاع وزیر ؤ خو استاد فرید به دکابینی مشر ؤ اوله هغه څخه به هدایات تر لاسه کوی .

دغه کار د مسعود له زغم نه پورته ؤ، له بلی خوا دهغه دموجودیت په صورت کی مسعود ته د تاجکانو را پارول او پرچمان وراړول هم ستونزمن کارؤ. په دی دوران کی دجګړی دبندیدو لپاره دوه کارونه پیل شول .

لومړی دحزب او جمعیت دمصالحت خلور کسیز کمیسیون جوړ شو چی حزب سمدستی قوماندان مظفر الدین او عبد القدیر کریاب ور معرفی کړل خو جمعیت لا خپل کسان نه وومعرفی کړی .

دحقانی دروغی جوړی دهڅو پیل :

دوهم داچی دپکتیا مشهور قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی له خپلو(۲۰۰) تنو ملګرو سره د اپریل په

جنرال حمید ګل

۲۶ مه د لوګر په محمد آغه کی له انجنیر حکمتیار سره و کتل ،حکمتیار د سولی لپاره لاندی شرایط کینښودل : ـ

١: درشید دوستم ملیشی دی له نورو ټولو هغو ملیشیایی ځواکونو سره چی له شمال نه کابل ته راغلی بیرته خپلو سیمو ته ولاړی شی.

۲: په کابل کی دی پوځی کمونست افسران چی قوماندانان دی وسله په ځمکه کیږدی او هغه افسران دی بر طرف شی .

۳: دملیشو تر تسلط لاندی سیمی دی دمجاهدینو مشترکو ګروپونو ته حواله شی.

٤: دکابل ښارامنیت او مهمو ځایونو ساتنه باید دمجاهدینود شریك ګروپونو د صالحو او خیر غوښتونکو قوماندانانو واك ته وسپارل شی .

٥: په ښار کی دګډوډی او وینی تویولو مسؤل کمونستی افسران دی اسلامی محکمی ته حواله شی .

٦-د اور بند اعلان به پر پورتنیو ټکو له اتفاق وروسته وی.

٧: دجګړی دمخنیوی لپاره باید یو مشترك کمیسیون وټاکل شی چی په

هغو کی بی طرفه قوماندانان شریك وی او له هغوی سره کافی شمیر مجاهدین وی.

۸:دعبوری حکومت ټوله موده باید یو کال وی چی په لومړیو شپږو میاشتوکی به د جمهوری ریاست لپاره انتخابات کوی او په نورو شپږو میاشتو کی به د شوری لپاره انتخابات کوی. بیا دی دراتلونکی کال داپریل تر ۲۷ پوری دحکومت واك منتخب حکومت ته حواله شی .

مولانا حقانی صاحب زر تر زره له ربانی صاحب او مسعود سره ارتباط ونیو. ربانی دپورتنیو شرطونو منلو ته غاړه کیښوده خو مسعود له ځواب ورکولو څخه ځان وغړاوه .

حزب داپریل په (۲۸) مه یو ځل بیا له حقانی سره رابطه ونیوه او دا تجویز یی وړاندی کړ چی حزب تاسو « حقانی » ددفاع وزیر په حیث منی، دحزب دریځ داو چی دمسعود دوزارت دفاع په منصب مقرریدل بنایی دمجاهدینو حکومت دکمزوری سبب شی او مولانا حقانی ددی منصب لپاره غوره شخصیت دی ،حقانی صاحب ددی وړاندیز ډیر هر کلی وکړ خو وبی ویل چی مسعود اوس په دی منصب ډیروگوندونو منلی دی نو ځکه به اوس دا معامله وړاندی بیول ښه نه وی، البته هغه به زیار باسی چی په نوی حکومت کی دحزب او مسعود ترمنځ منصفانه او بی طرفانه رول ولوبوی .

حقانی صاحب دوردگو ، پکتیا ، پکتیکا ، لوگر او غزنی دقوماندانو سرتاسری شوری غونډه راوغوښته اودهغوی رایه یی وغوښتله ، دلته په پیښور کی ورو ورو دشپږو نورو گوندونو مشرانو ته د وضعی دخرابی احساس کیده په همدی خاطر استاد سیاف په همدغه نیټه د اپریل ۲۸ په مخابره کی له حکمتیار سره خبری وکړی او دنوی

صبغت الله مجددی

حکومتی اتحاد جوړید ته یی هم اشاره وکړه .

حکمتیار له ډزبندی سره موافقه وکړه خو په دی شرط چی ملیشه له کابل نه و ایستل شی خو استاد سیاف داواضح کړه چی داکار د استاد ربانی له توانه بهر دی او پراوضاع عملاً د نبی عظیمی او جنرال مومن کنترول دی، حکمتیار استادسیاف ته داهم وویل چی ددی نوی وضعیت اصلی مسؤل ته « سیاف» یی ځکه په دی کار کی تاپه ډیره دلگرمی برخه اخستی ده، استاد سیاف دوضعی پر خرابی اعتراف وکړ او وبی ویل چی زه اوس هم د حالاتو جاج اخلم . هلته په کابل کی د ښار یانو دمرگ ژوبلی دشمیر په لوړیدو سره دحزب اسلامی مجاهدین دښار په دننه ددداخله وزارت ، دفاع ، شاهی ارگ اونورو ځایونو څخه ووتل او د ښار په جنوبی او شمالی څنډو - پلچرخی ، دارلامان تپه نادر خان ، تپه بت خاك اونورو ځایونو کی یی خپل مورچلونه کلك کړل. دملیشو ډلو دحزب په مرکزونو او دکابل ښار په استو گنو سیمو خپلو ډزو او بمباریو ته دوام ورکړ، په ځواب کی حزب په ځینو برخو کی په متقابل برید سره هغوی شاته وزغلول ، دحزب او ملیشو دجگړی په دوران کی مسعود له خپلو گروپونو سره له چاریکارو څخه کابل ته دراتگ هڅی پیل کړی،

حزب ولی مسعود پریښود چی کابل ته ننوځی ؟-:

د اپریل له ۲۳-۲۷ پوری دری ځلی هغه زیار ویوست چی لاره و باسی خو هر ځلی دحزب اسلامی د استاد فتح محمد مجاهدینو دهغه لاره دب کړه اوناکام شو - بالاخره استاد فتح محمد یوه پیچلی جنگی نقشه په لاره واچوله او مسعود ته یی لاره پریښودله دهغه دغه تاکتیك تر پوځی نه زیات سیاسی ارځښت درلود، دحزب دمشرتابه نظر داؤ چی ترکومه پوری چی مسعود کابل ته رانه شی او له ملیشانو سره اوږه په اوږه یو ځای ونه لیدل شی، عام ولس، رهبرانو او نوری نړی ته به دمسعود اصلی څیره را بر سیره نه شی. په راتلونکو ورځو کی خو هسی هم کابل دمسعود له ولکی نه وزی خوکه دمسعود ، ملیشو او مجددی اتحاد یو ځل سم را برسیره شی نومسعود به په جمعیت او شورای نظار کی هم تر ملامتی لاندی راشی .

راتلونکو ورځو دغه تاکتیك سم ثابت کړ او مسعود چی دلویدځو راډیوگانو د پروپاگند له مخی دډلو دسترگو تور ژ چی کابل ته ورسید او له ملیشاوو سره څنگ په څنگ کیناست دډلو ترملامتی لاندی راغی .

هغه دمجددی دحکومت مخالفین باغیان وبلل او له هغوی سره ئی د سختی رویی اعلان وکړ دده دغه دریځ په هغو خلقو بد تاثیر وکړ چی که څه هم له حکمتیار سره ملگری نه وو خود مجددی

دواکمنی پر خلاف وو. په دی ډله کی دده دخپل گوند رهبر استاد ربانی هم ؤ . دمی په ۳ مه استاد ربانی دا اندیښنه ښکاره کړه چی مجددی ددایمی اقتدار په چورت کی دی - او داچی ماخو په سرکی دده له رول سره مخالفت در لود. دمجددی پرحکومت نه باور اصلاً پخپله پر مسعود بی اعتمادی وه چی له مجددی سره ولاړ ؤ .

هلته مجددی پر کابل د زیاتیدونکی فشار دکمولو لپاره اعلان وکړ چی زه دخپل حکومت دمخالفینو په اره شرعی فتوا اخلم چی آیا دوی مسلمان دی اوکه نه ؟

خو اوس ددی وخت تیر شوی ؤ ځکه چی ددوستم دملیشو په زور، واک ته رسیدلی مجددی په خپله په دی ستونزه اخته ؤ چی خپل حکومت په خلکو روا ومنی .

دحزب اسلامی لوری وایی چی هغوی دغه وضعیت درك کړی ؤ چی استاد ربانی ته یی دحکومت د مشری وړاندیز کړی ؤ . دحزب طرحه داوه چی استاد ربانی جمهور رئیس شی صدارت به حزب واخلی نور وزارتونه به سیاف ، خالص او محمدی ته ورکړی .په دی ډول به دهغو اشخاصو مخه ونیول شی چی له ملیشو اوکمونستانو سره له ګډ حکومت څخه هم صرفه نه کوی، هو استاد ربانی پر لپسی دوه زړی ؤ غالباً به هغه له خپل قوماندان مسعود څخه څه نوری تمی در لودی چی په راتلونکو ورځو کی په اندیښنو بدلی شوی .

دکورنی جګړی په دی کیفیت کی دکابل له دسترخوان څخه دخپلی برخی اخستلو لپاره دایران پلویان (۳۰۰۰) تنه هزاره ګان د هیواد له مرکزی سیمو ارزګان - بامیانو او غور څخه دکابل په لوری راغلل، د اپریل په (۲۷) مه دهغوی یوه ډله دحزب مجاهدینو دمهتاب قلعی سره بی‌ وسلی کړل او دپرمختګ مخه یی ونیوله . پرکابل دفشار لپاره حکمتیار صاحب د څلورو لوریو لپاره ځانګړو قوماندانانو ته دسنګر نیولو قومانده ورکړی وه ، دجنوب له لوری دګر جنرال امان الله خوږمن « دسمافرقی قوماندان»، انجنیر فیض محمد د جهاد وال فرقی قوماندان ، حاجی احسان الله د لوګر ولایت دجهاد امیر ، څارنوال بدر ، ابو بکر او نورو دختیځ له لوری استاد ملنګ دشمال له لوری، استاد فرید ، استاد کریم عابد، شفق یار او انجیر طارق او دلویدیځ له لوری استاد چارګل نثار ، قوماندان ظفر الدین دالمؤمنین غونډ قوماندان او خالد فاروقی دپکتیکادجهاد امر ته مسؤلیتونه ورسپارل شوی وو ، دغه قوماندانو تر قوماندی لاندی دشلو زرو تنو مجاهدینو په شاوخوا کی وو.

دجنوبی محاذونو دقوماندی مرکز دنادر خان تپه وه چی وروسته دچار آسیاولسوالی ته رانقل شو. له ملیشیانو سره په نښتو کی مجاهدینو دهغوی دوه تنه جنرالان جنرال جمعه خان او جنرال خدابردی ژوندی ونیول .

رشید دوستم حکمتیار ته پیغام واستاوه چی حاضر دی ددغو جنرالانو دخوشی کیدو په بدل کی دحزب دوه تنه مجاهدین خوشی کړی کوم چی په شاهی ارګ کی نیول شویدی خو حکمتیار دهغه دغه غوښتنه رد کړه.

پرکابل جګړه لانه وه پیل شوی چی حزب اسلامی جګړه تر هغه وخته پوری ځنډول غوښتل ترکومه یی چی امکان ؤ خو لویدیحو خبری وسایلو هغه دحزب پر ماتی تعبیر کړه هغوی په دیر شور او زوږ دا تبلیغوله چی پرکابل مسعود تسلط موندلی. په حقیقت کی حزب کابل ته په ننوتلو یوه ستره دسیسه شنډه کړه چی لویدیځ یی ښه پچولی ؤ .

پلان داؤ چی په کابل کی مجددی، مسعود ، ملیشاوی او وطن ګوند راغوند شی نورجهادی مشران، په پیښوږکی دویری او امید په حال په پیښور کی کښینول شی او دانتظار په حالت کی فلج شی او په کابل کی به ورو ورو ګډ حکومتی نظام ځواکمن شی، دخپلو وضعه کړیو شرایطو سره سم به نور جهادی مشران هم په حکومت کی را شریکوی، ددغه پروګرام تر ټولو ځواکمنه دفاعی حلقه به دکابل پر شاوخوا راچاپیره هغه پوځی مزبوط کمربند وی چی په هر رازدرنو او عصری وسلو اوبی اندازی مهماتو مسلح دی، په دغو مظبوطودفاعی کمربندونو کی به ملیشه اچول کیږی او کابل ته به دنورو مجاهدینو درانتوتو مخنیوی کوی. دحزب اسلامی مجاهدین کابل ته له ننوتو سره پر شاوخوا امنیتی کمر بندونو بریالی ښول او دغه ټول کمربندونه مات شول. ټول مهم پوځی تاسیسات ، زیاتی درنی وسلی او بی اندازی مهمات حزب اسلامی ونیول ، اوس ددی امکان نه ؤ چی پرکابل دحزب اسلامی دحملی مخه ونیوله شی، په پروګرام کی دا هم شامل وو چی که مخلوط حکومت جوړ شو په پاکستان کی پراته مجاهدین به په دی مجبوروی چی دغه حکومت ومنی، که نو نه پاکستان به یی له هیواده وباسی .

کابل ته دمجددی رسیدل : ـــ

د پاکستان حکومت په دی سازش کی ترمری دوب ځ داولی؟

ددی ځواب به په راتلونکو کرښو کی ووینی .

کابل ته درسیدو سره سم چی مجددی دکمونستانو په گډون دحکومت جوړولو بیړه وکړه دهغه دری سببونه وو .

۱: هغه مجبورځ – له هغه سره له ملیشو پرته بل هیڅ ځواک نه ځ چی اقتدار پری وساتی دهغه مجاهدین له نشت سره برابر دی – له ملیشونه یی دمرستی تر لاسه کولو لپاره هغوی په اقتدار کی ور شریک کړل .

ددی اټکل له نواز شریف سره دورغلی یوه ژورنالست له یوی پوښتنی څخه ښه کیدای شی ، هغه پوښتنه کړی وه چی:

مجددی صاحب: تاسو دمجاهدینو دحملو مخه په څه شی نیولی شی؟

مجددی په حواب کی وفرمایل: « برادر رشید دوستم همرای ماکمك میکند» .

۲: مجددی ته ضرور وه چی دنورو جهادی مشرانو متبادل را پیدا کړی داسی یو تبادل چی هغه تر اوزدی مودی پوری اقتدار کی پریږدی ، ځکه چی دنورو جهادی مشرانو له طرحی سره سم مجددی له دوو میاشتو نه زیات په اقتدار کی نشو پاتی کیدای، دملیشو قوت یی خپل اقتدار دبنیاد لپاره ضرور وگاڼه چی دنورو مشرانو له فشار څخه خلاص او هغوی دخپلو شرایطوسره سم په همدی گډ حکومت کی را شریك کړی .

۳: مجددی صاحب په دی ښه پو هیده چی له ملیشو او وطن گوند سره به یی یووالی په نورو بد ولگیږی خو دهغه اټکل ځ چی پرده دغداری دتور لگونکوجهادی مشرانو څخه ځنی دغوړو وعدو او موقفونو په ورکولو سره دځان کولی شی او کله یی چی په واك کی ورگډ کړی نو « گنده » به شی او دملیشو ، وطن گوند سره په شریك حکومت کی به له گډون وروسته پخپله بیا ددی حکومت دفاع کوی. موږ وینو چی دهغه دغه اټکل تر یوه حده سم ځ له هغه سره کابل ته په تللی گروپ کی دسیاف دگوند"یاسر" هم ځ چی دپاکستان له صدر اعظم سره په سفرورغلی یوه ژور نالست ته یی دیوی پوښتنی ځواب ورکړی و چی :

« زه پوهیږم چی مجددی صاحب درست کارونه کوی. » او هغه داچی « یاسر»یی دصدارت دمرستیال په توگه ټاکلی دی .

دمجددی حکومت ناتوانی او پر کابل دملیشو دراج اندازه له دی نه ښه ځرگندیږی چی داپریل په ۲۸ مه دمجددی ددریوړ او ملیشو دځوتنو سره څه جنجال راغی نو هغوی ښه په خوند وډباوه ، ا و کله یی چی وویل چی زه دجمهور رئیس مجددی دریور یم نو هغوی نور هم وواهه بیایی خوشی کړاوورته وی ویل:

ورځه اوس ولاړ شه چی زموږ پر خلاف څه کولی شی صرفه مه کوه، دریور په ژړا او فریاد مجددی ته ورغی ، خو بادار بیچاره بیا پخپله دغلامانو په څیر ژوندکاوه هغه ته به یی څه ځواب ورکاوه ، همدارنگه په همدغه ورځ ملیشادمولوی خالص له دوو تنو قوماندانو څخه چی له مجددی سره په بدرگه تللی وو موټر، ساعتونه او په زرگونو نقدی روپی اخستی وی او بیایی له ښار نه شړلی وو.

دمی په ۲ مه دکابل دښار یو هیئت دحزب اسلامی له قوماندانانو سره وکتل او له هغوی نه یی وغوښتل چی په ښار حمله وکړی او له ملیشا څخه دوی خلاص کړی . هغوی ویل چی موږ په گولیو او بمباریو کی مرگ غوره گڼو خو څه ډول چی ملیشازموږ کورونو ته ننوزی او بی ستری کوی هغه نشوزغملی – هغوی پردی ټینگار کاوه چی حزب دی ددوی دمالی او ځانی تاوان هیڅ پروانه ساتی او حمله دی وکړی، دوی به له حزب سره ملاتړ کوی .

پاکستان ترمری په سازش کی ډوب وو :

اوس راځی دپاکستان درول په باب لږ څه ووایو.

دمجددی صاحب له مخلوط حکومت څخه دپاکستان حکومت دومره کلك ملاتړوکړ چی دیوی باوری منبع په قول دکابل محاصره کوونکو قوماندانانوته د آی اس آی ځنو افسرانو دقاس په ترځ کی هغوی ته دډیروسترو مالی وعدو په بدل کی دښار دمحاصری پریښودلو پیشنهاد وکړ دا هغه اداره وه چی تر اوسه پوری یی دافغان جهاد په لار کی ډیر ستر رول درلود – خو اوس یی دحکومتی اوامرو دتعمیل په صورت کی لوری بلکل بدل شو دډیرو باوری منابعو په قول دپاکستان صدراعظم یوه خصوصی شوری جوړه کړی وه چی دمجددی د حکومت سره پر مخالفو گوندونو دپاکستان لاری وتړی او پر هغوی دغذایی موادو درسولو اوموټرو لاری وتړی. دیوی لوړی منبع خبر دی چی هغوی نواز شریف ددی کار له بدو عواقبو څخه هم خبر کړی دی خو څه نتیجه یی نه ده ورکړی .

دمجددی حکومت دسمدستی په

رسمیت پیژندلو ړومبی سهوه او سباته سمدستي دنواز شریف سفر کابل ته اوهغه ته لویه مالی مرسته دوهمه سهوه وه، ځرګند ، وه چی په پیښور کی دمجددی صاحب رول یوازی داقتدار دانتقال لپاره تثبیت شوی ؤ نه د اقتدار دشریکولو لپاره. او پاکستان دغه براالاتوپیر له نظره وغورځاوه نه یوازی داچی د اکثریت مجاهدینودغوښتنی خلاف کارؤ بلکی ددی شکوك یی را پیدا کړل چی پاکستان په دی دسیسه کی شریك نه وی ، داقتدار دانتقال پر ځای دقدرت دشریکولو تائید دپاکستان لخوا یوه بله تشویشناکه لاره په نخبته کړی ده چی دملیشو ، مسعود اومجددی ګډ حکومت چی دنژاد پالنی قوی رجحانات لری دپاکستان په پوله پراته پښتانه همدغسی یوه ځوابی عمل ته ونه پاروی چی دابه ، دپاکستان لپاره خطر ناك حالات رامنځ ته کړی .

مور. پوهیږو چی دفبروری ۱۵ مه د ۱۹۸۸ کال عبوری حکومت دبی نظیر بوتو لخوا په رسمیت نه پیژندل لویه سهوه وه همغه غلطی دمجددی حکومت په بیرنی په رسمیت پیژندلو تکرار شوه - دپاکستان حکومت باید په دی هکله دومره انتظار کړی وای چی دمجاهدینو ټولی ډلی په حکومت راضی شوی وای ، یاخو لږتر لږه دپیښور له طرحی سره سم هلته حکومت جوړ شو ی وای ، هسی هم مجددی ته دحکومت دتشکیل اختیار نه و ورکړل شوی، هغه ته له یوه لاس نه داقتدار اخستل او بل لاسته ورکولو وظیفه سپارل شوی وه .آخرپاکستان داسی ولی وکړل؟

ویل کیږی چی پر صدر اعظم دپوځ دلوړ رتبه افسرانو او ایران فشارؤ چی دامریکا له طرحی سره سم دغه پلان عملی کړی چی دبینن سیوان دطرحی له ناکامی وروسته په کابل کی دیوه سیکولرنظام لپاره جوړ شوی وه . صدر اعظم له دی فشار سره مقابله ونشوای کړای بله وجه یی دمی په لومړی داکرم ذکی له بیان نه ځرګندیږی چی نواز شریف ته دنوبل دسولی جایزی ورکولو ته ورکړل شوی وه، دبینن سیوان له ناکامی نه وروسته ددغه جایزی دلاسته راوړلو لاره نواز شریف ته اواره شوه. دی ورته تشویق شوی ؤ او وعده ورکړل شوی وه چی که دغه مسئله پدی ډول حل کړی نو دسولی دنوبل جایزیِ د یوه قوی امیدوار په حیث به رامیدان ته شی، که څه هم دپاکستان بنیاد ته به پر دغه مسئله چاودونکی ډینامیت« باروت» ایښودل کیدل.

دافغانستان دمسئلی په رابطه دصدر اعظم دلچسپی له دی نه ښه ځرګندیږی چی افغانی لیډران دمرګ اوژوند سره لاس او ګریوان وو خو صدر اعظم بی غمه داتریش په یوه بی ارزښته دوره ووت دا معلومه نه شوه چی ددی دوری اصلی اهداف څه وو؟

دپاکستانی ګوندونو څخه دمولانا سمیع الحق ملاتړ دنواز شریف له دریځ څخه د تحلیلګرانو په نظردشهزاده ترکی الفیصل کارنامه وه - مولاناسمیع الحق داکوړه ختك له فارغ مولانا حقانی سره خصوصی اوله حکمتیار سره عمومی ښه روابط درلودل خو اوس په داسی حال کی چی داکوړی مدرسی شاګرد حقانی هم دحکمتیار ددریځ پلوی دی سمیع الحق دحکمتیار په مخالفت کی دریدلی و.

په پاکستانی سیاستمدارانو کی قاضی حسین احمد یوازینی کس دی چی وړځ په وړځ یی دنیولی موقف حقانیت برا لاکیږی. په ظاهریوازی پاتی شو خو بیایی هم چی په کومه میرانه داکثریت افغانانو له غوښتنو څخه خپل ملاتړوسنود اوس د افغانستان په ساره اواوږدو کی هغه ته زیات عقیدت پیدا شوی دی، دقاضی صاحب له دغه سپیڅلی جهاد سره خلوص له دی جملی څخه ښه معلومیږی چی څوکاله وړاندی یی د اسلام آباد په یوه هوټل کی کړی وه .

« که دافغان مجاهدینو دبری لپاره موږته په پاکستان دخپلو سیاسی ګټو دقربانی ضرورت وی هم دریغه نه کوو » .

اقتدار ته نږدی یوه باخبره منبع وایی چی دافغان پالیسی په اړه دامریکایی ګټو دحمایی په پالیسی کی دسرحد داعلی وزیر میر افضل خان او دهغه یو نږدی دوست سناتو ر خلیل الرحمن لاس هم دی، دا دوه سړی ، له دی نه پرته دامریکا په اشاره دنواز شریف اوبی نظیر بوتو دسره پو خلاکولو کی په زیار کی هم بوخت دی .

دپاکستان دصدر اعظم سفر کابل ته څومره غلط ؤ ددی اندازه له دی خبری نه ښه لګیږی چی کله دوی دخواجه رواش په هوایی ډګر پلی شول نو هلته دمجددی ترڅنګ دمجاهدینو پر ځای بی شمیره ملیشیان وو د آی اس آی یو ډګر وال هلته نواز شریف ته وویل:

« داخو سهوه رانه وشوه ،دلته خو مجاهدین نه ښکاری داخو ټول دکمونیستی رژیم خلك دی .»

پاکستان ته دنواز شریف له بیرته راستنیدو سره دمی په ٤ حزب اسلامی د ملیشو دپرلپسی بمباریو او ډزو په ځواب کی پر هغوی یو ځوابی برید وکړ چی څو ساعته یی دوام وکړ له دری سوه تنو زیات

مليشيان په دې حمله کې ووژل شول. دحزب مجاهدينو دنادرخان تپه بيرته ونيوه .دادحزب يوه بريالی حمله وه چې د (۸۰) تنو په شاوخوا کې مليشيان پکې ژوندي هم ونيول شول دمليشو له دې ماتې نه دکابل حکومت وار خطا شو ځکه خو دمې په پنځمه استاد رباني په سروبي کې له انجنير حکمتيار سره وکتل ، داډير حيرانونکې او عجيب ملاقات ؤ . استاد رباني ډزيندې غوښتنه خو له هغه سره دويلو څه نه وو هغه ويل چې جمعيت په يوه ستونزه کې راګير شويدې تا سو جمعيت له دې جنجال څخه را وباسئ .

هغه دا خطر هم حس کاوه چې په کابل کې دکومې بلې کودتا امکان دی ، استاد له رشيد دوستم څخه انديښنه درلوده .

حکمتيار ويل چې که له تاسره دمسئلې دحل په رابطه څه طرحه وي وړاندې يې کړه – چې خبرې ورباندې وکړو خوله استاد رباني سره څه نه وو نو حکمتيار خبروته دوام ورکړ او ډزبندې پنځه شرطونه يې وړاندې کړل چې له ټولو سره استاد رباني توافق وښود .

دمې په ٦ مه دجمعيت اسلامي مرستيال نور الله عماد له حکمتيار صاحب سره وکتل او دجنګ پر شرطونو يې د خبر و اترو هيله ځرګنده کړه حکمتيار هغه ته سپين وويل چې ته دڅانمايندګي کوې دجمعيت اسلامي که دمسعود او که د دوستم ؟

په ځواب کې سيدنور اله آغا وويل چې زه دجمعيت اسلامي نمايندګي کوم، حکمتيار ورته وويل چې موږ خو له جمعيت سره يو ، هغته وړاندې اوربند لاسليک کړې دی خو مليشيانو زموږ په مرکزونو خپلو حملو ته دوام ور کړی .

د«حکمتيار» پرستيژ ورو ورو دير اوچت شو .

ددې مطلب نتيجه دا کيداى شي چې ياخو جمعيت اصلاً اور بند نه غواړي او يا په دې هکله بې وسه دی او کار دنورو په واك کې دی .

« عماد » وويل چې داځل به انشاء الله اور بند مراعاتيزی ، حکمتيارياد « عماد » په وعده داور بندپه معاهدې لاسليك ته تيار شو ، په دغه تړون دحزب لخوا عبد القدير کرياب او دجمعيت لخوا عباس کريمي اودسياف نماينده استاد اکبر لاسليکونه وکړل .

په کومه ورځ چې دغه معاهده لاسليك‌شوه په همدې ورځ استادسياف هم له ښار نه ووت او پغمان ته ولاړ له پغمان څخه يې په مخابره له حکمتيار سره تماس ونيو او ورته وي ويل چې دمليشو په باب موږ ستاسو ترڅنګ ولاړ يو او تر څو چې مليشې په ښار کې وي زه بيا دکابل ښار ته نه ځم، خو استاد سياف يو ځل بيا له دوه ګونې پاليسي کار اخيست، دلته ده حکمتيار ته دملګرې وعدې ورکولې او په کابل کې يې مرستيال انجنير احمد شاه او ياسر له مجددي سره ناست وو او دهغوی شمير يې ور زيات کړی و. او دمې په (۹) مه داستاد سياف له دې خبرې سره سره چې « په کابل کې کفرې حکومت دی» هغه دوه ښاغلي لا په همغه حکومت کې پاتې دي .

کله چې ډز بندې په هکله يو ځل بيا معاهده لاسليك شوه نو دمختلفو لوريو لخوا له عکس العمل سره مخ شو. په همغه ورځ درشيد دوستم ورور جنرال مجيدمعاهده ردکړه اوله بې بې سي سره يې په مرکه کې وويل چې موږ دا معاهده نه منو په لندن کې دمسعود ورور هم وويل چې دا فيصله سمه نه د ه .

په دوهمه ورځ دپنجشنبې په ورځ مسعود دکابل له تلويزيون نه په يوه مرکه کې له مليشانو څخه کلکه دفاع وکړه . هغه وويل چې دوی بايد تقدير شي ځکه دنجيب رژيم يې را پرځولی دی، مسعود داهيره کړې وه چې نجيب خو له اقتداره په خپله دوطن ګوند « محمود بريالی – مزدك ، عظيمي او....»و غورځاوه نه رشيد دوستم، ددوستم مليشې خو هغه وخت کابل ته راغلې چې له نجيب نه اقتدار دکارمل ډلې تر لاسه کړی ؤ .

عجيبه خو داده په همدغه ورځ چې مسعود په خبری کنفرانس کې له حزب سره دجګړې او کمونستانو او مليشيانو دحمايې خبرې کولې دحزب له يوه هيئت سره يې دغه وعده وکړه چې دحزب ټول شرايط زه منم او دمې په لسمه يې درسمي اعلان وعده هم وکړه، دمې په اتمه دغه هيئت خپل اميرته راپور وړاندې کړ.

خو مسعود له بغلان نه دری زره تنه اسماعيلي مليشيان په همدې ورځ کابل ته راوستل. دغه مليشه چې دسيد کيان اسماعيلي تر مشرې لاندې دروسانو دتيرې په وختکې جوړه شوې په بغلان کې بيه ځواك لري، دسيدكيان لمسی منصورنادري په امريکا کې خپل تحصيلات نيمګړې پريښودل او بغلان ته راغی .ددغې مليشې په لاس کې يې قرار ونيو او اوس دکابل دعوت دشرابې او عياش نادري لپاره يو طلايې چانس ؤ چې زر تر زره په الوتکوکې راغلل او دکابل په شاوخوا کې يې په پوستو کې ځای په ځای کړل .

پوښتنه داده چې له حزب سره دسولې دهڅو په جريان کې دمسعود دغه توندہ لهجه اودمليشاؤ راوستل کابل ته دڅه لپاره وو ؟

ځنې حلقې په دې نظر دي چې داکار دحزب پر خلاف دکابل ددفاعي حصار د کلکولوبه خاطر ؤ خو ځنې نور کسان بياوايي چې اصلاً مسعود په دې کار کې بې وسه ؤدهغه مجاهدين په سپکوسلو مسلح وو، نه يې شو کولې چې

دملیشیانو چی په درنووسلو مسلح وو مخه ونیسی. بل داچی مسعود ته ور و فهمول شوه چی دملیشوموجودیت تائید وکړی که نه نو ! .... دغه دمجددی او مسعود اتحاداو څواك به په یوه حرکت له منځه یوسو. په ښار اوس عملاً دملیشو واك ؤ او بهر دحزب اسلامی مجاهدین تری راچار پیر وو تر اوسه پوری خو مسعود دملیشو په څواك دحزب ورك کول غوښتل خو اوس هغه په دی هیله ؤ چی له حزب نه دملیشو په له منځه وړو کی مرسته وغواړی ځکه چی ملیشی ددی پرځای چی دبل چادلاس آله شی نور ددوی دلاس آله شول ، هغوی دمسعود په مرسته په ښار کنترول حاصل کړ او اوس له نورو گوندونو سره د سودا بازی په هیله دی .

دمی په اتمه ددوستم ملیشو حزب اسلامی ته وړاندیزوکړ چی که زموږ بندیان راخوشی شی او په حکومت کی هسی که په نامه وی هم لږ رول ولرو نو موږ دکابل له ښار څخه وتلو ته تیار یو. حزب ددوستم دغه وړاندیز په کلکه رد کړ او بی قیداوشرطه یی دښار دپریښودلو حکم ورکړ .

استادسیاف یو ځل بیا له حزب سره په ملاتړ کی گړندی شو ځکه چی دننگرهار ټولو قوماندانانواو دحقانی په مشری دپکتیا- پکتیکا- لوگر- اووردگو قوماندانانو حکمتیار ته کلکه وعده ورکړه چی موږ ستا ترڅنگ یو، تاسو چی کله وغواړی دملیشو پر خلاف جگړی ته هم تیار یو .

دننگرهار والی حاجی عبدالقدیر چی دقوماندان عبدالحق ورور دی او دبدخشان او جگدلك دجمعیت اسلامی قوماندانانو عبدالبصیر خالداوانور خان، حکمتیار صاحب ته وعده ورکړه چی موږ ته دملیشو دویستلوامر وکړی موږ به یی په جگړه له ښاره وباسو. آن چی که دمسعودومجاهدینو دویستلو حکم راکړی هم منلوته یی تیار یو .

دمی په ۹ مه په جلال اباد کی حکمتیار صاحب، په یوه خبری کنفرانس کی څرگنده کړه چی هغه ته ټولو مشرانو په پټه ددی وعده ورکړی چی له ملیشو سره په جگړه کی به ستاتر څنگ یو. یوازی یوه هفته وړاندی حزب اسلامی دملیشو په خلاف یوازی ولاړ ؤ او اوس دادی ټول گوندونه او دمجاهدین له هغه سره یو ځای شول .

هلته دکابل په حکومت کی مخالفتونه اوجنجالونه نور هم رابر سیره شول مجددی دمی په پنځمه دکابینی په اعلان کی جنرال رحیم وردگ دلوی درستیز په حیث اعلان کړ خو دوی ورځی وروسته مسعود په دی دنده آصف دلاور دمقرری اعلان وکړ ، په دی کار رحیم وردگ ښه خفه شو خو مسعود مجبور ؤ ځکه دحزب پر خلاف دعملیاتو په برخه کی آصف دلاور ستره ونډه درلوده ، چی دا پر کابینه بر سیره یو بل حیرانوونکی اقدام ؤ - هلته په شپږ دیرش کسیزه کابینه کی دمجددی دواړه زامن اودخپلی پارټی نی(۱۱) تنه نور کسان شامل وو ، گیلانی اودهغه دوه تنه وریرونه هم له اتو تنو دمحاذ گوند غړو سره دوزارت په خلعت لمانځل شوی وو- له ۳٦ څخه ۲۹ تنه وزیران ددغو دوو گوندونو وو چی" آی اس آی" ددوی سهم دنفوذ په تناسب په سلو کی پنځه برخی ټاکلی و اوس یی په کابینه کی په سلو کی ۷۵ برخی وی ، مجددی په کابل ښارکی دننه دهیواد دمرکزی برخو شیعه گروپونو چی دایران له ملاتړ نه برخمن دی ځای پر ځای کړل او دښار د اطرافو دپوستو واك یی ددوستم او نادری ملیشو ته وسپاره ، دښار دننه دخاد افراد و خپلی ډیری پریښودی او دمجددی عکسونه یی په موټرو وړپول .

دمی په اتمه اعجاز الحق پیښور ته راغی له حکمتیار، سیاف او انجنیر احمد شاه سره یی په مخابره خبری وکړی، وروسته یی دمولوی خالص په کور کی له هغه سره هم وکتل، اعجاز الحق جهادی مشرانو ته وویل چی دملیشو په ویستلو کی دحکمتیارملاتړ وکړی، همدارنگه اعجاز الحق حکمتیار ته وویل چی زه له تا سره یو ځای په پلخشتی جومات « ضیاء الحق جومات» کی دشکرانی لمونځ کول غواړم . هغه حکمتیار ته داهم وویل چی ځان یوازی مه احساسوه په پاکستان کی ستایو وررو « اعجاز الحق» شته .

په ډیره توندی حالاتو تغیر وخوړ، دحکمتیار پر ستیژ ورو ورو ډیراوچت شو او ددی پر خلاف مجددی اوحکومت یی هره ورځ له یوه نوی چلنج سره مخ کیږی، چی په دغه وضعیت کی دحکمتیار پر خلاف داقداماتودنوی سوچ او پروگرام پیلیدو ضرورت احساسیږی .

یوه باخبره منبع وایی چی دجزا په توگه په پاکستان کی دحزب ددفترونو تړل او دبانکی حساب ضبطول هم ښایی دیوه انتقامی اقدام په څیر عملی شی، همدارنگه دیوی لوړ رتبی رسمی منبع خبره ده چی دپاکستان حکومت په دی فکر کی دی چی که حکمتیار پاکستان ته راشی هغه همدلته نظر بند کړی .

امریکایان چی له حزب اسلامی څخه څومره تشویش لری هغه له دی خبری نه ښه څرگندیږی چی څو میاشتی وړاندی په اسلام آباد کی یو امریکایی سفارتکار حزب ته یو مشروط وړاندیز وکړ چی امریکا به له حزب سره په دی شرط مرسته کوی چی که دغه گوند اقتدار په لاس کی واخلی نو دمرکزی آسیا په ریاستونو کی به فعالیت نه کوی .

دپاکستان حکومت په دی اور کی ولی خپلی گوتی سوځوی...؟

دامریکایی گټو په خاطر خپلی ملی گټی ولی پایمالوی او د۱٤ کلن جهاد په جریان کی گاللی قربانی او ستونزی ولی ضایع کوی؟ تر اوسه پوری ددی لپاره هیح معقول او منطقی ځواب نشته .

«له بهرنیو منابعو څخه»

نجم الدین «اربکان» رهبر حزب «رفا» ترکیه است که بحیث شاخه، از نهضت جهاني اسلام در آن کشور شناخته مي شود ، حزب «رفا» فعلاً ٦٢ کرسي در پارلمان ترکیه را در کنترول خویش دارد ، تقریبا ١٣ سال قبل او بحیث رهبر حزب «سلامت ملي» عهده معاون صدراعظم ترکیه را دارا بود ، اربکان طي مصاحبه ایکه با یك نشریه اردوزبان پاکستاني انجام داده از وضع جمهوریت هاي مسلمان نشین آسیاي میانه بعد از انحلال امپراطوري کمونیستي شوروي ، و اهداف شوم استعمار در آن دیار صحبت هاي داشته که اینك ترجمه آنرا به خوانندگان محترم تقدیم مي داریم . اداره

یهودی ها در تلاش تصرف معادن طلا در ازبکستان اند

مصاحبهٔ نجم الدین «اربکان» رهبر نهضت اسلامي ترکیه (حزب رفاه)

سوال : به نظر شما مسلمانان آسیاي میانه و بقیه جمهوریت هاي جدیداً به آزادي رسیده ترك در کدام درجه از تشخص اسلامي خویش قرار دارند ؟

جواب : ترك و مسلمان براي این مردم حیثیت دو اسم از یك شي را داشت ، و مردم تاجکستان از مردم ترکستان هم تیز تر افد ، مردم آسیاي میانه و مناطق دیگر را همراه با تشخص ترکي یا اقوام دیگر به تنور کمونیزم داخل نموده بودند اکنون ٧٠ سال بعد آنها به شکل مسلمانان پخته بیرون مي آیند .

درست آنطوریکه چیزي از بین آتش تنور به شکل بهتر از شکل اولي بیرون مي آید . این اقوام اکنون خیلي نیرومند تر از مسلماناني اند که در جال غلامي گیر افتاده اند .

سوال : شما فکر مي کنید که این جمهوریت هاي نو آزاد در جهان یا جهان اسلام بتوانند نقش مهمي را بازي نمایند ؟

جواب : بلي ! بالکل مسلمان بودن یگانه تشخص آنها بود و هست و تنها همین تشخص بود که آنها را در این زمانه طویل غلامي زنده نگهداشت ، چه کسي مي تواند از تشخص سیاسي و اسلامي آنها انکار نماید ؟ اکنون آنها در سیاست جهاني و در سیاست جهان اسلام نقش خود را ایفا مي نمایند و این نکته ایست که امریکا و یهودي ها آنرا نمي پسندد!

امریکایي دعویدار قوت جهاني و رفقاي صهیوني آنها از قوت و نیروي حقیقي این کشور ها جدیدا آزاد شده آسیایي آگاه اند . و به همین دلیل آنها خواهان پارچه پارچه نمودن جمهوریت هاي آسیاي میانه اند . قبلا داس و چکش کمونیزم را بر آنها آزمایید ، و اکنون مي خواهند جهت از بین بردن آنها از کارد سیکولرزیزم «بي دیني» استفاده نمایند .

امریکا مي خواهد در این کشور ها حکومت سیکولر به شکل ترکیه را رایج گردد ، و مي خواهند «ترگت اوزال» رئیس جمهور ترکیه را براي آنها نمونه بسازند . فقط چندي قبل وزیر خارجه ترکیه از این جمهوریت ها دیدار بعمل آورد ، وزیر خارجه موصوف چه چیزي با خود به آنجا منحیث تحفه برد؟ رقاصه ها و گروه هاي از ساز و آواز را از جانب دیگر وضع در آنجا طوري است که کار پردازان جهاني صهیونیت در چهره و نقاب کمپني هاي بین المللي و توسط باشندگان یهودي آن دیار مصروف خریداري ملکیت هاي صنعتي ،زراعتي و شهري مي باشند .

سوال : آیا دوستان و همکاران شما در ترکیه جهت تدارك این وضع مصروف انجام دادن کاري اند ؟

جواب : هیأت هاي متعددي از ما از کشور هاي مذکور دیدار بعمل آورده اند ، و ما در تلاش عملي نمودن پروگرام ارسال هیأت هاي دایمي مشتمل بر متخصصین شعبات مختلف در این کشور ها هستیم . و این متخصصین در کشور هاي نو آزاد مذکور که از سیستم اقتصاد بند و کنترول شده کمونیستي به یکبارگي به بازار آزاد آورده شده اند به حیثیت تیم مشاورتي کار خواهند کرد ، و با هیأت رهبري و اهل علم و دانش آن دیار رابطه خواهند داشت .

صهيونيزم جهاني با اخذ فايده از حالات موجوده در اسياي ميانه مي خواهند همه آنها را خريداري نمايند صهيونيستان جهت خريداري تلويزيون قزاقستان به «آلمارتا» رسيده اند . آنها مبلغ هنگفتي بالغ بر ۲۰۰ ميليون دالر را به حكومت قزاقستان پيشنهاد نموده بودند ، در اين هنگام هيأت ماكه مصروف ديدار از آنجا بود از اين پيشنهاديهودي ها اطلاع مي يابد هيأت با افراد مؤثري از هيأت رهبري قزاقستان رابطه گرفت ، و آنها را از مضمرات سپردن تلويزيون ملي به اداره تجارتي خارجي آگاه نمودند، وبه اين طرح صهيونيزم جهاني از كنترول تلويزيون قزاقستان باز ماند . يهودي ها و اسرايل در تلا پيدا كردن جاي پايي براي خود از راه اقتصادي مي باشند ، وآنها براستعداد اقتصادي اين كشور ها كه مالا مال ازوسايل اقتصادي است ، نظر دارند .

سوال : صهيونيزم و اسرايل در اين ممالك چگونه جاي پايي براي خود پيدا مي كنند؟

جواب : كشور هاي نو آزاد مذكور ضرورت دارند تا تشكل اقتصادي خود را منسجم سازند ، و صهيوني ها ازاين مجبوريت و ضرورت آنها فايده مي برند ، جهت پيشرفت اقتصادي آنها پلان هاي را پيشنهاد مي كنند ، ادارات صنعتي وتجارتي را تشكيل مي دهند ، در اين سر زمين «اسيايي ميانه» سرمايه طبيعي فراواني به شكل زراعت ، مال داري ، زمين هاي وسيع زراعتي و فابريكه جات صنعتي وجود دارد ، بر علاوه معادن اعلي براي استعمال صنعتي نيز وجود دارد ، و ذخاير بي شماري طلا هم .

يهوديان تلاش دارند تابراي معادن طلا در ازبكستان كنترول حاصل نمايند ، كه هم اكنون سالانه ٤٠ تن طلا توليد مي كنند و طلا آن از بهترين نوع طلا در جهان بشمار مي رود كه همانند طلا امريكايي مي باشد . توانايي توليد اين معادن طلا به ۷۰ تن و طبق يك محاسبه به ۲۵ تن سالانه بلند رفته مي تواند. اين تنها يك مثال است ، اينك بايد همه جهان اسلام همراه با وسايل فني ، ذهني و مالي خويش در اين ممالك به فعاليت آغاز نمايد ، ورنه اين ممالك آزاد شده در يك شكنجه گرفتار خواهند شد .

سوال : در اين اواخر شوراي ممالك عربي خليج در ممالك آسياي ميانه و اذربايجان سرمايه گذاري خود را اعلان نموده اند به نظر شما از اين سرمايه گذاري تغيري در وضع اسياي ميانه رونما خواهد شد ؟

جواب : ما اين اقدام ممالك عربي را خير مقدم مي گوييم ، ولي با نيرويي مالا مال از دولت تيل كه در كشور هاي عربي وجود دارد ، ضرورت استعمال به پيمانه وسيع تر از اين و به صورت فوري ديده مي شود ، و اين كار به مفاد همه جهان اسلام بشمول ممالك عربي مي باشد ، در اين ممالك «آسياي ميانه» به بهانه قرضه ها كنترول حاصل مي گردد در نتيجه عدم واقعيت اين ممالك از بازار آزاد و ماركيت جهاني پول سود كاران جهاني اين كشور ها را به بهانه معاهده هاي مختلف در پنجه خود مي فشرد .

سوال : دريك چنين وضعيتي شما ترك ها براي برادران خود در آسياي ميانه چه كاري انجام مي دهيد ؟

جواب : مابر حكومت تركيه فشار آورده ايم تا روابط نزديك وخصوصي با اين ٦ جمهوريت نو آزاد قايم سازد ، ما بصورت مسلسل توجه حكمرانان و حكومت تركيه را به اين سو مبذول داشته ايم ما در كشور خود در اين رابطه آواز خود را بلند نمود ايم ، و نظريات عامه مردم را در اين مورد آماده مي سازيم . و آنچه از ما در اين رابطه ساخته است ، آنرا بشما گفته ام . بر علاوه اين ما جهت

مابر حكومت تركيه فشار آورده ايم تا روابط نزديك وخصوصي با اين ٦ جمهوريت نو آزاد قايم سازد ، ما بصورت مسلسل توجه حكمرانان و حكومت تركيه را به اين سو مبذول داشته ايم ما در كشور خود در اين رابطه آواز خود را بلند نمود ايم ، و نظريات عامه مردم را در اين مورد آماده مي سازيم . و آنچه از ما در اين رابطه ساخته است ، آنرا بشما گفته ام

تعليم علوم قرآني براي طلاب كشور هاي آسياي ميانه ما براي ۵۰۰ تن طلاب در هر سال زمينه تعليم را در تركيه مساعد ساخته ايم در آن كشور هاي احساس تشنگي علوم اسلامي زياد است ، و اين طلباء با فراگرفتن علوم قرآني وقتي به ممالك خويش بر مي گردند معاملات را بخوبي درك نموده مي توانند ، و در اين سلسله بر پاكستان هم مسؤليت بزرگي عايد مي گردد .

سوال : به نظر شما پاكستان در اين مورد چه كاري انجام داده مي تواند ؟

جواب : به نظر من پاكستان به چندين دليل نقشي بهتر تري از تركيه در اين مورد انجام داده مي تواند زيرا پاكستان در فاصله كمي با ممالك آسياي ميانه واقع گرديده است ، در حالكيه تركيه با ممالك آسيايي ميانه روابطه جغرافيايي ندارد ، در حالكيه اين براي پاكستان ممكن است .

رابطه فضايي مستقيم بين اسلام آباد و مراكز پنج جمهوريت آسياي ميانه ، بذات خود اقدامي بزرگي عليه فعاليت

هاي دشمنان جهاني اسلام خواهد بود . اسلام اباد نزديكترين و اسانترين راه براي همه جهان اسلام خواهد بود رابطه مؤثر فضايي جهت سد نمودن پلان هاي دشمنان خيلي ضروري بشمار مي رود ، و اسلام آباد حيثيت دروازه مركزي براي آسياي ميانه را دارد .

سوال : رابطه هوايي بين اذربايجان و تركيه وجود دارد به نظر شما نمي توان آنرا انكشاف داد ؟

جواب : پرواز هاي بين با كو و استانبول كافي نيست ، فاصله در پيشروي زياد است ، اسلام آباد با مراكز چهار جمهوريت از پنج جمهوريت آسياي ميانه در فاصله چند صد ميل قرار دارد .

المارتا ، سنكيل ، دوشنبه ، و تاشقند .\

سوال : تا حال صحبت روي ممالك آزاد آسياي ميانه بود ، نظر شما در مورد ممالك خود مختار اسلامي در داخل فدراسيون روسيه و ۳۰ ميليون آنجا چيست ؟

جواب : در مورد ممالك خود مختار اسلامي در قفقاز شمالي «كاكشيا» يعني داغستان چيچن انگوشتيا و غيره گفتن اين نكته مشكل است .كه آنها زندگي كردن در چوكات فدراسيون روسيه را قبول خواهند كرد يانه ، احساسات مردم در اين جمهوريت ها در بلند ترين درجه خود قرار دارد ، همچنان جمهوريت هاي تاتارستان «قازان »باشقرستان وعده ديگر كه در قسمت شمالي روسيه و در شرق مسكو واقع است ، به نظر من اين مسلمانها در داخل فدراسيون روسيه زندگي نموده مي توانند به شرط اينكه رفتار منصفانه با آنها صورت گيرد ، اين مسلمانان هم بايد مطمئن و آرام باشند اصل مسئله اين است كه بعد از شكست كمونيزم روسي اكنون بايد از سرمايه داري نيز نجات يابند . و اگر مسلمانان آنجا در حالت «تصادم » و حمله قرار نگيرند ، اين وضعيت براي دعوت اسلامي بهتر خواهد بود ، به نظر من افكار يلتسن رئيس جمهور روسيه ضد كمونيزم و ضد سرمايه داري هردو مي باشد .

سوال : به چه دليلي شما چنين فكر مي كنيد ؟

جواب : ما با ايشان رابطه داريم واين گفته را بنا بر همان معلومات خود مي گويم .

سوال : نهضت هاي جهاني اسلام در اتحاد شوروي سابقه و دولت مشتركه فعلي چه نقشي را انجام داده مي توانند ؟

جواب : در ممالك مسلمان از تشكيل ادارات دولتي گرفته تابازسازي اقتصادي و ديني و در ممالك غير مسلمان كار رسانيدن دعوت اسلامي بدوش تحريك هاي اسلامي مي باشد . اكنون در اين كشور ها پرده آهني دور گرديده ،كمونيزم خاتمه يافته ، و مردم آنجا در تلاش يافتن نظريه زندگي اند.

سوال : ولي امريكا اكنون جمهوريت هاي سابقه شوروي اثر و رسوخ زيادي پيدا نموده ، وزير خارجه امريكا آنقدر از اين جمهوريت ديدار نموده كه فكر مي شود عملا در آنجا بستر افگنده ؟

جواب : جيمز بيكر به خاطر مفاد دولت مشتركه ممالك آزاد در آنجا نمي گردد بلكه او مي خواهد اين جمهوريت ها را تحت اثر امريكا بسازد ، بخصوص بيكر مي خواهد شش جمهوريت نو آزاد مسلمان نشين را از بقيه امت اسلامي دور نگه دارد ولي اين كشور ها از ۳ چيز اساسي محروم مي سازد ، واحد پلي جدا گانه ، ارتش مستقل ، ، تشخص اسلامي مستقل . اين چند نكته از اهداف اساسي جيمز بيكر در ديدار هايش از اين كشور ها بشمار ميرود. و هيچ كس نبايد در مورد آن شك و شبه داشته باشد .

سوال : مملكت غير اسلامي و آزاد جارجيا كه هم سرحد تركيه است دو جمهوريت خود مختار اسلامي وجود دارد ، پروگرام كار شما براي اين مسلمان ها چيست ؟

جواب : در جارجيا مسلمانان با آرامي و امنيت زندگي مي نمايند و در آينده هم زندگي نموده مي توانند ، آنها ايالت هاي آزاد و جدا گانه دارند و با طريق مفاهمت آميز و با عزت زندگي نموده مي توانند .

سوال : در ممالك يوگوسلاويا و بلقان اكنون تلاطمي بر پا گرديده به نظر شمادراين مورد تركيه چه نقشي را ادا نموده مي تواند ؟

جواب : در مورد بلقان نقش تركيه را نمي توان محدود ساخت ، شهر بزرگ استانبول و يك قسمت بزرگ از خاك تركيه در اين خطه جغرافيايي واقع اند ، در يوگوسلايويا و«بوسينا» هرزگوينا كوسو ومقدرينه مناطق مسلمان نشين اند ، منطقه مقدرينه در بلغاريا هم منطقه مسلمان نشين است ، بر علاوه آن مناطق اسلامي و غير اسلامي در البانيا هم آزادي خود را اعلان نموده اند ، تركيه اگر بخواهد يا نه در تبديلي هاي تعلق بي تعل يا بي طرف باقي مانده نمي تواند ، امريكا از اين ناحيه هم تشويش دارد كه تركيه اين جمهوريت ها رابه رسميت مي شناسد .

سوال : در چنين وضعيتي به نظر شما امريكا مي خواهد ارتش شما قوي گردد ؟

جواب : نه خير ، امريكا نه در بلقان و نه در اسياي ميانه مي تواند ماموثر باشيم ، امريكا اكنون بعداز خاتمه اتحاد شوروي قواي مسلح تركيه را در اين سطح از آمادگي و نيرومندي نمي تواند ببيند ، و مي خواهد ارتش تركيه را تضعيف نمايد

سوال : به نظر شما علاج اين وضع در چه است ؟

جواب : به نظر من اين وضع يك علاج دارد كه نه تنها خاتمه اين وضع از آن ممكن است بلكه همه مسايل جهان اسلام از آن حل مي گردد ، و آن علاج اينست كه همه نيرو و توانندي كشور هاي اسلامي به تحريك هاي اسلامي منتقل گردد ، و اين يگانه راه حل است .

ترجمه از :احمد نور نفير

دمایه نازمجاهد پاکستاني ژورنالست محمد صلاح الدین له خولې

دیوه ښه ژورنالیست او ښې خبرونې ځانګړتیاوې



پوښتنه : ستاسو د مطبوعاتي ژوندانه د پیل لومړي ورځ څنګه وه دهغې ورځې یادونه به نن هم ستاسو په زړه او دماغ کې خوندي وي پدې اړه موږ ته څه وواییې ؟

ځواب :زما د مطبوعاتي ژوند پیل په غالب ګومان د ۱۹۶۳ کال د اپریل په کومه ورځ ؤ ، اودغه پیل له کراچي نه خپریدونکي «حریت» ورځپاڼي څخه ؤ ددغې ورځپاڼي چلوونکي «فخرماتري» صاحب ؤ ،دنوموړي خپروني د خبرونو مسؤل نیر علوي صاحب ؤ چې زما یو ټولګیوال او دوست ښاغلي نثاراحمد زبیري صاحب ئې مرستیال ؤ ، نثاراحمد زبیري صاحب زه هلته بوتلم او د مولاناظفر احمد انصاري د زوي ساغلي افاق انصاري پرځاي مي د مقرري خبره وشوه خو زما دټاکلو د شرطونو څخه یو داهم ؤ چې نوي راغلي سړي به هلته لس ورځې کار کوي بیا به دهغه د فعالیت او استعداد په باب د خبرونو د برخي مسؤل یو راپور تهیه کوي او وروسته به یې د مقرري په اړه وروستي پریکړه کیږي .

کله چې زه ورغلم نو د«ډان» ورځپاڼي سرمقاله یې د ژباړي لپاره راکړه ، په دي خو پوهیږو چې د سرمقالي ژبه د خبرونو له ژبې سره ډیر توپیر لري دغه سرمقاله مي وژباړله او چې سبا ته په اخبارکي چاپ شوه نو اخبار چلوونکي فخر ماتري صاحب ډیر په غوسه د خبرونو ځانګي دفتر ته راغي او په ډیره غوسه او خفګان یې نیر علوي صاحب ته وویل چې دغه مطلب چا ژباړلي دي ، نیرعلوي صاحب چې د هغه دغه د غوسي حالت ولید نو زه یې بچ کړم او ورته ویې ویل چې دا ما ژباړلي مهرباني وکړي څه غلطي پکې ده ؟

هغه بیا په کړس کړس وخندل او دژباړي یې ډیره ستاینه وکړه ورته ویې ویل چې دا خو دي ډیره ښکلې ژباړلي ، نیر علوي صاحب چې دا واوریدل نو زه یې ورونښودم او ویې ویل چې دا ژباره دده ده ، څنګه چې دوي پرون راغلي ما ستا غوسه ولیدله نو مي مسؤلیت په خپله غاړه واخسته ، بیا فخر ماتري صاحب ما ته رانژدي شو لاس یې راکړ زه یې نور هم تشویق کړم او دلسو ورځو شرط یې هم له منځه یوړ په همغه ورځ مقرر شوم ،په حریت ورځپاڼه کي په هغه وخت کي ډیر لوي لیکوالان او ژورنالستان را ټول وو -نصرالله خان صاحب کالم لیکه ، نیر علوي صاحب ، محمودفاروقي صاحب او نور وو.

پدي ډول په دیرشه چاپیریال کي زما مطبوعاتي ژوند پیل شو ،.داهم باید ووایم چې هغه وخت ما دمطبوعاتي کارونو سره سره له درس او تعلیم سره هم اړیکي درلودي او زه ښوونکي وم چې تر شپږ، و کلونو پوري دغه لړي روانه وه په ۱۹۶۹ کال مي د معلمي دنده بشپړه پریښوده او له مطبوعاتو سره مل شوم

* پوښتنه : تاسو د مطبوعاتو په کومه څانګه کي کار کړي او په کومه برخه کي ځانې بریالي محسوسوي ؟

ځواب : زما دمطبوعاتي ژوند پیل د خبرو نو له څانګي نه ؤ خو د خبرونو تر څنګ ما داخبار لپاره هرڅه کول ، سرمقالي ، تحقیق ، راپورتاژ او بالاخره په هره برخه کي مي طبع آزمایي کړي ده .

یو وخت مي د جسارت په ورځپاڼه کي یو دایمي کالم د «کوي سیاست» یعني د سیاست کوڅه»تر سرلیک لاندي پر لپسي خپریده . ما یوازي په اخبار پوري ځان پیوست پرینښود بلکي د تبلیغ له ټولو وسایلو سره مي سراوکار ؤ، د رادیو او تلویزیون په مختلفو پروګرامونو کي مي برخه اخستي تر څو زما خپل ذهن هم وسیع شي او خدمت هم پراخ وکړای شم.

●پوښتنه :دیوه ښه ژورنالست او لیکوال لپاره کوم صفتونه لازم او ضروري ګڼې؟

● ځواب : ژورنالیزم او صحافت یو داسي مسلك دي چې په یوه وخت کي پرله پسي له دوو لوریو څخه تر فشار لاندي دي، یو لوري ته ترغیب او تحریص ، اوبل لوري تهدید او فشار.

یوه لوري ته ډول ډول رشوتونه او

منصبونه دي چي د ژورنالست او ليکوال د ديانت ازمويښت دي بل لوري ته ژورنالست او ليکوال وهل کيږي هم ، ډارول کيږي هم او په خطرونو تهديدېږي هم . ويره او فشار يوازي د حکومت له خوا نه وي ، يوه نشريه کي د ډيرو خلکو په باب خبرونه خپريږي ، دغه خبرونه به خامخا ديوه چا پر خلاف هم وي ، کله کله يو مجرم له موږ نه ناراضه وي چي ولي يي جرم او گناه مشهوره کړاي شوي ده ، له خيانت نه يي ولي پرده پورته شوي ده ، ځني دا گيله کوي چي داخبار په واسطه يي ناروا گټي تر تهديد لاندي راغلي ، لنډه داچي يو ژورنالست په ځانگړي ډول ځان تر دوو شکنجو لاندي ويني يوي خواته د ترغيب او تحريص فشار او بلي خواته تهديد او اخطارونه . يو ژورنالست تر هغه وخته پوري خپل مسوليت نشي تر سره کولي چي د متدين شخصيت خاوند نه وي او له بلي خوا دهر ډول فشار او تهديد دمقابلي جرئت حوصله او زغم ونه لري.

بله داچي د يوه ښه ژورنالست لپاره ضروري ده چي د خپلي خبري د بيانولو لپاره ښه او مناسبه ژبه وکارولي شي ، له مناسبي ژبي څخه مي مطلب دادي چي داسي ژبه چي په هغي کي د تبليغ عنصر زيات وي او لوستونکي د ليکني په مقصد وپوهوي.

په ادبي ليکنو کي خبره په اشارو او کنايو کيږي خو په مطبوعاتو او ژورناليزم کي بيا سيده او سپينه خبره په کار ده ، مطلب بايد ډاگيز بيان شي . ليکنه بايد لنډه ، منطقي او انغزمنه وي . يو ژورنالست بايد د زياتي مطالعي خاوند وي ، زما له خپلو ژورنالستو ملگرو څخه يوه دايمي گيله داده چي هغوي ډيره کمه مطالعه کوي ، په مطبوعاتو کي پرلپسي مطالعي ته ضرورت دي ،د مطبوعاتو ډگر د يوه روان سيند په څير دي چي که چيري د سيند اوبه ودريږي خو سا کيږي همدغسي د يوه ليکوال او ژورنالست لپاره د وامداره مطالعه ضروري ده او مطالعه بايد هيڅکله هم پرينږدي.

د يوه ښه ژورنالست وروستي ښه صفت دا گڼم چي هغه بايد د لوړ شخصيت خاوند وي ، هغه بايد هيڅکله پر خپلو اوصولو سودا ونه کړي ، هغه که له چا سره اختلاف کوي نو د عناد او کيني بوي پکي نه وي او که له چا سره متفق وي هم نو بي ځايه ستاينه او چاپلوسي ونه کړي .

● پوښتنه : آيا دامحسوسوي چي دا پورتني صفتونه په تاسو کي شته ؟

● ځواب : زه د ځان په باب قضاوت لوستونکو ته پريږدم او پخپله څه نه وايم .

> د يوه ښه ژورنالست وروستي ښه صفت دا گڼم چي هغه بايد د لوړ شخصيت خاوند وي ، هغه بايد هيڅکله پر خپلو اوصولو سودا ونه کړي ، هغه که له چا سره اختلاف کوي نو د عناد او کيني بوي پکي نه وي او که له چا سره متفق وي هم نو بي ځايه ستاينه او چاپلوسي ونه کړي .

● پوښتنه : ستاسو په نظر د يوي ښي اونيزي ښيگړي ،صفتونه او مفردات څه دي ؟

● ځواب : زموږ په هيواد کي «البته زموږ په ټولنه کي هم : ژبارن»دا غلط فهمي عامه ده چي يوه اونيزه خپرونه «مجله يا اخبار» ډير آسانه کار دي خو که د ژورناليزم له ماهرانو څخه دا پوښتنه وشي نو د هغوي په نظر د صحافت او مطبوعاتو تر ټولو ستونزمن صنف او څانگه «اونيزه» ده چي يوه اونيزه دجريدي په کچه ډيره کوچني شکاري خو اونيزه اصلاً ورځپاني سره پرتله کيږي ، اونيزه هم له نويو پيښو او حادثو سره وي له هغه څه سره چي په نړي کي پيښيږي په اونيزه کي وي ، يوه ورځپانه زياتي پيښي هر سهار په خپلو پاڼو کي رانغاړي او دخپلو لوستونکو په خدمت کي يي وړاندي کوي حال دا چي دغه پيښي بيا يوه هفته وروسته اونيزه خپرونه وړاندي کوي . نو دلته پوښتنه بيا داده چي دا اونيزه خلك ولي لولي په داسي حال کي چي خبرونه يي پخوا په ورځپانو کي خلکو لوستي وي ، دلته دري څلور داسي خبري شته چي اونيزه د کاميابي پوړيو ته رسوي.

لومړي خبره داده چي اونيزه يوازي راپور نه بلکي تحليل هم لري او ديوي پيښي خبر له ټول پس منظر سره خپروي له دي نه علاوه د اونيزي د رپوټ او تحليل معيار له ورځپاني نه اوچت وي تاسو د دنيا هره مشهوره اونيزه وگوري مثلاً زه يي نوم اخلم ټايم،نيوزويك ، فارايسټرن،اکنامك ريويو ، اکنومست خپروني راواخلي د کومي يوي يو پراگراف ولولي د ژبي ، جمله بندي او تحليل له مخي به د هري يوي ورځپاني نه به ډير لوړ تر نظر ورځي ځکه خو د لوړ معيار ليکوال او ژورنالست يوه ښه اونيزه را ايستلي شي .

خو بيا کولي شي څو پاخه او نوي ليکوال او ژورنالستان يوه ورځپانه وچلوي،ځيني په سيمه ايزو موضوعاتو کي بوخت وي ، ځيني به ليکونه ترتيبوي او ... که د کوم ښه اخبار سره دري څلور تکړه ليکوالان او خبريالان وي نو نور څه نوي او بي تجربي کسان هم په کار اچولي شي او کار يي روانيدلي شي .

خو اونيزه بيا يوه داسي خپرونه ده چي بي تجربي کسان نه پکي چليږي که يو تن بي تجربي او کمزوري ژورنالست پکي وي هم د ټولي اونيزي معيار کمزوري کوي او د يوي معياري اونيزي خپريدل نا ممکن کوي .

په عام دول خلك دا گومان هم کوي چي د يوي ورځپاني لپاره زيات وسايل په کار وي خو اونيزه خپرونه په لږو وسايلو

هم چلیداي شي چي د همدي غلط فهمي په وجه په پاکستان کي اونیزي ویستل کیږي او بیا بیرته ډوبیږي .

وگوري د ټایم او نیوزویك هفته نامو ته چي د نړي په ټولو مهمو سارونو کي نمایند گان لري . عصري وسایل یي په لاس کي دي چي له هر گوټ نه نوي عکسونه او خبرو نه په لږ فرصت کي تر لاسه کړي . او څومره چي د دغو اونیزو فني او ملکي پرسونل لري او وسیع تشکیلات لري هومره د یوي ورځپاني هم نه دي څکه خو به تاسو لیدلي وي چي هغوي له یوه اخبار څخه هم تر اوسه کوم مطلب نه دي اقتباس کړي . د دي پر خلاف د نړي زیاتي مشهوري ورځپاني له دغو او نیز و څخه مطالب او خبرونه اقتباس کوي ، په دي اعتبار یوه اونیزه په وار وار له یوي ورځپاني څخه وړاندي او اوچته وي د اونیزو سر مقالي او تبصري هم له ورځپانو څخه بني معیاري او منطقي وي د دي دلیل هم دا دي چي د ورځپاني چلوونکي مجبور وي د یوي پیښي په رابطه په همغه ورځ یو څه ولیکي خو د یوي اونیزي مسول بیا یوه اونۍ وخت لري پر موضوع ښه غور او فکر کوي او تر بشپړي څیړني وروسته سرمقاله وړاندي لیکي.

دیوي معیاري اونیزي لپاره لاندیني څلور پنځه خبري باید په پام کي ونیول شي.یوداچي اونیزه باید آسانه او هسي دساعت تیري وسیله ونه بلل شي. دوهم داچي د اونیزي د بري لپاره باید د ښو پخو لیکوالو او خبریالانو ټیم جور شي . دکامیابي اونیزي بل شرط د نړي په مهمو ښارونو کي نمایندگان دي ، بل داچي که یوه اونیزه په خبرونو او تحلیلونو کي تر یوي ورځپاڼي وړاندي او اوچته نه وي نو هیڅکله به لوستونکي ونه لري.

پوښتنه : د یوه ژرنالست په حیث تاسو د کیڼ لاسو او ښي لاسو له اصطلاح سره او ددوي دتوپیر سره موافق او قایل یاست او ددوي دواړو حدود ستاسو له نطره کوم دي ؟

ځواب :د ښيّ لاس او چپ لاس اصطلاح اصلاً د قرآ نکریم څخه اخستل شویده «اصحاب یمین او اصحاب یسار» اصطلاح قرآن استعمال کړیده ، په دغه آسماني کلام کي دا ویل شویدي چي کوم کسان چي نیك کارونه کوي او کوم کسان چي د الله(ج) فرمانبردار او درسول الله د ارشاداتو پیرو دي د آخرت په ورځ به یي د اعمالو پاڼه په ښي لاس ورکول کیږي چي داخبره به ددي نخښه وي چي هغوي جنتیان دي. څکه چي نوموړي اصحاب یمین وریاندي ایښي ، بله ډله به داسي کسان وي چي د کړو وړو پاڼه به یي په چپ لاس ورکول کیږي هغوي قرآن کریم دوزخیان بللي، داد ښي لاسو او چپ لاسو توپیر قرآن کریم د اعمالو او کړو وړو په نسبت کړي دي او د دغو کړو وړو اصلي بنیاد بیا د توحید او شرك پر توپیر دي.

اوس زموږ په ټولنه کي د ښي لاسو او چپ لاسو په باب داسي ویل کیږي چي کوم کسان چي په فعلي ټولنه کي غواړي بدلون راولي هغوي د چپ لاسو او ترقي غوښتونکو په نوم یادوي او دغه ترقي غوښتونکي غواړي موجوده ټولنه له بنیاده بدله کړي او یو نوي نظام جوړ کړي ، د حیراني خبره داده چي سوسیالستي او کمونستي هیوادونو په مرکز کي څوك اوچت شي او ووایي چي راځي دغه ټولنه او نظام په یوه بل نظام بدل کړو نو «چپ لاسي »دي ته تیار نه دي هلته په ټولنه کي بدلون غوښتونکي باغیان بلل کیږي او په بل ځاي کي چي دوي غواړي په ټولنه او نظام کي بدلون راولي هلته بیا ترقي پال شي . نو داسي ښي لاسي ، چپ لاسي او یا ترقي غوښتونکو ناري سوري چي سوسیالستي گوندونه او افراد یي اوچتوي زه یوازي فریب او دوکه گڼم ، زه ځان له سوسیالستانو نه زیات ترقي غوښتونکي گڼم.

اسلام د سوسیالیزم په نسبت زیات د پرمختگ اوډټولنیزي ترقي دین او نظام دي ، سوسالیزم په ټولنه کي یو دوه بدلونونه راولي او هغه هم مهم بدلون داچي هر څه د حکومت ملکیت شي خو ددي پرخلاف اسلام د ټولني په هر اړخ کي بنیادي او اصلاحي بدلون راولي ، دسوسیالیزم ډندورچیان دي راشي له ما سره دي کیښني زه حاضر یم له دوي سره بحث وکړم بیا به معلومه شي اسلام ترقي پال دي او که سوسیالیزم .

څکه خو زه دا اوسني اصطلاح د ښي لاسو او کیڼ لاسو په باب چي عامه او مشهوره ده یوه دوکه بولم زه د قرآن د ښي لاسو او کیڼ لاسو پر اصطلاح کامل ایمان لرم .

* پوښتنه : آیا ستا ضمیر پردي مطمئن دي چي د یوه ژورنالست په حیث مو خپل مسولیتونه همیشه په دیانتداري تر سره کړي دي ؟

ځواب :په دي اړه زما ضمیر بلکل ډاډه دي ، خو دانه شم ویلي چي زما رب (ج) هم زما د شخصیت او کړو وړو څخه خوش دي که نه زما ضمیر څکه ډاډه دي چي مطبوعات ما تر اوسه پوري د کومي شخصي گټي لپاره نه دي کارولي ، په ۱۹۵۰ کال کي چي په کوم کورکي اوسیدم نن هم په همغه کور کي اوسیږم ، صحافت ما هیڅکله هم د خپلي پانگي د زیاتولو لپاره نه دي استعمال کړي ، زما په خیال مطبوعات د څه لاسته راوړو شي نه دي د څه ورکولو شي دي ، زه تل په دي فکر کي یم چي مطبوعاتو له لاري خپل ولس ته څه ورکړم ، زما پام تل د څه ورکولو په جهت کي وي نه د څه تر لاسه کولو ، زه انسان یم سهواً به لمانه څه غلطي شوي وي که څوك زما پام ور واړوي په اصلاح کي به یي زیار باسم ، خو ما دخپل مطبوعاتي ژوند په دوران کي هیڅکله هم قصداً داسي کار نه دي کړي چي اوس مي ضمیر پري ملامت او پړ وي.

* پوښتنه : د حق ویلو په گناه کله زندان ته تللي یي ؟

حواب : زندان ته اوه ځلي تللي یم ، ما نږدي یو نیم کال موده په زندان کي تیره کړیده ، زما پر خلاف «۴۲» دعواگاني په محکه کي ثبت شوي دي ، د بوټو صاحب په وخت کي خو زما دا حال ؤ

چي کله به له يوي دعوي څخه ما ځان خلاص کړ نو بله به را باندي شوي وه ، او بيا به جيل ته روان وم ، په زندان کي مي هم کوټه قلفي سختي تيري کړيدي خو په هر صورت هغه يوه مرحله وه چي اوس تيره شويده .

*پوښتنه :تاسو د خپل اوږده مطبوعاتي ژوند په جريان کي د کوم ژورنالست او ليکوال د فکر ، عمل، جرئت ، پوهي او اصول پرستي تر اغيزي لاندي راغلي ياست ؟

ځواب : زه مولانا مودودي اصلاً يو ژورنالست او ليکوال گڼم ، هغه د «ترجمان القرآن» مدير ؤ ، هغه خپل ژوند ديوه ژورنالست په حيث پيل کړ ، په هندوستان کي هم هغه له مختلفو نشريو سره کار کاوه ، د هغه قلم زه تر ټولو زيات متأثر کړي يم ، د هغه شخصيت هم زه تر هر چا زيات متاثر کړي يم زما په ليکنو ، زما په زړه او نظر چي د کوم شخصيت فکر زيات اثر غورځولي هغه مولانا مودودي (رح) دي له هغه نه وروسته په پاکستانيو مطبوعاتو کي زه د" فخر ماتري" څخه اغيزمن يم ، هغه ډير زړور ژورنالست ؤ او له پاکستان سره يي زياته مينه وه له هغه نه علاوه د الطاف حسين قريشي صاحب يادونه ضروري بولم هغه هم په خپل مطبوعاتي ژوند کي له زيات جرئت او شهامت څخه کار اخستي د هغه په قلم کي چي کوم سلاست او اغيز دي زه د زړه له کومي ورباندي معترف يم ، په دي هيواد کي نور هم دير ښه ليکوالان او ژورنالستان شته او ډيري ښي ليکني کوي ، خوزه يوازي له هغو ژورنالستانو څخه متاثر شوي يم چي اخلاق او کړه وړه يي هم سم وي ، که له شرابو او نورو اخلاقي فسادونو سره وي زما ذهن نشي تري اغيزمن کيداي او د هغوي تر هر چا نس ليکني مي هم پر ذهن اثر نشي کولي .

* پوښتنه : ستاسو په نظر مطبوعات بايد تر کومه حده ازاد وي ؟

حواب : آزادي چي د څه شي نوم دي دهغه په مفهوم کي پابندي هم شامله ده ، دمثال په توگه زما د' آزادي بريد هلته ختميږي چي ستا د آزادي بريد پيل کيږي ، آزداي په حقيقت کي داسي شي دي لکه تر فصل چي ديوال تاوشي ، دغه ديوال ددي لپاره وي چي د فصل د ننه حاصل وساتلي شي اوس که دغه ديوال څوک خرابوي نو غلطي کوي ، د نړي ټولي

> زما په خيال مطبوعات د څه لاسته راوړو شي نه دي د څه ورکولو شي دي ، زه تل په دي فکر کي يم چي مطبوعاتو له لاري خپل ولس ته څه ورکړم ، زما پام تل د څه ورکولو په جهت کي وي نه د څه تر لاسه کولو ،

آزادي تر څو شرطونو پوري محدودي وي مثلاً د کار او بار تجارت او نورو چارو په باب آزادي د هر انسان بنيادي حق دي خو په ټولنه کي په دي اړه څه پابندي هم ضروري لگول کيږي چي له ځنو لارو څخه تاسو خپله نفقه لاسته راوړي شي او له ځنو نورو لارو څخه نه همدارنگه د هر وگړي د ځان ، مال او عزت په باب ځني پابندي ضروري داسلام لارښوني هم همداسي دي چي د ځنو کارونو د کولو حکم دي او له ځنو نورو کارونو څخه منعه کړاي شوي يو.

د مثال په توگه ماته خپل کور ته د ننوتلو اجازه او آزادي شته خو ددي تر څنگ د نورو کورونو ته د ننوتلو اجازه نه لرم .

د مطبوعاتو آزادي هم همدغسي ده ، زموږ قلم آزاددي خو ددي تر څنگ د ځنو اصولو پابندي هم شته په دي حدودو او پابنديو کي دالله (ج) حدود دي ، وروسته بيا د هيواد د نظريي او عقيدي مسئله ده ، د هيواد د وجود او استقلال په باب هم پابندي ده .

يو ليکوال هم د خپل هيواد پر خلاف د څه ليکلو حق نه لري خو دا ډير د تأسف ځاي دي چي اوس په پاکستان کي داسي کتاب هم ليکل کيږي چي نور پاکستان بايد له منځه يووړل شي. يو سياستپوه داسي وايي چي پاکستان د انگريزانو اجنتانو جوړ کړي دي د يوه بل سړي ادعا ده چي پاکستان قاديانيانو جوړ کړي دي اوس د هيواد پر خلاف دي ډول بي هوده او ناروا پروپاگند ته يوه ټولنه هم آزادي نشي ورکولي ، دي ته آزاد ي هم نه وايي د هيواد دسالميت او عقيدي پر خلاف ليکنه زه بغاوت گڼم . دمطبوعاتو د آزادي په نامه د هيواد پر خلاف د څه ليکلو او پروپاگند اجازه شته د مطبوعاتو د آزداي په لړ کي په سراسر نړي کي يوه اخلاقي پابندي هم شته دد غه اخلاقي پابندي په لړ کي دا هم دي چي ته په خپلو ليکنو کي د چا له عزت او ابرو سره لوبي نشي کولي زه دلته د يوي خپلواکي ټولني مثال راوړم ، په امريکا کي هم تاسو د اتلس کلني نه لږ عمر نجليٌکي پلار او مور له اجازي پرته په اخبار کي نشي چاپولي ، اوس که څوک وايي چي د اخو دمطبوعاتو د آزادي ضد دي نو دا خبره غلطه ده ،پر مطبوعاتو دغه پابندي ککله ده چي ديوي کورني عزت او آبرو پکي خوندي وي خو په پاکستان کي د ځنو نشريو عکاسان د نجونو ښوونځيو ته ورننوزي او دنجونو تصويرونه اخلي په خپلو اخبارونو کي يي چاپوي ، په کورونو کي بي ميندي او پلرونه له غوسي او انديښني سرونه په لاسو کي ونيسي . اوس پوښتنه داده چي ژورنالست اوعکاس ته داسي آزادي ورکول د شريفو هيوادوالو عزت او آبرو له خاورو سره د برابرولو په معني نه دي ؟ د آزادي لپاره ځني اخلاقي پابندي دي ، حتي قانوني پابندي هم دي چي بايد د هغي دننه د آزادي له حق څخه کار واخستل شي . البته څرنگه چي دآزادي لپاره هم حدود او مقررات دي همدغسي د پابندي لپاره هم حدود او مقررات دي ، په يوه مهزبه ټولنه کي داسي پابندي نه وي چي د نورو آزادي سلب او متاثره شي تاسو پر ما دا پابندي نه شي لگولي چي زه په خپل کور کي د اوسيدو آزادي لرم خو له کوره نه شم وتلي دا زما د آزادي سلبول دي. نو دآزادي ا و پابندي خپل خپل بريد وي چي بايد مراعات شي.

****

نقدی بر مجموعهٔ داستانی «باران»

نویسنده - ل . خرم

مجموعه داستانی « باران» نوشته محترم حلیم تنویر شامل ۸ داستان کوتاه خوب و مقبولیست که بر راه نیمه روشن و نو شناخته داستان کوتاه چون نور امیدی تابیده است.

داستانهانی کوتاه محترم تنویر دنباله رو واقعیت گرائی و تحولیست که پس از سالها رویاپروریها ، وبه کاربردن سوژه های مضحك بازاری ورمانتیك گونه در داستان به وجود آمده است و دیدژرف و موشگافانه و حساس نویسنده باریتم و آهنگ هنری با تصویرهای زنده بی واسطه و گویاداستانهای این مجموعه را مشخص نموده است ، باخواندن هریك انسان با زندگی اش و با حقایق تلخ آن در می آمیزد زندگی اش را باهمه گوشه و کناره وسایه روشني ها یش باهمهء زشتی ها وخوبی هایش در برابر خویش مینگرد وانسانهایش راه خود ش راکه جزئی از آنهاست آئینه سان در برابرچشمانش مینگرد و آه میکشد ، آه میکشداز برای اینکه چرا تا حال نتوانسته خودرا و محیط خود را بشناسد و چرا انسان نتوانسته تا حال همه زوایای ظلمانی محیط اش را باتور عدالت روشنایی بخشدو همه مظاهر زشتی و نکبت را از دامان آدمیان مفلوك ، نشسته در تاریکی های ظلمت دور کند .

به گونهء مثال داستان « باران» که بهترین داستان این مجموعه نیز شمرده شده میتواند بیانگرعمق بدبختی ها و تصویرگر حالت زار مردمیست که جز خدای دیگر دادرسی ندارند و جزباران رحمت او دیگر وسیلهء برای ادامهء حیات ندارند و همچون گل های خودروی بیابانهاسر بر آسمان داشته اند تا مگر ابر رحمت بر آنان ببارد و تن های پژمرده شانرا زندگی بخشد ولی آتش ظلم وتجاوزی که بر آنان رضا کارانه حکومت می کند حتی ابر ها یشانرا در آسمان می سوزاند و در روی زمین نیز جائی برای پاگذاشتن به آنان نمی گذارد .

زمینه و عکاسی فضای داستان باسوژه آن انطباق کامل دارد و همه باهم سخت هنری اند چنان که میدانیم دریك داستان جدال و حادثه آفرینی جزحتمی و لازمی به حساب می رود، داستانی که جدال نداشت داستان نیست ، جدال و حادثه گری که با گذشتن در انتها به نتیجهء منطقی خویش برسد. داستان «باران» نیزخالی از جدال نیست بلکه اساس و بنای آنرا جدال و کشمکش تشکیل داده است حوادث پیهمی ومرتبطی که ناشی از جدال محکومین با اجبار طبیعی و تصنعی زندگی است همزمان روبه اوجی می رود که نقطهء انفجار تصادمات است از مبارزه با قهر طبیعت (بی آبی)تادمیدن روح مبارزه با حاکمین ظالم قریه ، و جدال مرگ بازندگی که نتیجهء آن زیاد شدن انسانی در میان انسانهای گرسنهء دیگر است. این همه را به انفجار مقابله محکوم با حاکم می برد که علت خشکسانی این جدال را تقویه می کند، اما داستان درست درهمین مراحل حساس ومنفجر شونده ناگهان روی قهرمانان را از سمت اوج به سوی دیگری گردانیده و یکبار دیگر روح عجز و خواری و نیاز در قهرمانان مشتعل آن دمیده می شود. درین مرحله از سه تن قهرمان تنها یکی آن باقی مانده بدون انکه سرنوشت منطقی آن روی دگر که در نزدیکی اوج آب شدند و از بین رفتند واضح شود گرچه «مادر» در طی سخنانش برای طفل خویش اورا ازسرنوشت پدر و خواهر آگاه می سازد اما تاثیر این توضیحات طولانی و در عین حال روایتی در ذهن خواننده بسیار کمتر از آن زمانیست که اگر نویسنده سرنوشتشان را با اعمال و رفتارخود شان ودر زبان خود آنان در نقطه اوج به روی صفحه می آورد .تاکیدبیش از حد نویسنده بر علت طبیعی بدبختی آنان تاثیر جدال طبقاتی یاد شده در آن ونتایج حاصله از آن را ازبین می برد.

باآنهم به گمان غالب باران با تصویر گری روشن و دقیق دیالوگ های مناسب وفضای زنده و متحرك از بهترین داستانهای این مجموعه محسوب گردیده میتواند . طوالت و درازی آن نقصی است که باید بدان اشاره نمود .

داستان « غم ناشناخته » نیز ازنگاه زمینه سازی و بیان زنده و عمیق زنده گی مردم شهر کهنه ء کابل داستان خوبیست ولی نقص عمده ء آن این است که تا پایان داستان خواننده ء منتظر حادثه می نشیند و به اشتیاق لا اقل یك حادثه آنرا تاآخر دنبال می کند و اما در پایان بدون آنکه به نتیجهء منطقی آن و هدف مخصوص آن پی ببردویا پایان آنرا باور کند چشم از سطور آخر آن بر می گیرد .

نویسنده در داستان « دختر گورستان» کوشیده است تابه مسایل روانی افراد بپردازد،درونکاوی نماید و بابیان جهات منفی، زننده و فخش جامعه انشاکاری نموده به علل و عوامل آن بپردازد ،اما تاجائیکه می بینیم درین هدف خویش چندان موفق نبوده است . نویسنده هرچه خواسته دربرائت قهرمان

بدکار داستان طرف واقع شود و از او دفاع نماید نتوانسته علت هرزگی زن« قهرمان» را بامنطق منطبق نماید چه داستان گذشته ء زن نیز بیانگرروح بیباك و لجام گسیختهء اوست و جامعهء افغانی و اسلامی بافطرت و مزاج خاص خود آنرا دلیل موجه ء مظلومیت چنین شخصی تلقی نموده نمی تواند و غربت نیز یگانه دلیل بدکاری و بی بندوباری شده نمی تواند ، اما اگر نویسنده بر دیوانگی او تاکیدنموده و از نوشتن جملات سنجیده زبانی او خود داری مینمود میشد تاحدی آنرا برای هرزگی اش علت موجه خواند .

همچنان این داستان تا نیمه های آن از زبان اول شخص مفرد بیان شده و بعد از نیمه هابآن بصورت ناگهانی زاویهء دید تغیر نموده و از زبان غائب (دانای کل) بیان گردیده است .

«مردیکه خاموش بود» یکی از داستانهای خوب این مجموعه به حساب آمده می تواندنویسنده درین داستان توانسته است تا حد زیادی به هدف خود که ارائه داستان زنده با تتصویر های گویا از واقعیات جامعه است ، دست یابد، و بر خلاف داستان خوب دیگر « باران» که دچار گمگشتگی اوج و پایان مجادله شده بود از یکپارچگی حوادث وطرح بر خوردار است .

بیان دقیق و کنجکاوانهء حالت قهرمان و سخنهای ناگفتهء درونش به گونه ایست که خواننده در دنیای اندیشه های او گام به گام پیش میرود و در عمق پریشانی هایش راه می یابد.

داستان « حق نه نه ره بتی» بازمینه ء نامناسب و مصنوعی و مفهوم محصوردر کلمات طرح های نامرتب از اصالت خود کاسته است، مقدمهء آن سخت قرار دادی و کلیشه ای است روبروشدن نه نه با جوان خندان و بشاشی که دوستان خودرا میخنداندومبدل شدن ناگهانی آن جوان مست به یك جوان انقلابی و سرسخت که بر ضد ظلم و استبداد بیانیه میدهد، آنهم برای پیره زنی که تنها پول سیاهی از او خواسته است و گنگ ماندن ماهیت انقلابی گری جوان و بعد هم پیدا شدن او باگذشت چند ماه باموهای سفید در برابر زن همه حوادث غیر طبیعی وتصنعی بدون پرداخت واضح وتجربی به موضوعات هستند ، داستان اوج ندارد چون که جدال و کشمکش ندارد ونویسنده صرف باچند جمله کوتاه از زبان جوان به مجادله مبهمی اشاره نموده است .

زمینهء داستان «گناه» نیز نامرتب است و اتفاقات و صحنه ها جاهای مشخص خودرا ندارد درینجا نیز باساختن زمینهء مصنوعی نویسنده خواسته است حرفی از جدال و انقلاب بزند اما نتوانسته به این جدال جهت خاصی بخشیده،و به داستان روح بدهد.

ظلم ، جبر ، غربت و تنگدستی درهمه زمانها بر جامعه ماحاکم بوده و است و حقیقتاًنویسندهء واقعی کسی است که این همه را ابراز بدارد و با قلم خویش به جنگ این سیاهی های وحشتزای زندگی بشتابد.

داستان نیز طریقهء برای بیان حالات است ،داستان عکس هنری همین بدبختی هاست، داستان نقاشی همه حالات زندگی با همهء عمق وژرف آن است حالاتی که انسان برای درك درست آن احتیاج به تجربهء ناخود آگاه خویش دارد و همیشه در پهلوی علل عام علت خاصی نیز باید وجود داشته باشد تا درك واقعیات و حوادث را آسانتر نماید ،به همینگونه در داستان که بیان زندگی است نیز باید برای بیان علت عام جوحاکم بر جامعه به بیان و توضیح علت خاصی و مشخصی نیز متوسل شد، چرا اذهان خواننده گان نیز برای درك مطلب نویسنده به طرح یك تجربه ء کامل یك تسلسل کامل و یك تصویر روشن ضرورت دارندو نباید در یك داستان از مقدمه های شعار گونه یا تکیه کلام های تصنعی و متعدی که حاوی فضاو محیط مسلط بر داستان باشد کار گرفت و صحنه های زندگی را باید طوری در پهلوی یکدیگر بادقت قرار داد که قصد و هدف نویسنده در آن داد و بیداد راه نیندازد وتسلسل قصه را ازبین نبرد ، تاکیدهای کلی و ضمنی ودیالوگی بر هدف عمومی داستانها یعنی غربت به نظر مااضافی مینماید چه با داخل شدن درفضای هر داستان خواننده به چگونگی حالات ووضع زندگی قهرمانان و افراد آن پی می برد و بر جستگی یك داستان نیز در آن است که نویسنده بدون اشاره لفظی به اهداف خویش آنرا بابیان حالات قهرمانان و طرز عمل آنان بیان بدارد.

نویسنده در اغلب داستانها لغاتی چندی رامکرراً و پی هم در سطور مختلف تکرارنموده است مثلاً : ناشیانه ، دودی زده ، می نماید و .... که این دو آخر ازنگاه ترکیب لغوی نیزنقص دارند چه بجای دودی زده باید یا دود زده نوشته میشد یاهم دودی یا بجای می نمایداگر می نمود نوشته میشد خوبتر بود.

طرزنوشتاری بعضی از سطرها در برخی از داستانها مثلاً درکوچه های خاطره ودخترگورستان ، بیشتر به سبك نویسنده گان ایرانی است مثلاً درجائی(ازکوچه های خاطره) نوشتن : « هرکس سود بخوره شکمش می پنده ،گنده میشه آخرش هم میکفه » که ترکیب گنده میشه را بیشتر ایرانیها استعمال میکنند . یاکلمات نامانوس ایرانی چون «دانشگاه»،«پرسه زدن» و غیره که این دومی برای ماکاملاً بیگانه است .

علاوه بر آن تاثیر داستانهای اکرم عثمان و برخی نویسندگان ایرانی به بسیار وضوح و حتی در بعضی مواقع تاسرحد تقلید درین مجموعه به چشم میخورد و احساس میشود که بعضی عناوین داستانها شاید عین عناوین داستانهای اکرم عثمان باشد چون عناوین و زمینه سازی ها و سایه روشنی های داستان خیلی ها آشنا و شنیده شده اند . ولی چون سندی در اختیار نداریم از حکم قاطع درین زمینه خود داری مینمائیم .

اما باآن هم داستانهای مجموعهء باران ابتکاراتی راکه در داستان نویسی معاصرافغانی کم بچشم میخورند باخود دارد ، از قبیل تصویر سازی های روشن ، دیالوگ های مناسب ،واقعیت گرائی هاو غیره ، گرچه در اکثر دیالوگ ها وتوضیحات زبان ادبی وعامیانه باهم مخلوط شده اند .

تحرك وزنده سازی قهرمان وموشگافی های حالات ظاهری روانی افراد همه و همه از صفات این مجموعه به حساب می آیند. به امید آثار گرانبهای نویسنده ء آن .

ژور ګړنګونه چې حادثو ته انتظار وو ...!

محمد زبیر «شفیقي»

څلور و خوا وو ته هسك هسك سرونه غرونه غځیدلی دی ، منظم کتار یی جوړ کړی دی لکه چی غرونه هم جرګه وی ، لکه چی هغوی هم د الحاد اوفساد په وړاندی د څه تصمیم اراده لری لکه چی هغوی هم د دی پریکړه کړی وی چی دلته به د سند او خلیج د نیولو هڅی نه د بخارا او ترکستان د آزادی لپاره مرکزونه جوړیږی . دلته به د الحاد او له خدایه د بغاوت آهنګو نه نه د جهاد او غزا تکبیرونه زمزمه کیږی .

هوکی ! غرونه لوړ سرونه ولاړ وو او د حال په ژبه یی پر موږ زیری کاوه چی زموږ سینی ستاسو پناه ګاوی دی ، زموږ اوږی ستاسو مورچلونه دی او ای د هیواد او اسلام د لاری غازیانو ! ستاسو قدمونه زموږ پرلیمو موږ ستاسو یو ، موږ به د الحاد یو نو ګورستان وو او په دی ګړنګونو او کندوونو کی به سره امپراتوری را چپه کیږی دلته به دعصر یوه هیبتناکه امپراتوری سرخوری په سمسور و ونو پټو غرونو همدا ویل ، موږ هم ډاډه وو که هر څو هیواد بی دینو لاندی کړی ؤ غرونه یی زموږ خپل ووُسره له دی چی د یوه نظام په مقابل کی ولاړ وو چی وسلی یی درلودی ، پوځونه یی لرل ، ټانګونه او الوتکی یی درلودی او موږ یی په یوه ټوپك مقابلی ته راغلی وو خو د دغی غرونو هر کمر زموږ نه تسخیریدونکی سنګر ؤ ، داسی ښکاریدله لکه دا هره ونه چی یو پوخ برج وی ، هر کندویو پوخ سنګر چی توپونه او ټانګونه وړاندی بی اثره وی .

د لاندی کلیو څخه څو تنه راغلی دی ، هغوی موږ هر یو ته په څیر څیر ګوری ، فکر کوم چی ښایی موږ به د حکومت له پوځیانو سره پرتله کوی ، یا به په دی چورت کی وی چی موږ نو څه لرو چی د یوی پاچهی ! په وړاندی دریدلی یو ،آخر په دی یوه ټوپك اویوازی یوه یوه کمر بند کار توسو ؟!

د دوی په څیرو کی زمونږ په نسبت د همدردی او خواخوږی آثار هم له ورایه ښکاری لکه چی دا یی عقیده وی چی موږ به وژل کیږو ، هغوی سر له وخته زموږ په مرګ ماتم کوی ، ژبی یی درندی دی پوښتنی نه شی کولی که یی په ژبو د سکوت مهرو نه نه وای لګیدلی خامخا به یی همدا پوښتل ، زه همداسی فکر کوم د دوی غمجنی څیری ، چوپی خولی اوهر یوه ته په څیر څیر کتل او بیا د هر یوه وسلی ته کتل د دی غمازی کوی چی دوی زموږ په مرګ همدا اوس ویرمن وی ؛ خو وروسته بیا ګورم چی دوی هم زموږ په کاروان را ګډ شویدی د دوی په اوږو هم تور تور ټوپك دی ، د دوی پر اوږو هم له کارتوسو ډك کمر بندونه دی ، یه خدایه ! دا کمونستان څومره لوده او له عقله پلی خلك دی ، په زړه کی داراوګرځی ریښتیا هم کمونستان بی عقله وو او دی .ددی ولس ټول خلك جهاد ته چمتو دی . د دی هیواد هر سړی مجاهد او غازی دی ، یو دوه ، زر او دوه زره نه بلکی ټول ملت ، له وړ وترزړو له نارینه تر تور سریو له یوی مخی د خدای «ج» پر دین د ننګ ډګر ته تیار ولاړ دی ، آیا دوی په دی مجاهد ولس د واکمنی خیالونه په ماغزو کی لری ؟ دا امکان لری ! او دادی اوس یو ځل بیا ثابته شوه چی نه !

موږ هم په دی ډاډه شوو چی باغیان نه یو ، دغه څو کسان نه دی چی د کوم مسلمان واکمن پر خلاف یی بغاوت کړی وی ، سیی ده چی په غرونو کی وو د غره له ونو ډکه غبرګه مو پناګاه وه ، سمه ده چی واکمن ته باغیان وو خو دا بغاوت د کوم قانونی حکومت پر خلاف د څوتنو بغاوت نه ؤ دا بغاوت د یو ه ملت یو سر تاسری پاڅون ؤ چی د الحاد پر خلاف یی کړی ؤ ، منو چی موږ په ظاهراً یوازی وو خوښکاره وه چی ټول ولس اوټول هیواد د زمانی د فرنګ پر خلاف زموږ تر خوا ولاړ ؤ ظاهره د یوه ولس ځانګړی تشخص ختم شوی ؤ ، خپلواکی یی تښتول شوی وه ، نوریی له نامه سره د آزاد او خپلواك تصور له چاسره نه ؤ خو څوك پوهیدل چی د دغو ماتو په تل کی بری وی د دغو نوموړکیو په منځ کی اتلولی او پاڅون سالاری دی ، خاموش کاینات وړاندی شاهدان وو چی د دی هیواد په تېر

دریمه برخه

د عصر معجزی تومنه نیوله ، د زمانی د پیلا نو لښکروته یو ځل بیا دا ابابیلو سیل را الوتی ؤ . او دلته دا د ګڼو ریوی امپراطوری د ټول هست اوبو د ډیښخیدو لپاره کندی جوړی شوی وی ، هغه کندی چی نړیوالو د دی ولس د بچیانو قبرونه ګڼل ، د دغه هیواد بچی بچی د حماسو مورچل ته سترګی په لار او ګړنګ ګړنګ حادثو ته انتظار ؤ ... نن د تاریخ باب د یوی تودی حادثی په انتظار ؤ د اروپا پر ساحل د طارق د لښکر پلی کیدل دافریقا په ډاګونو کی د موسی بن نصیر د غازیانو د اسونو تر پهاړ پر ترکستان کی د مسلم بن قتیبه د تکبیر ملکوتی انګازی په سندکی د راجه داهر په مقابل کی د اولس کلن اتل محمد بن قاسم د توری برښنا د تاریخ د بابونو تیری کیسی وی که هر څه وی هغه پرونی وی که له بر مه ډکی وی هم که د حماسو د استانونه وو او که د اسلامی امت د عظمت ځلی وو هم ، داټول د پرون کیسی وی اودننی نړی د مادی نړی او مادی تمدن لخوا اشغال شوی

ذهن ته نوي کیسي او نوي حادثي په کاروي او نن دلته د همداسي حماسو اومعجزو لومړني وزمې را الوتي وي ، دا حنف بن قیس او حضرت تمیم انصاري توري له تیکي را وتي وي، د الحاد پر ضد ، د فساد پر ضد او د هر دول ظلم او استبداد پر ضد د خدای (ج) پالو لښکر جوړیده ، یو مجاهد ولس له درانه خوبه درا پاڅیدو په حال کي ژ ، یو غیرتي قوم د ننګونو او غیرتونو مورچلو نه نیول تر څو یو ځل بیا د خدای (ج) د دین شعار او چت شي محمد ، مسلم ، طارق او موسی خونه وو ، هغوی اوس د تاریخ د پاڼو ابدي نومونه او کردارونه ګرځیدلي وو ، خو ځنګل له زمرو خالي نه وي ، ابراهیم خو ژ ، ظابط عارف ، حاجي رحیمي ، حاجي غالب او نعمتي خو وو ، یوازي څیري او نومونه بدل وو ، ایمانونه او ارمانونه همغه وو ، هماغه د بیړیو سوځول وو او دمرګ غیږي ته وردانګل .

× ×

زموږ زړونه نور هم ډاډه شول ، زموږ زړونو ته ولویده چي هیواد وال مو ټول زموږ پر خوا دي او ډیر زر به که خدای (ج) کول ددغه الحادي نظام په وړاندي قیام کوي . نور موږ په دي ډاډه شوو چي ددي هیواد کلي ټول زموږ دي باڼډي او دري يي زموږ دي له موږ نه چي بیګانه دي ، دهیواد غلیمان اود شیطان چي پیروان دي هغه ډیر لږ دي هغه هم یوازي په پوځي او حکومتي مرکزونو کي دي او بس .

د ژاورو پاغوندي ورو ورو ورځي وړې ځمکي ته را په وریدو شوي ته به وایي زړه يي نه کیږي او زړه نا زړه ځمکي ته را رواني دي ، پاس د اسمان مخ سپینو وریځو پوښلی دي ، ښایي لمر لویدو ته کم وخت پاته وي خو د لمر سترګه د وریځو پربیړي پردي پوښلې ده د لاندي سیمي نه دوه تنه په یوه نري لاره دلته را روان دي او چي را ورسیږي احسان الله –سلیمان او..... ورسره یوي ګوښي ته شي ، زموږ په زړونوکي د امید ډیوي بلي شي ، خامخا به د تیارسي قومانده وي –خو خدای (ج) خبر دي څه پیښ وو ، کوم بل حرکت روان ژ چي لاموږ ته «راز» غوندي

ژ ، تر اوسه پوري چي لا یوه ګولی نه وه ویشتل شوي ٭لا دټوپك شغلي نه وي پورته شوي –لا موسپږمی د باروتو بوی نه وي تخنولی ، دچا وینه نه وه تویی شوي او ......هیڅ هم نه وو شوي خو موږ خبر نه وو چي لاندي په همغه خړه پړه کلا زلزلي ګډي دي – موږ فکر کاوه چي د ځمکنیو د جنوبي غره په ډډه کي پراته یو او یوازي همدغه ونې ، بوټي او ډبري به مو ویني ، یوازي پاس خړې وریځي به وي چي موږ به ویني او ښاري

خو داسي نه وه ، ددغه کاروان ـ رانګ خبر نن د کابل واکدارانو ته رسیدلی ژ یوه ګولی هم نه وه ویشتل شوي خو انقلاب روان ژ، موږ د توپان پر وزرو سپاره وو او نور مو دهر قدم بیل حساب ژ او بیل اغیز .

لاندي خړه پړه کلا پر ځای ولاړه وه ، خو موږ نه‌لیدل چي اوسیدونکي يي څومره سر ګردانه دي – لاندي د«شهرنو» ښارګوټي د سهار په څیر ژ ، کټ مټ همغسي خو موږ نه پوهیدو چي هلته به څومره سترګي د غره په همدغه ډډه خښني وي – څومره زړونه به په سینو کي ددغه غره په‌لیدو درزیدل ؟ موږ داسي ګڼله چي دلاندي کلیو او کلاګانو اوسیدونکي به د ژوند له عادي بهیر سره همګام وي خو داسي نه وه نور د ژوند عادي جریان په ټپه دریدلی ژ ، نور د یوه بل دوران د پیل شیبي وي او نور دتاریخ په دهلیز کي د یوي ستري حادثي ننداري کیدلې.

خدای (ج) خبر دي دکلا له بر جونو نه به څومره دوربینونه زموږ په لوري متوجه وو ، او بیا په دي هم یو خدای (ج) پوهیږي چي دلته به هغوی ته څومره توپونه ، ماشیندار او لښکري تر سترګو شوي وو او موږ هغه وخت په دي

پوهیدو چي په لاندي بنیادمانو څه ورځ توپان را الوتي دي چي له ګردیز نه مو د موټرو او ټانګونو یو اوږد کتار ولید،

له څومره ذلیل او زبون دښمن سره مو سر او کار ژ په شهرنوکي یو سرحدي غونډ پروت ژ ، خو اوس دادي د نوري قوي د راتګ شاهدان هم وو ماته دلته د مکه خبره را په یاد شوه چي تیره شپه يي له هغه بل همځولي سره تکراروله :

{ نن شپه به د شرنو «شهرنو » خبره خلاصوو }

یو مجاهد ولس له درانه خوبه درا پاڅیدو په حال کي ژ ، یو غیرتي قوم د ننګونو او غیرتونو مورچلو نه نیول تر څو یو ځل بیا د خدای (ج) د دین شعار او چت شي محمد ، مسلم ، طارق او موسی خونه وو ، هغوی اوس د تاریخ د پاڼو ابدي نومونه او کردارونه ګرځیدلي وو ، خو ځنګل له زمرو خالي نه وي ، ابراهیم خو ژ ، ظابط عارف ، حاجي رحیمي ، حاجي غالب او نعمتي خو وو ، یوازي څیري او نومونه بدل وو ، ایمانونه او ارمانونه همغه وو ، هماغه د بیړیو سوځول وو او دمرګ غیږي ته وردانګل .

× ×

موږ د یوه په ونو پټ غره په غیږه کي وو ، خو په دي نه پوهیدو چي نور دا غرونه دا سیمه او دا ټول هیواد د یوه توپاني بدلون په غیږه کي دي – موږ څه چي هیڅوك هم نه پوهیدل چکه ددغه بدلون ددغه انقلاب اود عصر ددغه ستري حادثي لپاره د مقام او خلکو د ټاکلو پریکړي پاس د ستر رب لخوا کیدي -دلته خو مادي واکمنو بل څه غوښتل ، په دي غرو رغونو او کلیو کورونو کي خود مارکس او لنین د نظریو روزنتونونه جوړیدل ، خو دا فیصلي د ډیرو کمزورو لخوا وي ځکه خو کمزوري وي همدا پرون زموږ د هیواد خپلواك تشخص ورك ژ . نور زموږ د هیواد نوم د یوي امپراتوري د شپاړسم جمهوریت په نوم ژ خو د کایناتو واکمن بیا غوښتل چي له همدغو خړو جونګړو نه د کریملن د لړزولو ځوانان پاڅوي ، همدلته به د یوه ستر پاڅون شیبلي پوکله کیږي او بیا به د هغي غاوري امپراتوري د ټوټه کیدو سبب کیږي نو دا غرونه ، کلي کورونه او دا هیواد پروني غوندي نه ژ له همدغه ځایه نور یو پوهنتون جوړ ژ ، یوه مدرسه جوړه وه ، د ارادو ، حوصلو او ایمانونو د روزلو او

ازمویلو ځای ؤ او موږ نور د همدغسی یوه ازموینت پر ډګر ولاړ وو مازدیګر مهال به ؤ لمر لا د وریځو تر پنډی پردی لاندی پټ ؤ ، واوره نوره هم تونده اوریدله ، ورو ورو پر موږ د لوږی څپه راغله ، خو نور نه سپین وام ؤ چی لړ وچه یا لمده ګوله تر خوله تیره کړو او نه خپل کور او دسترخوان،خو یا به ښایی زموږ فطرت بدل شوی ؤ یا به د وخت نقاضا بدله وه چی نور د لوږی احساس موږ نه ځورولو ، له دغه احساس سره یو بل ډول امید واری هم موجوده وه موږ ځانونه ددی له لوږو تندو او سختیو نه ډکی دنیا د لنډی مودی میلمانه بلل ، موږ هغه روژتیانو ته پاته کیدو چی د روژه ماتی رنګین د سترخوان ورته غوړیدلی وی او دوی د آذان انتظار کوی·د مازدیګر لمونځو نه هم همدلته ادا شول او بیا ټول له قوماندې سره سم له غره نه په راغلی لاره بیرته په ښکته کیدو شول موږ لا په خبره نه وو پوهیدلی چی اصلی منزل مو په کوم لوری دی ، خو غالب ګومان مو همداؤ چی یوه یا نیمه ګنټه وروسته به مو غوږونه د ډزو غږونه اوری، او ښایی هر څوك له خپل خیال سره زما په څیر مشغول وو چی څنګه به کوی او دجهاد په خیالی ننداره کی به ځانته خپله لاره باسی زه یو ځل بیا له خپل کاروان نه ګوښه شوی وم ، نور می د خپلو وړاندی وروسته ملګرو د پښو آواز او ورو ورو ګړیدل نه اوریدل زه د یوی خړی کلا په منځ کی وم .

نوی نوی برجونه می‌لیدل چی اور پری بل دی ، لوخړی تری پورته کیږی -څو تنه ذلیل خړ سترګی ګورم چی لاس تړلی ولاړ وی او د محاکمی انتظار باسی .... او کله کله هم د کوم ملګری د شهادت خیال او کله هم ځان ګورم چی له کوم نامعلوم لوری نه می ګولی پر ټټر خوړلی وی ، یوه شیبه د دنیا ټول نعمتونه را په یادشی آیا دا به ټول پریږدم ؟ په زړه می د دنیا مینه وزرونه غوړوی - ژوند راته ژوند شی هوس آرام، نعمتونه او ....زما په ذهن د ژوند مینه زور واچوی خو ډیره زر بیرته ورکه شی ، ژوند کوم ؤ ؟ موږ ته نو نور د ژوند څه پاته وو ، وطن ، کور ، کلی ، دوستان او هر څه .... دا خو رانه اخستل شوی وو زموږ د ژوند پر خزانو خو سرو سامارانو ارولی وو نو اوس بله چاره نه وه یا به مو همدا ښاماران وژل او یا به مو د خپل مرګ وروستی عطیه هم تکمیلوله له موږ سره د ژوند یوازی دا پاتی وو چی ساه مو د غوښو او هډوکو په کپس کی را ایساره وه او بس.

شاوخواته سترګی اړوم ، په هسکه ټیټه لاره زموږ کاروان ښکته روان دی ، ټول په خپلو پښو روان دی ، خپل مرګ ته ورځی ، په څیرو کی جدیت او وقار دی . اندیښنه او خفګان نشته ، زه چی دوی ته وګورم په خپل خیال پیکه او خجل شم ، آیا دا بنیادمان نه دی ؟ ټول دی خو نن د بیلو ګټو وخت ؤ او همدا نن

> زموږ د ژوند پر خزانو خو سرو ښامارانو اړولی وو نو اوس بله چاره نه وه یا به مو همدا ښاماران وژل او یا به مو د خپل مرګ وروستی عطیه هم تکمیلوله له موږ سره د ژوند یوازی دا پاتی وو چی ساه مو د غوښو او هډوکو په کپس کی را ایساره وه او بس.

یی وار ؤ چی که فرصت له لاسه وتلی بیا نو د عمر پیښمانی وه نن د کیسو د ګټلو وخت ؤنه د پیسو ، نن ماڼدی ژوند خپل رنګ بایللی ؤ ، آرامی او راحت خپل کیف له لاسه ورکړی ؤ او دخپلو خپلوانو پر ځای حوری او غلمان په سترګو کی تاویدل.

لاندی خوړ ته ښکته شوو ، ټول په یوه ځای کی را غونډ شول ، وپوهیدو چی قومانده به اعلانیږی ټول چوپ وو او سترګی یی په هغه لوری ګنډلی وی چی ددغی قافلی مسؤلین ولاړ وو بالاخره یو د میانه قد خاوند چی پیره یی لا خریلی وه په یوه لوړ ځای ودرید، همغه د جهاد امیر احسان الله ؤ ، بی له څه مقدمی یی په لنډو ټکیو کی څه وویل ، هغه په موږ زیری وکړ ، د پاڅون زیری یو داسی زیری چی موږ غوندی بی کسنو او بی وسو ته په هغه حال کی تر هر څه ستر او خوندور ؤ، احسان الله خپلی لنډی خبری خلاصی کړی کاروان بیرته په مزله پیل وکړ خو لکه دا غرونه ، ونی او ډبری چی د هغه خبری تکراروی او موږ ته مبارکی راکوی پر له پسی زموږ په غوږ ونو کی زمزمه‌کیدل چی : وروښو !

دا اوس احوال راغی چی د جانی خیلو ولسوالی فتحه شوی ، هغه وروښو له موږ نه مرسته غوښتی ده اوس به موږ جا نیخیلو ته ځو.

........پخوا له دی چی یوه مرمی فیر کړو د فتحی نوم مو واورید ، غوږونه مو له یوه خواږه حقیقت سره آشنا شول - موږ خو دا ګڼله چی ښایی ټول به قربانیږو، خو نن دادی په دوهمه ورځ د یوی ولسوالی د فتحی زیری اورو ، زموږ له یارانو نه لا هیڅوك هم نه دی کنډو شوی ، زموږ دقافلی د چایو څاڅکی وینه هم نه ده توی شوی ، څومره خوږ زیری ؤ، اوږده شپه مزلونه مو په مخ کی وو ، واوره اوریدله ورو ورو مو پایڅی او جامی لمدیدلی او درنیدلی ، لوږی هم خپل زور لګولی ؤ خو موږ ته همدغه زیری هر څه شو ، ستړ یا ، ستومانی ، مزلونه ، لوږی هر څه راته هیڅ شول - په خیال کی راګرځیدل چی سبا ته به په یوه آزاده ولسوالی کی یو ، د ګټو وسلو د غنیمت مو اوریدلی وو ، سبا ته به مو نوی نوی وسلی‌لیدی او ښایی څو وخته وروسته به مو د نویو بر یو او فتحو ننداری کولی.

د کاروان یاران خوښ روان وو ، نور د ښهرنو کیسه راته بی خونده وه ښهرنو که څه هم پر ځای پاتی ؤ او دادی چراغونه یی اوس ورو ورو له موږ نه پناه کیدل خو فکر مو کاوه چی څو شپی وروسته به بیا وریاندی را غبرګ شو او هغه به داسی وخت وی چی د پکتیا په ډیرو بر خو کی به د فتحو بیرغونه رپیږی ، په زړونو کی نوی جذبی په غورځنګ وی واوره ډیره په توندی اوریدله ، شپه پخه تیاره او درنه شوه تر کومه چی زما یاد شی موږ په یوه داسی سرك غالباً جنوب لوری ته روان یو چی ښی لوری ته لوړ لوړ غرونه ولاړ دی او چپی خواته بیا نسبتاً ټیټی غوندی دی ، په مخه کی کله کله پر کیږدیو او څپرونو ور برابریږو·چی

تر تولو وراندی یی سپی زموږ استقبال ته راځي.

خدای (ج) خبر دی د شپی څو بجی دی خوب پر سترګو یر غل راوړی خوبوړی غوندی په سرك روان یو چی یو ځل بیا مو د سپیو غپا خوب تیښتوی او بیا هم همدغسی کیږدی په مخه راځي ، موږ ته څوك ددمی بلنه راکوی او بیا دیوی لنډی ساه جوړولو امر را کړل شی.

څو کیږدی سر پر سر دریدلی دی موږ ته د ننه ورتګ بلنه راکړل شی او بیاټول دننه د یوه چراغ تتی رڼا ته شاوخوا ته ډډی واچوو، نور زما څه ښه په یاد نه دی یوازی دومره می په یاد دی چی د جاڼخیلو ولسوالی د فتحی په باب خبری دی او زه بیا خوب له ځانه سره د خوبونو دنیا ته ورسره وړی وم یو وخت می څوك وبښوروی او چی راویښ شم یوه ګرمه پیاله چای په لاس کی راکړی د ستړی مزل په منځ کی د ژمی په دی یخه شپه کی دا یوه پیاله چای د دنیا له هر نعمت نه ډیر خوږ او ستر ؤ، د هغه پیالی چایو خوند همدا اوس هم زه محسوس کړم خو یوازی محسوسولی یی شم تشریح کولی یی نشم او نه یی چا ته مثال ښودلی شم.

وایی د وړی یوه ګوله او ستړی یوه دمه کافی وی همداسی وه ، نور موږ داسی آرام وو لکه له کوره چی وزو، بهر لا واوره اوریدله موږ بیا په مزل پیل وکړ سرك واوری پوښلی ؤ او اوس زموږ پلونه په لمده واوره کی ښه ډوبیدل ، د جاڼخیلو دفتحی نشه مو په ما غزو کی ده ، نور په موږ نه واوره اوریدل څه تاثیر کولی شی او نه د توری شپی په منځ کی د ژمی یخ او توند شمال ، کله کله خو ښه ګردله شی له ټولو سره دا اندیښنه زوروره شی چی لاره ورکه نه شی او هسی په شاړو غرونو کی سرګردانه نشبو ، خو کله بیا ګردله نه وی ، واوره اوری او هوا توده وی.

یو وخت مو پام شی چی سرك نشته او موږ هسی په بله لاره راغلی یو ، خو همدا لاره د هدف په لوری تللی ده ، زموږ منزل به خدای (ج) خبر دی له څومره پیچو مو او ګړنګونو نه هغه خواوی اپه نالیدلیو لارو او وطنونو به ما څه ویل خو چی پو ښتنه کوم څواب را کول کیږی چی دومره نوره لار پاتی ده لکه چی راغلی یو ، په ډیرو کنډوونو خیژو او بیرته ښکته کیږو ، موږ اوس د یوه دنګ غره په منځ کی یو ، شاوخوا ته مو چی څومره سترګی څارکولی شی د کلیو او آبادی نخښه نشته ، سترګی مو تر ډیره حده له تیارو سره آشنا شویدی خو تر اوسه لا تیاری شته موږ ته دوهم ځل د دمی جوړولو موکه هغه وخت ده چی د سهار لمانځه لپاره یو ځای تم شوو، ښه می په یاد نه دی چی هغه څه وړ ځای ؤ او اودسونه مو چیرته وکړل خو لمونځونه می په یاد دی چی په ویجاړو او نیمه ویجاړو څپرونو کی مو په لمده ځمکه ادا کړل-ټوله شپه واوره اوریدلی وه ، همدغسی لمدی واوری ټول وطن نیولی ؤ، دلته ویجاړ څپرونه وو ، هغه څپرونه چی دوبی به د لاندی کلیو خلك ورته راتلل ، خو اوس د زیاترو چتونو سوری وو او واوری یی په غولی اوریدلی وی، چی کله بیرته ورځ شوه ځانونه مو د لویو غرونو په منځ کی وموندل څلورو لوریو ته د واورو سپینه بې ستن غوریدلی ده یوازی ځنی لویی لویی ونی دی چی د شمال په څپو کی یی واوره څندلی ده او توری توری ښکاری ، دلته د آبادی او کلیو هیڅ نخښه نشته ، دلته به ښایی په ژمی کی هیڅ انسان پل نه ؤ ایښی ، ځکه چی دلته به یی څه کول دا خو د وردګو او لوګرغرونه نه وو چی ولس او آبادی ورته لنډی وی او څوك د خسو او بوټو اویا د سویو او لیوانو ښکار ته راشی ، تر آبادیو پوری د ساعتونو . مزل ؤ، خو نن دادی دلته ښکاریان تیریدل چی سره‌لیوان ښکار کړی - دغرونولیوان نه د آبادی لیوان ، هغه لیوان چی دانسان په پوست ننوتلی وو د شپانه په څیره کی وُاو د انسان په جامه یی خلك څیرل ، هغه‌لیوان چی یوازی له وینو او غوښو سره یی کار نه ؤ، دین فرهنګ کلتور او هر څه یی لوټل او محوه کول ، ځکه خو موږ ته ددی اجازه نه وه چی د غرونو په‌لیوانو ګولی وچلوو ، ځای ځای دلیوانو ګڼ پلونه ښکاریدل ، ځنی به دومره تازه او ښکاره وو چی ښایی زموږ له مخی سره به تیرُ شوی وو خو چاته یی د تعقیب او لټولو اجازه نه وه زموږ په غاړو کی وسلی وی په ملا وو مو کمربندونه وو خو د ښکار او هوس لپاره نه وو ، ښایی دا به هم لومړی ځل ؤچی وسله والو کسانو به‌لیوان‌لیدل خو ډزونه یی نه وریاندی کول ، ځکه پر دغه هیواد او دغه وطن داسی څوك واکمن شوی ووچی‌لیوان ورته بی ضرره او بی خطره وو،

× × ×

په مخ کی مو دطبیعت یوه ډیره ښکلی منظره پرته ده ، دنګ دنګ غرونه ، سپینی واوری او دنګی دنګی شنی ونی چی سپینو واورو یی هم شنه جامه نه ده لرێ کړی ، خو دلته د تمدن آثار بلکل نشته ،ته به وایی د ډیرو پخوانیو پیړیو په کوم موزیم کی ګرځی ، ته به وایی د کوم تاریخی فلم ننداری دی او له حقیقت او اوسنی زمانی سره یی هیڅ اړه نشته ، ښکلی منظره ده ، شنی ونی ، سپینی واوری لوړ لوړ غرونه ، ښایسته غونډی چی څومره سترګی څارکولی شی هومره غځیدلی دی ، خو یوه پخه خښته ، یوه لویشت پوخ ځای .... او نور داسی‌څه نشته چی دانسان باور راشی دا دشلم قرن او زمانی یوه سیمه ده دلته ده چی سړی فکر کوی دا ټولی ونی ، بوټی ، ډبری ، دا دنګ دنګ غرونه ، ژورګړنګونه او هر هر څه ددی هیواد پر تیرو واکمنو لعنتونه وایی،

زموږ په مخکی د آسیا د سویس یوه ډیره په زړه پوری منظره ده خو طبیعی ده یوازی الهی پیرزوینه ده چی دلته هست شویده خو ددی هیواد واکمنو یی په لا سمسور تیا او ښکلا کی یو پل هم نه دی ایښی ، ډیره ګرانه ده چی سړی د داومنی چی په دی منظرو دیوه ښنیادم څلویښت کاله پاچهی تیره شویده، خو دغه پاچا په دغه حای کی نوره آبادی څه یوه پخه خښته نه ده ایسی.

آیا دلته انسانان نه اوسیدل ، آیا ددی سیمی حق نه ؤ چی ښوونځی ، ښار، هوټل او نور عصری وسایل ولری ؟ آیا تردی ښه ځرځایونه به هم وو چی فارمونه پکی جوړوای او تر دی ښه ځنګلونه به هم چی عصری نجاری او فابریکی ورته جوړی وای ؟

دلته ولی د انسان کمال په کار نه دی لویدلی ؟ آیا دغه ولس به ددی هیواد

پخواني واكمن وبخښي ؟ ! طبيعي ده چې جواب به منفي وي دغه طبيعي منظرې د سويس او فرانسې له ډيرو ښكلو ځايونو په څو چنده په زړه پورې او ښكلې دي خو تر پير يوازې دادي چې دلته لا سرك نشته چې څوك راشي ويې گورې، يوه پخه وداني نشته ، يو هوټل -بنوونځي ،بنارگوټي او ...... هيڅ نشته يوازې غرونه دي چې هسك سرونه ولاړ دي ، گڼې ونې دي ، گڼگونه دي دا ټول لوى خداى (ج) هست كړي دي ، د انسان د لاس نخښې يوازې د لاندې كليو مظلوم خلك دي چې دلته يې شپرونه جوړ كړي دي هغه هم واورو غورځولې دي چې تر ډيره حده د ډيرو وراندې پيړيو د ژوند دود ته ورته دي، شاړشپرونه ، پردې گواه دي چې ژمې دلته د انساني ژوند هيڅ نخښې نشته ، دلته بايد بنار گوټي ، بنوونځي فابريكې - فارمونه او ژوند واى ، د انساني تمدن مظاهر واى خو چې نشته

> دلته ولې د انسان كمال په كار نه دې لويدلى ؟ آيا دغه ولس به ددې هيواد پخواني واكمن وبخښي ؟ ! طبيعي ده چې جواب به منفي وي دغه طبيعي منظرې د سويس او فرانسې له ډيرو ښكلو ځايونو په څو چنده په زړه پورې او ښكلې دي خو تر پير يوازې دادي چې دلته لا سرك نشته چې څوك راشي ويې گورې، يوه پخه وداني نشته ، يو هوټل -بنوونځي ،بنارگوټي او ...... هيڅ نشته

پوښتنه يې بايد له چانه وشي په دې نه پوهيږم خو مسؤل يې ددې هيواد او دې سيمې پخواني مسؤلين دي، هغه مسؤلين چې واجب الاحترام او غير مسؤل يې ځانوته ويل ، هغه مسؤلين چې دهمدې وطن خلكو تاج او تخت ورته گټلى ؤ.

ورځ مو په مزله تيره شوه په دې حساب دادي پوره يو شواروزپه مزله كې يو ، ووې به يو خو ددې ته مو نشته چې د خوراك لپاره څه پيداكړو نو ځكه يې احساس را سره كمزورى ؤ، ستومانه هم وو خو د دمې او ساه نيولو فرصت مو نه درلود سترگو مو هم له خوبه سره خداى (ج) پاماني كړې وه ، داهر څه مو له نظره غورځيدلې وو ، د هغو شپرولیدلو ته ليواله وو چې زموږ ورتگ ته انتظار وو ، موږ ته ويل شوي وو چې د جاني خيلو فاتحان مو د ورتگ په انتظار دي ، موږ ته هم اوس تر ټولو ستر هدف داؤ چې هلته ځانونه ورسوو خو تر لرې لرې پورې غځيدليو غرونو گواهي را كوله چې منزل ته مو لا مزلونه شته كوتلونه ، ناوونه او خوړونه مو لا په مخكې دي چې بايد تر پښو يې تير كړو همدغه ماښام واوره ودريده ، د آسمان له مخ نه هم د وريځو كندكونه ورو ورو په كو چيدو شول او لاپخه شپه نه وه چې د آسمان له ټټر نه وريځې وركې شوې د ستورو چراغونه بل وو ، د بې شميره ستورو ، چې موږ ته يې ستر گكونه وهل ، د لارې لوړې ژورې ، د شنه آسمان يخنې او دشپې تياره مو داځل د مزله د دوام خنډونه شول- په مخه نور شپرونه را غلل او په همدې شپرونو كې د شپې تيرولو امر صادر شو. هر گروپ او ډلې جلا جلا شپرونه ونيول ، يو بل ته نږدې ، اوروونه بل شول او بيا تر اوروونو گرد چارپيرټولو واړول ، ښائيدله خو دا چې ټول په درانه خوب ويده شوي واى ، د اوږدې ستوماني لرې كولو لپاره يوازې خوب ؤ چې پناه پكې اخستل كيداى شوه ، خو هيڅا هم داسې ونه كړل ، له شپرونو نه د ځواناتو د خندا اوروغبر غږونه او چتيدل د ظابط عارف ژوندى غږ ؤ چې سړي ته به يې په تصور كې د سپين وام د كمپ هغه د پرديسيو كوټه ور په يادوله ، د هغه په غږ كې اوس هم د ژوند او ځواني نخښې محسوسې وې ، دهغه مستي كړسندى خندابه له هر چا نه د تيرو ستومانيو او لوږو تصور او احساس لرې كاوه تا به ويل همدا اوس يې كبابونه او پلوونه نوش جان كړي دي او دادي اوس له خپلو همځولو سره د ټوكو مجلس گرموي ، هرې خواته همدغسې مركې گرمې دي ، ځوانان څه چې مكړاو خيال مدين غوندې سپين ږيرې هم د ستومانيو يادونه نه كوي،ته به وايې ټول دلته ميلې ته راغلي دي د اورد لمبو په تته رڼا كې كيسې دي - نكلونه دي ، د ژوند د تيرو يادونو تاوده مجلسونه دي خو په ځيرو كې د خفگان احساس نشته ، د انديښنو اوخفگان نخښې نه تر سترگو كيږې - د چا په خوله دا شكايت نشته چې وږي يو ، ستومانه يو او بې خوبه ....

لكه چې همدا مو د ژوند معمول وى ، همداسې را لوى شوي وو، ددې غرونو اوسيدونكې څه چې موږ غوندې د بل چا پيرپال خلك هم نور له دوى سره همرنگ وو.

د سروسكروټو شاوخواته د شپې تر ناوخته پورې تاوده مجلسونه وو اوبيا ورو ورو چوپتيا خوره شوه، له ټولې ډلې نه څو كسانو تر سهاره په نوبت د پهرې ذمه وارى په غاړه اخستى وه او نور له دنيا او مافيها څخه ناخبره د خواږه خوب غيږې ته ورغلل ، خو ددغه خواږه خوب لړې هم ډيره اووده نه وه او ډير زر بيرته گونگو سى د شپې په سكوت بريدونه پيل كړل ، سكروټو په خلاصه فضا كې د ژمې يخنې ته زيات تاب نه شو راوړى او اوس سړې ايرې پاتې وې ځكه هم لنده خيشته وه چې موږ وړياندې پراته وو د سړو له زوره ډير زر بيرته په شپرونو كې ټول له خوبه راوبښ شول -يو ځل بيا اوروونه بل شول او يو ځل بيا هم د مركو لړې پيل شوې -بهر زياته يخني وه ، آسمان شين ؤ او په شنه آسمان كې ستورو سترگكونه وهل تا به ويل لكه موږ ته چې اشارې كوي او يو بل ته مو وربښي !

همدغه وخت بهر ولاړ پهره دار د يوه لوړه د فيدو اعلان وكړ ، او بيا لږ وروسته د يوه پر ځاى د زياتې ګلې ليوانو مو جوديت اعلان شو ، ټولو ته وويل شول چې په

تیاره کی له ځپرونو نه لری ولاړ نشی د لیوانو د حملی احتمال دی او بیا تر ډیره وخته دلیوانو کیسی گرمی شوی ، هر چا خپلی خاطری ویلی ، بیا هم میدان د هغو ځېرږو متهو خاوندانو وړی ؤ ، همدوی وو چی زیات لهلیوانو سره مخ شوی وو او همدوی وو چیلیوان یی وژلی او زغلوی وو او دادی نن له موږ سره اوږه په اوږه د کمونستیلیوانو د شړلو او وژلو لپاره هم روان وو.

یو ځل بیا هم سهار شو ، لمنځونه ادا شول ، اوږدی دعاگانی وشوی -ډیری خولی د خدای (ج) په ذکر او یا د وخوځیدی او ډیری ککری د الله په تسبیح وزنگیدی لمر راوخوت او ورځ شوه ، د لمر تودو وړانگو ته واوری ځان ټینگ نه کړای شو او په ژړا شوه ، لاری لاری اوبه وبهیدی ، خو موږ ته لا د تگ او مزله امر ونه شو ، زموږ له ډلی نه د انجینرحمید الله او رودنیل کورو نه همدلته وو ، انجینږ حمیدالله یو دمیانه قد خاوند ؤ چی داسلامی نهضت پخوانی غری ؤ هغه زموږ د نظامی زده کړی استاد هم ؤ، رودنیل بیا د تعلیم او سواد نه بی برخی یو د توپانی احساساتو خاوند دنگ زلمی ؤ چی اوږده بریتان یی درلودل او همدغو بریتو یی څیره ډیره هیبتناکه کړی وه.

حمیدالله او رودنیل خپلو کورونو ته ښکته شول ، نور یاران راووتل او دلته هلته د ډبرو تر خوا د لمر تاوده پیتاوی ته کښیناستل دسوریخونی څیری خاوند یو زلمی چی په ښی لاس یی شل ډزی نیولی ؤ ډیر گرځندی په شاوخوا ناستو کسانو راتاوشو د تیری شپی حال احوال یی واخیست ، هغه ماته له مخامخ کیدو سره سم وویل :ښنایی وږی به یی !

موږ خو انسانان وو که هر څومره مو جذبی را قابو کړی وی ، په زړونو مو د صبر برغولی ایښی وو بیا هم د وینو او غوښو څخه جوړ وو ، نفسونه مو درلودل احساس مو درلود موږ ریښتیا هم ډیر وږی وو ، د څمکنیو په غره کی مو یوه خپړ وچه ډوډی وروستی خوراك وو او بیا چی څه شیمه او توان راپاتی ؤ اوږده مزله هغه هم تقریباً رانه اخستی ؤ ، نو طبعاً یوازی زه نه ټول وږی وو ، یوازی هغه کسانو

چی کورونه یی په سپین وام کی و و ښنایی څه لږ او ډیر خوراکی شیان درلودای چی هغه به هم اوس خلاص وو - نو ځکه خوما ظابط سلیمان ته یوازی دومره وویل چی هوکی ! خو څه به کوو نو پیښه ده.

هغه په ډاډمنه لهجه را ته وویل : غم مه کوه خدای (ج) به هر څه سم کړی د ډوډی ترتیب مو نیولی دی ، ددی لوی غره په منځ کی له اوږدی لوړی او ستومانی وروسته دا زیری هم موږ ته د جانی خیلو له فتحی نه کم خوږ او مهم نه ؤدغه خبر هم په څیرو کی د خوښی چراغونه وځلول ، لږ وروسته انجنیرحمیدالله له یوه بل تن سره بیرته رابښکاره شو ،دهغه بل سړی په شایو وړوکی پنډ ؤ ، لږ وروسته یو بی څنډو دیگ هم را پیداشو ، نغری جوړ شو په دیگ کی اوبه واچول شوی اور تری لاندی بل شو ، بس د سترگو په رپ کی بیا یو «وزگوری» هم راوستل شو هغه ډیر زر تر چړو لاندی او بیا هلی هلی دیگ ... رنوید.

دیگ ځوښونه وخوړل ، وروسته بیا یوه تغاره هم راوړل شوه ، له دیگ نه شوروا وریاندی تویی شوه او په نوبت اته، لس کسه وریاندی کښیناستل د همدغه بی پایه غره په منځ کی خدای (ج) موږ ته شوروا راورسوله ، ښه ښوروا وه خو یو څه چی د تولو هبر وو هغه مالگه وه ، بی مالگی ښوروا او همغه د وزگوری غوښی مو وخوړی بیا مو په همدغه دیگی کی بیا اوبه په اور باندی کړی چی کله جوش شوی نو چای ورواچول شو او بیا په څمڅو په نوبت وڅښل شو .

خو دغه د تور دیگ بی مالگی شوروا او دڅمڅو غوړ چای ښنایی د ټولو د ژوندانه تر ټولو خواږه خواړه وی.

د ماسپښین له لمانځه نه وروسته یو ځل بیا کمربندونه تر ملا او ټوپك په اوږو شول او د جانی خیلو په لوری د تگ اراده وشوه همدغه وخت موږ ته له یوه راز نه پرده پورته شوه د مسؤلینو لخوا په ډاگه شوه چی د جانی خیلو ولسوالی د فتحی خبر دروغ ؤ . هغه وخت به خدای (ج) خبر دی چی موږ ډیره ساده وو او که مخلص چی په دی دواړو خبرو مو باور ؤ،هم مو منله چی ولسوالی فتحه ده او هم

مو داومنله چی په دروغو چا داخبر راوړی ؤ خو اوس زه پوهیږم چی هغه خبر چا راوړی نه ؤ ، احسان الله ظابط سلیمان ، محمد حکیم او نورو د گروپ مسؤلینو په دی مشوره کړی وه ، ښنایی همدا به لازمه هم وه ، گرانه وه چی بیله یو ه پاخه لا مله د ی هغه احساساتی جگړی ته تږی ځوانان له شهرنو څخه دلته راوستل شوی وای او د شهرنو پر غونډو هم په داسی حال کی حمله چی دښمن ته راپور رسیدلی ؤ او له گردیز نه نوره قوه هم ورته راغله خطرناك کار ؤ.

مصلحتاً به ددی دروغو اجازه وی ، همدغه وسیله وه چی ډیر ځایه یی ولس د رژیم په وړاندی پاحولی دی.

دا مصلحت آمیز دروغ ډیر حایه د ولس د مورال او دروحیی د ځواکمنولو ستره وسیله شوه ، ماته اوس هم د وردگو ولایت د اونخی دری د بی وسلو او تش لاسو خلکو هغه هیله منی سترگی را په یاد شی چی د گوربت غره په گرنگونو به یی گنډلی وی ، هلته چی دوی ته دجهاد ستر سالار انجینرعبدالمتین (شهید) ویلی وو چی ډیری مهمی وسلی مو گوربت ته رارسولی دی ، ددغه شهید نورو ملگرو خو پر دروغو نوره مساله او مالگه هم ور دوړوله آن تردی چی خلکو ته یی ویلی وو چی د گوربت په غره کی د مجاهدینو ټانگونه هم ولاړ دی چی په مناسب فرصت به راوزی او په کابل به حمله کوی.

موږ ته وویل شول چی دجانی خیلودفتحی خبره دروغ وه خو د جانی خیل ولسوالی به نن شپه که خدای (ج) کول موږ لاندی کوو ، داهم کافی وه ،داهم هغه خبره وه چی غوږونو اوریدای شوه ، سره له دی چی د فتحی له زیری وروسته بیرته دا خبره موږ ته ډیره مایوسوونکی هم وه ، خو موږهدف ته یو ځل بیا را لنډ شوی ؤاوس نو ځاښنت مزل ؤ او موږ به تر لمر لویدو پوری د جانی خیلو ولسوالی ته رسیدلو ځکه خو ډیره مایوسوونکی نه وه ، که وه هم چاره نه وه بی له دی چی دسفر دعا وکړو اوبیامخ پر لمر لویدو په یوه کتار روان شو، اوس هم د غره په منځ کی یو څو ددی نخښی له ورایه ښکاری چی آبادی را ته لنډی دی ،

کی لاندی په لنډه فاصله کی دی خو موږ ګلیو ته نه ور ښکته کیدو او همفسی د غره په لمنه کی مخامخ پر قبله روان شوو ، څومره چی وړاندی څو هومره د واورو اندازی کمیږی ، او څومره چی له غره نه ښکته کیږو هم د واورو کمی وینو ، یو خو نن تود لمر ؤچی واوره یی ویلی کړه او بل به ښایی دلته کمه هم اوریدلی وه.

زموږ کاروان په یوه‌لیکه روان دی ، که څه هم لڅبونه اوتومونه بیل بیل دی خو تبعیض او امتیاز چاته نشته ، د ټولو په اوږو وسلی په ملا ؤ کمربند او پرشا د باروتو پنډونه دی له دی پیټی نه آمر ، قوماندان ، مرستیال ، سرګروپ او مجاهد هیڅوک هم مثتثنی نه دی ، ددغه ګروپ او ننیو عصری پوځونو تر منځ همدغه ستره امتیازی نخښه ده ، احسان الله ظابط‌سلیمان ، محمد حکیم او نور ګروپ مشران پر باروتو او کارتوسو سر بیره د نور ګروپ د څارنی او ساتنی مسؤلیت هم لری او موږ د لومړی ځل لپاره ددغه کاروان د مرستیال مسؤل د غوسی او قهر څوښ هغه وخت حس کوو چی په یو ژور خوړ کی ښکته روان یو او له یوی لنډی دمی نه وروسته مو یوه ، یوه نیمه ګنټه مزل کړی دی هلته چی محمد حکیم په خپل څادر کی د باروتو د ډبیو یوه لویه پنډه پر شاده او په موږ پسی را رسیږی.

دا دجهاد وسایل دی پریښودل یی خیانت دی !

دا باروت مو ولی پریښی دی ، چی د ستومانی توان نه لری ولاړ شی خپلو کورونو ته کرار کښینی .... ټول پر خپل خپل ځای بوت غوندی ولاړ دی ، چا چی باروت پټ د ستومانی په وجه پریښی وو هغوی ټولو ښکته سترګی ځمکی ته اچولی دی، ددی به نو له چا سره څه ځواب ؤ ،هغوی خو ویل چی څوزموږ پر اشتباه څوک پوهیږی جانی خیل به فتحه وی ، باروت او وسلی به پریمانه شوی وی او بیا به څوک پردی وړو خبرو پسی نه ګرځی ، محمد حکیم پوره یوه ګنټه نژدی دری څلور منه باروت له خپل شل ډزی او کارتوسو سره په اوږو راوړی وو ، په خولو کی لوند خیشت دی ، د باروتو قطی په چا پسی‌لیکلی شوی نه وو نو ځکه هر څوک ور وړاندی شو او په داسی حال کی چی ځان به یی بری ګاڼه د یوه قطی داوطلب به شول.

باروت بیرته وویشل شول ، داځل پردی نور تاکید هم وشو چی دا د جهاد

نوری د زمانی هغه درنی او اوږدی دقیقی او ساعتونه تیر شوی وو ، د انتظار شیبی ختمی شوی وی ، کاینات ټول ژبه او غوږ وو چی څه واوری او همغه بدرګه او زمزمه کړی ، دلته به نن یوه ډله انسانان د خپل فطرت دغوښتنی سره سم د الله د الوهیت شعار پورته کوی ، دلته به د شیطان او طاغوت پر ضد د غزا تکبیر اوچتیږی د خدای (ج) کاینات به یی بدرګه کوی.

مال دی باید بی ځایه ونه غورځول شی ، مجاهدین اوس هیڅ نه لری نو ددی باروتو بی ځایه پریښودل ستر خیانت دی ، له دی نصیحتونو سره بیرته عادی مزل پیل شو ، لمر لا له لویدیځو غرونو نه یوه نیزه هسك دی چی پر موږ د وروستی کوتل د ورختلو زیری وشو ، اوس موږ هغه سرك ته رسیدلی وو چی له چپ لوری زموږ پر لاره راګډ شوی ؤ،په هوارو غونډیو کی سرك په مارپیچی ډول وړاندی تللی.

څومره چی پر مخ څو ولولی او احساسات مو را پاریږی ، لاندی د سرك پر غاړه کی دی دمازدیګر لمونځونه په همدی ګلیو کی ادا کیږی او لږه ډوډی هم راته را ټوله شی ، ددغو ګلیو له کورونو نه هم وسله وال ځوانان زموږ په کاروان راګډ یږی ،، دلته د وسلو کمی نشته ، پکتیا ده د ځیږو تیرو او ځیږو طبیعتونو خاوره دلته بلډینګونه نشته ، ښوونځی نشته ، پا خه سرکونه او دعصر له غوښتنو سره برابر دانسانی ژوند انه سهولتونه او اسانتیاوی نه موندل کیږی خو وسلی شته ، ددی ځای خلک تر ډیره حده له رادیو ، تلویزیون ، سینما ... او نورو عصری سامانونو او صنعتونو نه ناخبره او نابلده دی خو ټوپك بیا د دوی د پلاراو نیکه میراث دی ، وسله دوی ته بیا تر هر څه زیاته‌آشنا ده ، هومره چی په ټپو سترګو د اصیل او کچه توپیر ښیی او په یوه ډز د توپك د عمر او ارځښت ټاکل ورته عادی دی ، څومره چی ولسوالی ته زموږ کاروان ورننوتی کیږی هومره مولیکه اوږدیږی او لښکر زیاتیږی ، دلته یو ځل بیا سړی ته مرګ بی ارځښته شی ، دمرګ وهم او هیبت ختم شی ، هلته به اوس د اوسپنو باران کیږی د ګلیو ړلی به اوری خو همغه د ګلیو ړلی ته خلك وردانګی نور نو د بی تعلیمه او تعلیم یافته تر منځ توپیر ورك شویدی ، په خپلو غوړونو اورو چی ددغه خوارو جونګړو ، بی وزلی او ښبانه هم د تره کی په کفر پوه شویدی او دادی د کابل د کافرو واکدارانو پر خلاف وسله پر اوږه د جهاد پر کاروان ورګډ دی.

دژمی د وروستیو شپو ورځو ننی لمر هم خپل ژیړبخونی وړانګی له ځمکی نه ورټولوی ننی لمر داسی ښکاری چی پردی سیمه د کمونیزم د واکمنی وروستی لمر وی، سبا ته به د لمر پلوشی پر سیمه بیا غوړیږی او خوریږی خو دغه سیمه ، دغه دنګ دنګ غرونه او دا دناوو په منځ کی چواری کوډلی به نور له یوه ستر ویاړ نه برخمنی وی ،دلته به نور د کمونیزم د بی جلبه واکدارانو بی پوښتنی واکداران نه وی ، په دی درو اوږه دی لرو برو غرونو او ګرنګونو کی به نور دجهاد ملکوتی تکبرونه زمزمه کیږی .

نوری د زمانی هغه درنی او اوږدی دقیقی او ساعتونه تیر شوی وو ، د انتظار شیبی ختمی شوی وی ، کاینات ټول ژبه او غوږ وو چی څه واوری او همغه بدرګه او زمزمه کړی ، دلته به نن یوه ډله انسانان د خپل فطرت دغوښتنی سره سم د الله د الوهیت شعار پورته کوی ،دلته به د شیطان او طاغوت پر ضد د غزا تکبیر اوچتیږی د خدای (ج) کاینات به یی بدرګه کوی او تر لری لری وطنو پوری به یی رسوی دلته به نن د جهاد شپیلی پوکله کیږی ، هوکی همدلته ددی دنګو دنګو په ونو ټپو غرونو په منځ کی .

نوربیا

تکل

محمد زبیر «شفیقي»

اونن هم زړونه په سینو کې درزیدل... خو!!!

هغه ورځ هم داسي وه لکه نن ،په هغه ورځ هم یوه استبدادي امپراتوري را ړنګه شوي وه ، د یوه ملت قربانیو رنګ راوړي ؤ او نن هم .

خو نن دهغه ولس د پاڅون د وروستي بري اعلان ؤ چي ډیري جغرافیاوي کرښي یي ماتي کړي ، د عصر معجزه یي زیږولي او دنړي له نقشي نه یي د یوي ستري امپراتوري نوم ورك کړي ؤ .

ځکه خو مو د نن نه ډیره تمه وه ....خو ؟ !

ماته اوس هم ښه را یاد شي ، هغه شپي چي د یوه ولس دهجرتونو ، شهادتونو او ازمویښتونو پیل ؤ او دیوه بل ولس د ارادو ، نیتونو او هدفونو د ازمویښت پیل .

هغه ورځ چي یوه دوه نیم زره کلني امپراتوري راچپه شوه او پر یادګارونو یي دانقلاب د بري توغونه ورپیدل -پر اسلامي امت د یوه مبارز روحاني تر قیادت لاندي د یوه عظیم بدلون او انقلاب زیري کیده له اوږدي مودي وروسته اسلامي امت یو ځل بیا د عبا او قباد عظمت او پر تم شاهد ؤ .

هغه هم یوه ورځ وه ، رشتیا چي د ډیري ستري خوښي ورځ !،ژمي ؤ خویخني یي نشوکولي چي زموږ په تودو احساساتو غلبه وکړي .- هغه ملت چي موږ ورور ګاڼه ، نن یي د بري ورځ وه او نن به د یوه عادلانه او اسلامي نظام لمر وړاندي راخوت .

هغه مازدیګر د لمر زرینو وړانګو د لرغوني فارس د دوه نیم زره کلني واکمني له وروستیو واکمنو سره وروستي خداي پاماني وکړه او د یوه نوي دور اعلان وشو د یوه انقلاب بري ؤ دیوه اسلامي انقلاب !

څومره خوږي شیبي وي او څومره جذباتي لمحي ! د سلمان فارسي «رض» پر هیواد د تکبیر ملکوتي شعارونو وزرونه غوړولي وو او بیا دنوي دوراعلان له هغه دستګاه څخه هم وشو چي کلونه کلونه د ساز -سرود او فساد آزانګي تري خپریدلي، بل د ور پیل کیده.

څومره ښکلي پیل ؤ ، څومره له عظمت او وقاره ډکي شیبي وي.

غوږونه ځیر وو ، ذهنونه او فهم ټول یوه ټکي ته اوریدلي ؤ څه به اوري ؟!

اسلامي انقلاب یعني څه ؟!

څه ور به اعلانیږي ؟........

د ویندوي جذباتي غږ اوچت شو.

د پهلوي دوه نیم زره کلنه واکمني پاي ته ورسیده !

د انقلاب د شهیدانو په ویاړ یوه دقیقه سکوت ! ،او همدغه سکوت د یوه دوران پاي ؤ د بل پیل!لږوي دقیقي وروسته د رادیو له امواجو نه د نوي دوران پیل د ستر رب د عظمت پر شاهدي او هغه ته د عبودیت پراقرار ؤ :

الله ، الله ، الله !

الله اکبر

الله ... الله ،الله

الله اکبر

******

الله ...الله . الله

لا اله الا الله . . . . . .

انقلابي ترانه پیل شي پر فارسیانو زیري کوي ،پر ټول اسلامي امت زیري کوي ، دطاغوت د نړیدو ا و حق د بري زیري ... له خوښي زړونه په سینو کي درزیږي ، نن له یوي رادیو نه د خداي «ج » د دین د عظمت اعلان اوریدل کیږي امت ته د بد مرغیو د ختمیدو اعلان کوي دا بیله خبره ده چي دهغه قبا اوعبا وارثان له خپلي ژمني او تعهد څخه په شا شول ....خو هغه ورځ د یوه ملت نه د ټول امت د خوښي ورځ وه .... او دادي څوارلس کاله وروسته یو ځل بیا همغسي شیبي ، همغسي زمان او دهمغسي ارمان د رژیدو مهال دي .

نه نه ! تر هغې هم د یوه ستر ارمان د پوره کیدو زیري تر هغې ډیر لوړ اوچت ،ډیر سپیڅلي او مقدس،نن د تاریخ د یوي ستري حادثي د اتلانو پر تاتوبي د همغه اتلانو د واکمني اعلان دي ، غوږونه ځیر دي تر څو هغه تکبیرونه له رادیو نه واوري چي د کریملین تخت یي په لړزه کي راچپه شوي ؤ د هغو فاتحانو غږ واوري چي دنړي د زیاتو محکومو او مظلومو د پاڅون د بري ویاړلري هغه غږ چي په تکبیرکي یي د ډیرو هیوادو د خپلواکي زیري نغستي وو . نن به دنړي تر ټولو غیرتي او مؤمن ولس د وروستي فتحي اعلان کیږي . نن به غیرتي افغان د کمونیزم پر کنډوالو د حق بیرغ اوچتوي او دیوه نوي دوران زیري به کوي ....

بیاهم زړونه په سینو کي درزیږي بیا هم غوږونه د یوه ستر اعلان اوریدلو ته منتظر دي ، هغه اعلان ته چي د سلګونو زره شهیدانو بر خلیك ور پوري تړلي دي ....

دکابل له رادیو نه پرلپسي د موزیك نغمي خوریږي ، چي کله کله سړي ته د سرطان او ثور د اړ دوړ ورځي سترګو ته دروي ناڅاپه د موزیك غږ چوپ شي ، یو ځل بیا غوږونه څك شي زړونه په درزا شي ، د هر چا ټول حواس او پام د رادیو د غږ په لوري شي چي څه به واوري ؟ !

د نږدي دوه ملیونه انسانانو په وینو د بري ساحل ته رسیدلي پاڅون اعلان به څه وي ؟ !

له یوي لنډي شانته وقفي نه وروسته یو سوړ ، بي خونده ، بي احساسه غږ واوریدل شي او په څو جملو کي د ملت او امت د لکونو تنوجذبات په پڅه چاړه ذبحه شي ...

...دډګرجنرال نبي عظیمي فرمان ! ! ...

ټولو قواو ته هدایت ورکول کیږي چي .... د اوامرو اطاعت وکړي . د هماغه فرمانونو تسلسل دي ، عظیمي دي ، مجید دي هماغه دوستم دي او همغه بي ستم ! همغه سندري دي او ....

آخرداؤ دیوه داسي پاڅون د بري اعلان چي معجزي یي جوړي کړي وي ! ؟

ځاځکي مي دوینو دي ګلونه د بهار نه دي
هغي یسي له لري تیرو تلي په ورمو رمه نو !
برم دتکبیر مي بي چي ولیدو
کفر نړیوال راته جنون واخست
ربه ارمانونه یي لوخړه کړي
چا مو چي د وینو جذبو خون واخست

لنډه داستان

ډیوه

لیکونکی - ل، خرم

بابا!، زما ساړه کیږی کله به ځو ؟

پلار چی په کیندلو اخته وو ددی غږ په اوریدلو لږ څه تم شو ،دباران واړه بی شمیره څاڅکی یی چی لکه اوږده ځنځیرونه په سراو اوږو باندی روان وو په لاس له سترگو چپ کړل، لمن ئی پورته کړه او پخپله پوزه یی سڼه و موښله، بیائی لمن پرمخ تیره کړه، نجلی ته مسکئ شو او بیرته یی په کیندلو پیل وکړ ،خاوری ئی چی اوس خټی شوی وې په لنډ او دروند بیل پورته کولی او پر انبارئی اچولی، دباران اوبو به خپله لاره چپه کړه او په کیندلی ویالی کی به سره ټولی شوی. کوچنی نجلی خپل ځواب ونه موند یو اوږد ارگمی یی ویوست د باران څاڅکی ئی تیر کړل د پلار په کیش کی ئی ځان لږ نور هم تاوکړاوپه داسی حال کی چی دباران څاڅکی ئی دسترگو له مخی لیری کول، دپلار ناتوانه بیل ته ځیره شوه ، سترگی ئی دتاداو په تیرو ونښتی « څومره لوئی لوئی تیری دی، څومره ډیره ځمکه ده، څومره ښښتی دی؟ »

دسړی لاسونو په ډیر زحمت دتهداب تیری اړولی او په لمدی خیشتی ځمکی کی ئی ځای په ځای کولی کله به ودرید نجلی ته به موسکی شو، ملا به یی نیغه کړه او دباران څاڅکی به ئی دپوزی له سره وڅ کړل «ډیره ناوخته شوه په باران کی کله کار کیږی» سترگی ئی نیمی وتړلی او هغه لیری دژړاند آسمان لمنی ته ځیر شو « بیخی تیاره شوه اوس نو تر څو چی رسیږو نیمه شپه به شی» دنجلی پټی سترگی یوواری دموټر دهارن په لړزوونکی غږ وازی شوی او په یوه ټرپ ئی له تیری څخه ځان په ځمکه واچوو او په حیران نظر ئی تر شا وکتل، سترگوکی ئی هرڅه سپین وځلیدل اودپلار د «پام کوه!» غږئی په غوږونو کی دباران د شنهاړ سره د دار نغمه وغږوله .

څوشیبی هرڅه دحرکت څخه پاتی شول او بیا پلار دتاداو ژور غالی څخه په ناتوانی را بهر شو له څټو ډك لاسونه ئی په لمنی وموښل او دموټر کړکی ته ودرید دخیښی له شانه ئی په نامفهومه لهجه واوریدل « لیونی ئی ، تر اوسه اخته ئی، داسی خوکار نه کیږی په باران کی ....بیا به خراب.... » او دځمکی دښښتن په قهر جنو سترگو کی ډوب شو، بی له دی چی دهغه نوری خبری واوری دهغه دگوتو په شمیرلو بوخت شو چی داستفهام په علامه پرانستل شوی وی. خیښه لږ څه سکته شوه او دسړی خیرن ککړ لاسونه پری و نښتل ، نجلی د ساړه نه ریږدیدله او دباران څاڅکی ئی په شمار له سترنی تیرول ، شیبی تیری شوی، پلار دموټر له څنگه دیخوا شو او موټرپه سرعت له څټو جلا شو. پلار نجلی ته نږدی ودرید، لاس ئی دهغی پرمخ کش کړ، کیش ئی تری واخیست او له لاس نه ئی ونیوله .

« داسی سخت باران دی چی زموږ په کاله کی به څه حال وی؟توره تیاره هم شوی ده لار وینی؟ »

« هو بابا! خو ډیر ساړه می کیږی کاشکی می دادی غټ ټیکری را سره راوړی وای. »

-لیونی تاخوشی شوق وکړ دلته خو باید زمان جان را سره راغلی وای هغه چی په خیر لوی شو نو کارته به ئی را سره بیایم، نجونی خو بهر نه وځی اونن څومره باران هم وشو دتاله تالونه ؟! دکیش څنډه ئی دلور په کوچنی اندام تاو کړه، سرئی سکته واچو او یو سوړ اسویلی ئی وکیښ« نن خونی پیسی هم کمی راکړې دهمدې باران له لاسه»

دنجلی پښنی داوبو په وړو وړو ډنډونو کی ننوتلی او بابه یی بوټ له پښی ووت او ویه دریدله، بوټ به یی په پښو کړ او دباران دڅاڅکو مخامخ لورته به دپلار په ریږدیدلو گامونو پسی په منډو شوه .

- بابا د ډوډی سره به یوه کیله هم اخلی، پرون د زمان نس ژوبل وو ادی می ویل کاشکی یوه کیله وای"هو، یو دوی به اخلم ."

تپه تیاره وه، دباران ویرونکی غږ دتیاری دماتمونو څخه ډکه ژبه ده چی په گنگه لهجه ئی دکیږدیو حال بیانولو، هرقدم کی ئی پښی په اوبو کی ډوبیدلی، سړی توده دودی تر کیش لاندی په سینه و نښلوله ،دباران څاڅکی ئی درېړی له څوکی نه په گریوان ښښیدل ،هر قدم ئی چی پورته کولو اوبه ئی دپښو لاندی ډیریدلی زړه ئی په درزا پیل وکړ شاوخواهر څه اوبه وو .

باران خو دی مگر دومره باران ،دومره اوبه ،خدایه خیر کړی .

-څه شوی دی بابا ؟ ولی داسی زر زر ځی؟

سړی ځواب ورنکړ او له ځان سره ئی وویل : الله ،خدایه خیر کړی کورونه ټول اوبو په سر اخیستی دی هه؟ دادچا غږدی ؟

دسپی غږدی بابا زه داړیږم .

خو دغه زگیروی دی.... منډی کوه ،منډی هله .

اونجلی ئی تر لاس ونیوله دخړو اوبو په مینځ کی په منډو شول

- بابا بوټ می ولوید

- پریږده خیر دی هله راشه خدایه خیر لکه چی دډیوی غږدی ...

اود همدی خبری دویلو سره سم ئی دخپلی کیږدی په لرگی پښه و نښته او پرمخی په اوبو کی ولوید،کوچنی نجلی ناری کړی: وی بابا ادی می ژاړی.

او دموږ پر زنگانه ور پریوته، دوی کیلی له کخوری نه دزمان جان په سینه توئی شولی.

کیږدی دډیوی پراوږو لویدلی وه او دی حیری گریوان او بیر سر، مړ زمان جان په غیږ کی کلك نیولی او دخټو او اوبو په تل کی ناسته وه .

ترجمه از :احمدمنور نفیر

نقش یهودي هادرانقلاب کمونیست روسیه !

نقشي راکه یهودیها در به پیروزي رسانیدن انقلاب کمونیستي روسیه اجرا نموده اند ، واقعات ذیل بخوبي آنرا بیان مي دارد :

«لینن» رهبر وبنیانگذار انقلاب کمونیست روسیه یهودي بود ، معاون دست راست وي تروتسکي هم یهودي بود که لینن وي را جانشین خود مي دانست . تروتکسي اصلا باشنده نیویارك بود .

۲- چند ماه قبل از پیروزي انقلاب کمونیستي روسیه لینن و تقریبا ۲۰۰ تن از رفقاي وي در یك ترین سر بسته از آلمان بسوي روسیه فرستاده شدند ، که از جمله ۲۰۰ تن مذکور اسماي ۱۶۵ تن آن در دست است که از جمله ۱۶۵ تن مذکور ۱۲۸ تن آنها یهودي بودند . درست هنگامیکه لینن داخل روسیه گردید روتسکي همراه با ۳۰۰ تن یهودي از امریکا به روسیه امد که بعدا انها با همکاري هم انقلاب را براه انداختند .

۳- بعد از پیروزي انقلاب یهودي ها دستگاه دولتي رابه تصرف خویش از جمله ۵۵۶ پست که دارایي اهمیت کلیدي در حکومت جدید ۴۵۷ پست آن بلست یهودي ها افتید .

٤- در عهد سلطنت لینن اکثریت اعضاي شوراي سیاست ساز یهودي بودند ، ولي در عهد سلطنت ستالین بجز از ستالین ، مولوتوف ، و فوروشیلسوف بقیه همه اعضاي شوراي ریاست جمهوري یا یهودي بودند یا یهودي نژاد .

٥- یکي از مجله هاي مشهور فرانسه بنام فرانسه قدیم در شماره دوم سال ۱۹۲۰ خود مي نویسد : (بعد از سال ۱۹۶۱ یهودي ها ۳۰میلیون پوند) را برانقلاب کمونیستي روسیه به مصرف رسانیدند ، و این مبلغ را از طریق ادارات مختلف یهودي به کمونیستها سپردند .

یکي از مجله هاي مشهور فرانسه بنام فرانسه قدیم در شماره دوم سال ۱۹۲۰ خود مي نویسد : (بعد از سال ۱۹۶۱ یهودي ها ۳۰میلیون پوند) را برانقلاب کمونبستي روسیه به مصرف رسانیدند ، و این مبلغ را از طریق ادارات مختلف یهودي به کمونیستها سپردند .

۳۰ میلیون پوند مذکور که کمك یهودیان خارجي بود در داخل کشور یهودي ها بخاطر به پیروزي رسانیدن انقلاب کمونیستي مبلغي را که به مصرف رسانیدند ، مجموعاً بالغ بر ۲۵ میلیون پوند سترلنگ مي گردد نویسنده کتاب الیهود العالمي هنري فورد اول مي نویسد : دوسازمان مشهور یهودي در امریکا «کاهان» و «لشکر امریکا » بخاطر بر پا نمودن انقلاب کمونیستي در روسیه کمك فراواني نمودند حصه بیشتري کمك به کمونیستان روسیه از طلایي امریکایي بود .

نویسنده مذکور همچنان مي نویسد : بعداز آنکه در سال ۱۹۰۵ کوشش کودتاي کمونیستان روسیه با ناکامي مواجه گردید ، تعدادي زیادي از یهودیان کمونیست به امریکا رفتند ، و در آنجا با همکاري وتعاون یهودي هاي آن دیار مصروف عمل گردیدند ، عده از این یهودي ها به جاپان رفتند ، و در آنجا آنها در بین عساکر روسي که در قید جاپاني

ها بودند ، جراثیم کمونیزم را پخش نمودند موضوع جالب اینست که راس این تبلیغ کمونیزم ، مالك ملیونر کمپني یهودي «کون نویب» قرار داشت ، که در آن هنگام معاهده کمك مالي با جاپان را امضا مي نمودند .

يك ژور ناليست برطانوي دگلس ريد در كتاب خود مي نويسد :

صيهونيزم سياسي و سوسياليزم روسي هر دو در محله هاي يهودي نشين و خانه هاي يهودي روسيه تولد گرديدند در تحت يك سقف پرورش يافتند ، و هر دو شانه به شانه هم به جواني رسيدند .

اين دو موسس نهضت هاي بزرگ تخريبي در جهان مربوط به نسل «سامي» نبودند و همه تاريخ نويسان تقريبا بر اين نكته اتفاق دارند كه اينها در اصل خويش مربوط به نسل «تاتار» و مغل روسي بودند كه اجداد آنها در قرن هفتم عيسوي ، مذهب يهوديت را بر گزيدند . و هيچ گاهي حتي در خواب خود هم پا به سرزمين مقدس بيت المقدس نگذاشته اند تا قرون متمادي آنها صرفا «يهوديان» رسمي بودند ، ولي بعد ها رهبران طالع آزماي سياسي و مذهبي ايشان جال حكومت بر جهان را چيدند . براي بر آورده شدن اين هدف يك گروه آنها قصد بر افگندن سلطنت تزاري روسيه را نمودند كه همين گروه بعد ها كمونيست ناميده شد ، گروه دوم فلسطين را بحيث مركز فعاليت هاي خويش برگزيدند نويسنده كتاب مذكور ادامه ميدهد :

دانشمند معروف كمونيست در كتاب خود بنام spaktel af stalen مي نويسد : ستالين در روز هاي اخير قدرت خويش آنقدر بر يهودي هاي بد گمان گرديده بود كه فيصله نمود تا همه يهودي ها را تبعيد نموده و در منطقه سايبريا آنها را محصور نگه دارد ، ولي اين فيصله عملي نشد زيرا ستالين هم توسط زهر به هلاكت رسيد .

وقتي در سال ۱۹۱۷ كمونيست ها در روسيه به پيروزي رسيدند طي اولين فرماني كه حكومت كمونستي روسيه صادر نمود از دشمني يهود در طول و عرض قلمرو روسيه با شدت ممانعت بعمل آمد ، و هدف آن هم اين بود تا عوام الناس مباحثه بر حسب و نسب كمونيزم راترك نمايند .

نويسندگان يهودي خود هم در مورد انقلاب روسيه چيزي هاي زيادي نوشته اند و نويسندگان مذكور انقلاب مذكور را ثمره تلاش هاي خود قرار داده اند . طور مثال يك نويسنده روسي اليكذندر بتل مين كتاب ضخيمي تحت عنوان ي«هودي ها بعد از جنگ بسوي دنيا روي آوردند ». كه طي اين كتاب نويسنده انقلاب كمونيستي روسيه را چنين مي ستايد :

(اگر ارتش سرخ نمي بود ، امروز دراروپا، در فلسطين ، درافريقا و در هيچ جايي يك يهودي هم زنده نمي بود ، ودر امريكا موجوديت ما در طي چند روزي خاتمه مي يافت اين تنها دولت اتحاد شوروي بود كه يهودي ها را از نابود شدن نجات داد به همين دليل يهوديان امريكا نبايد اين فريضه تاريخي خود را فراموش كنند ، كه بايد در قبال نجات دهنده قوم يهود «اتحاد شوروي »ادا نمايند) .

يك نويسنده ديگر بنام «پروفيسر ساتني» در كتاب صهيونيست «انقلاب كمونيست» مي نويسد .

«نهضت كمونيستي يهوديان در اروپا ي صنعتي و لاطيني بر پا نمودن انقلابي همچو انقلاب بالشويك شوروي ناكام گرديدند ، روسيه تزاري در حقيقت شكار سازشي گرديد كه در سال ۱۹۱۷ درآن سرزمين براه انداخته شد حقيقت اين است كه همه اعضاي نهضت كمونيستي يهودي بودند ،و تحت رهبري تروتسكي اين همه پلان راعملي ساختند ، «لينن» يك شخص انقلابي است در همه آنچه از فعاليت هاي انجام داده است مرهون منت تروتسكي مي باشد .

اين همه استناد ها و حواله جات براي ثبوت اينكه انقلاب كمونيستي روسيه در اصل انقلاب يهودي بود كافي به نظر مي رسد ، بعداز سال ۱۹۱۷ تا حال اگر طبقه در روسيه با لا دستي و صلاحيت دارد ، طبقهء يهودي است ، البته در اواخر دوره اقتدار ستالين بر يهودي ها اندك عتابي وارد آمد ، ولي با وجود آنهم يهودي ها در كامياب ساختن پلان هاي خود عليه ستالين به پيروزي رسيدند .
واقعه چنان به وقوع پيوست كه بعداز مرگ لينن به عوض روتسكوي ستالين به قدرت رسيد ، در حاليكه يهودي ها به اساس خدمات بي شايبه تروتسكي انتظار داشتند بعد از مرگ لينن وي جانشين

اش خواهد بود . ولي ستالين رهبر گروه دزدان مربوط حزب كمونيست بود كه از سال ۱۹۰۵ الي ۱۹۱۷ منظم گرديده بود ، لهذا در شكست دادن حريف خود چالاك وهوشيار بود ، لينن بعد از احراز قدرت هنگاميكه جذبه وفاداري ستالين را مشاهده كرد او رابه عهده منشي عمومي حزب برگزيد . گر چه لينن دراول خواست اين عهده رابه تروتسكي بدهد ولي تروتسكي اين عهده را پايين تر از مقام خويش دانست . بعد از مرگ لينن ستالين فورا تروتسكي را تبعيد نمود ، و بعد ها هم بواسطه سازشي او را زهر دادند وهلاكش ساختند و به همين گونه همه گروه و باند تروتسكي را قلع و قمع نمودند .

با وجود اينكه يهودي ها در دل از ستالين خوش نبودند ، ولي بنا بر اكثريت ايشان در حزب كمونيست موفق شدند تا ستالين را بخاطر اهداف خويش استعمال كنند ولي ستالين در اواخر سلطنت خويش احساس كرد كه يهودي ها مصروف سازش عليه او اند ، ستالين يك گروه از يهودي ها را گرفتار نمود كه چندين تن از دانشمندان ورهبران كمونيست روسيه را بجرم كار كردن عليه مفادات يهوديت ، توسط زهر به هلاكت رسانيده بود و يكي از جمله اين مقتولين ماكسيم گوركي نويسنده مشهور كمونيست بود . ستالين چند روز قبل از مرگ خويش جلسه حزب كمونيست را داير نمود و در اين جلسه اعلان نمود كه يهودي ها بي اندازه مفسد و تخريب كار اند ، به همين منظور او فيصله نموده است تا همه يهودي ها را دركمپ هاي كار اجباري در سواحل بحر منجمد شمالي زنداني سازد .

وقتي ستالين اين پوگرام خود را اعلان نمود ، براعضاي يهودي اين جلسه سكته طاري گرديد ولي در همين ميان «اوراوشلوف» كه از رفقاي ديرنه ستالين بود جرأت نموده گفت : اين پلان ، پلان وحشيانه خواهد بود و در همه جهان هنگامه بر پا خواهد شد ، دو سه تن ديگر يهودي ها هم از جرات كار گرفته حرف هاي او راوشلوف را تاييد نمودند به همين دليل فيصله به عمل آمد تاجهت غور و تحقيق روي اين موضوع كميسوني تشكيل گردد دانشمند معروف كمونيست در كتاب خود بنام spaktel af stalen مي نويسد : ستالين در روز هاي اخير قدرت خويش آنقدر بر يهودي هاي بد گمان گرديده بود كه فيصله نمود تا همه يهودي ها را تبعيد نموده و در منطقه سايبريا آنها را محصور نگه دارد ، ولي اين فيصله عملي نشد زيرا ستالين هم توسط زهر به هلاكت رسيد .

نويسنده مشهور روس سولزي لتمسن در كتاب خود جزاير شيطان مي نويسد : دراواخر اقتدار ستالين طوفان عتاب بر يهودي ها آغاز گرديد انها را تخريب كار قرار داده و بصوب زندانها كشانيده شدند «توطيه دوكتوران» جز همين سازش بود ، ومطابق پلان تهيه شده براه انداخته شده بود ، در آن روز ها در مسكو اين افواه عام بود كه ستالين مي خواهد يهودي ها را قتل عام نمايد ، پلان طوري بود كه در اوايل مارچ ۱۹۵۳ دكتوران قاتل مذكور را از ميدان سرخ در محضرعام اعدام مي كنند ، و در اين هنگام با اندك اشاره وطن دوستان مشتعل شوروي به جان يهودي ها مي افتند ، و قتل عامي را آغاز مي كنند ، در اين بين حكومت مداخله نموده ، و يهودي ها را به بهانه نجات دادن از آتش قهر ملت در همان شب از مسكو خارج نموده به سايبريا و شرق دور مي فرستند ، كه قبلا زندان هاي در آنجا تعمير گرديده بود .ولي اين اولي باري بود كه پلان ستالين ناكام گرديده از اين همه تفصيلات به خوبي مي توان فهميد كه يهودي ها در روسيه از چه نيرو و موقف قوي بر خوردار بودند و شخص با قدرتي همچو ستالين را درست هنگامي كه از سر راه خود دور ساختند كه از آن احساس خطر نمودند .

****

****

****

اگر ارتش سرخ نمي بود ، امروز دراروپا ، در فلسطين ، درافريقا و در هيچ جايي يك يهودي هم زنده نمي بود ، ودر امريكا موجوديت ما در طي چند روزي خاتمه مي يافت اين تنها دولت اتحاد شوروي بود كه يهودي ها را از نابود شدن نجات داد به همين دليل يهوديان امريكا نبايد اين فريضه تاريخي خود را فراموش كنند ، كه بايد در قبال نجات دهنده قوم يهود «اتحاد شوروي» ادا نمايند

لنډه کیسه ـ ډاکټر محمد اکبر «اکبر»

دکلیمې بند

« ناهید ! ته لاتر اوسه ویسه ناسته ئی...؟

پیرونی په شا ولاړی او تلی به یی دنورپه نوسی دهسك دچرګیړ مینځ ته کړی»

« بس موری ویده شوم» ناهید له کټه ټوپ کړوخپل شین کمیس یی ټول کړو او دخپل پرونی په شلیدلی ټوکره یی پر هر ګوتو ته سر سری ټکور ورکه ـ را پاڅیده ـ او چی دپرښنبنا غراخ یی مرکړو نو دتوحید نور ته دتوری کوټی په سړه خاموشی کښی په سجود پریوته ، هغه نور چی د تخلیق له ځیری تتبیړی او سکوت ته روانی بخښنی . دناهید په ولو دکاچ ګلابی پرونی نروپیڅکو ته وښوئید او اوښکو یې خپل خدای ته له اننګونه وړاندی دوه څیقه څڅکه لمده کړه ، شپی په تورو سپیړمو ساه اخیسته هره شیبه دوخت دتسلسل پیوند ؤ، دزړه په هر درز دزړه پردی یودبل ډیره وښوئیدی.

او خدای چی دساه له رګونو نه لنډ ؤ، دستورو ځرك یی دګل په سرخی پریوت.

دناهید سجده دومره اوږده شوه....تابه ویل جوړدځمکی ګوګل سپړی ، دعفت پاکه لمن پرښتو په سرکړه او دهیواد لورته د خدای سجود ویاړ و بخښنه دهغی دپر هر ونو وینی دژمی یخنی خیم کړی وی او چی سر ئی را پورته کړو نو پراخی تندی یی داوږدی سجدی چوغلی کوله .

هغه پاڅیده ـ دپښو تلی ئی دکوټی له ساړه فرش نه هم زیات ساړه وو ، اودقدمونو تال یی یو رپنده بوګن لره .

د ناهیدګرمو وینو نن شپه دخدای له وینا نه دهیواد جنګ له ژبه ورکړی وه ـ شین کمیس ئی د لا اله الا الله ـ له انقلاب بخښونکو کلیمو نه ډك ؤ، هغه کلیمی چی ټکی ټکی یی ناهید دشهادت دګوتی په څوکه دخپل سکنی پیغلتوب له ځك ځك وینی نه لیکلی ؤو. هغه ټکی چی انقلاب ته ساه پوکی اودسرپټوب تاریخ جوړوی.

دننګ دملالی وارثه خپل کټ ته وختله اوشین کمیس یی سرته کیښوـ د.... وخت دشپی له توری دیودی نه دسحر خړی کوڅی ته شو - دافق پرښتودهسك پیڅکی د شفق له خمه راښکل او دغوټی تنګه کوکوړئی دپرخی په ځك ډکه کړه .

له یوه کاله دناهید دخوږ هیواد پر هرـ ونو ته سروټینګونو اورنیوه ، داولس دساه په رګونوئی دالحاد سره شیطان پښبی ایښی وی او هلته دکورکالو او ډوډی چغه دکمونیزم دسری بلادمرګ سانده وه ، خو چی دادمرګ په تبه پرته ادیالوجی دنیستی دګورمورګوله ورغله ، اوتاریخ په ستنه ونه خوځید نو دوطن دآمو سینه ئی ورله دکور غلو په سل زره سره لښکرو ځیرله ـ او هغوی چی فکر دتشو چغو په زنځیر تړی دیوه واره ملت دآزادی په نرو اندامونو ئی درانده ټینګونه میخ کړه .

خو.... دوطن اولس ئی وخوزید اوله خدایه تاو شو.... دپرګنو فکر د ایمانه وغوړید ، اوقرآندکوټو له تاخه دسینو تاخ ته رخوت،

دخدای جنډی دخپلواکي نښی شهیدان ونغښتل، دپیچ دنخترو ځړی لمبه شوی اودهزاره جا ت یخو درو ته ئی د اور بخرکی توی کړه ، او چی هرات ورته دګرمو وینو ډنډ شو نو دبکوا دمودو تنده سړه شوه .

دهغی دوطن دبدخشان پیغلو په سینه دبره بمونه وتړل او دخوګیانو ماشومان ئی ټینګ ته پریوتل .

دهندوکش شپونکو ئی دوخت سره چنګیز ته داسرافیل شپیلی پو کړی.

اوچی دوطن دپکتیا ځوانانو ئی غړېږ دنګی یوړی نو دادلوګر شین اسمان پری سوری شو ، دپغمان دسرو خونوئی دآزادی روښانو مشعلونو تودقیام وکه، دکابل آسمانی غر داولسونو برج شوـ خدای دناهید داولس زور شوـ اواولس ئی دخدای دزوره وښورید .

ناهید دیوی کوڅی په ګوټ کښی تاو شوه او دکور نه لړ اخوا دخدای کورله ولاړه ، لکه دپرده پوش خدایه چی خپل پیغلتوب ته پردی غواړی، دخدای کور دهغوی په ګاونډ کښی ؤ او چی کله هغه له جوماته راووته، نو دسرو شوندو په مینځ ئی دمقدس سکوت تار را ښکلی پروت ؤ، دشکر دوه اوښکی راغلی، دسترګو له کنجه ، په اننګو رغښتی دشونډو تر مینځ دسکوت په تار ډنډ شوی، څومره پاکه ښکاریده تابه ویل جوړ مریمه همدا اوس د ذکر یا دجومات له محرابه راغله ، دهغی په زیړمو کښی تاویانه د بیګانی شوګیر په بار درانه ؤو او یوبل ته کړیدل.

لمر دغره شاته دشیطان ښکری وسوی

....ناهید کورته ولاړه ، کتابونه ئی سم کړه، خپل شین کمیس ئی د قرآن په سیپاره کښی کیښود....

قرآن دادعدل دانقلاب کوډ(Code) دادتقوی تخم...دهغی داولس د زړه په مزکه کرلی ؤو دګوګل له مات ورخه ئی وینی ورکړی وی، وخت دهمدی اولسپال انقلاب کرپخاوه او تاریخ ئی ترمورګوډك درمندونه ځارل.

ددرانی عائیشی ښوونځی ورو.ورو په جینکو ډك شو....د افغان توریالی لونه، داچی پاکی لمنی ئی دخپل هیواد دویاړلی تاریخ بی داغه پاڼی وی، ټولی له ناهید نه تاو شوی، ناهید ډیره وړاندی راغلی وه هغی هم شین کمیس واغوست چی ټوله شپه ئی پری کلیمی لیکلی وی، دهغی پاك پیغلتوب لکه (چاڅوی ته دخپلی آبرو پاکی پی) په شین کمیس اغوستو نور ه ښیرازه شو.

دزړونو له هر درزه شیبی حساب شوی، انقلاب په وړاندی ولاړوناهید لکه د انقلاب ګام یو پل په مخه واخیست، ټولو خویندو لیار ورکړه ، دخپل ټولګی دوره مخکښنی دویمی پوری ته وختله، اوس جینکو هغه لیدله ....دچوپتیا یوه ځپه را غله اوټولی ئی ونغښتی ـ دناهید

غږ ته لار سمه شوه هغې چیغه کړه ـ بالکل لکه دپښتنې ملالې چغه ـ

« د خدای دژوبل هیواد پټمنو لونړو....گورستاسو په شهیدانو وروڼو تنگ مه شه زه ! دمرگ په لیار و خوځم چې خپلو شهیدانو له دوینو غاټول یوسم ـ دا سره سریخواره داچې پخپله له ځیرو عفتونو پیدا دي، په مونږ زمونږ دغیرتونو مړی خښیږي، مونږ ته وائي: دستیچونو دبره سروغلیمانو ته وناځی، چې دوطن دشهیدانو په پرهردگناه تریخ گرد پریوزي» .

وائی، ای ددنگو غرونو دپیغلتوب لیتکو....

ځمونږ شپوته وسوځی ، داسې لکه دماسکو لمبه پیغلتوب چې دکرملین دهوسونو په سوو سوځی، دوی دخدای په هیواد کښې گناه کړی ده، او دپښتنو پریښتو پاك سالوته خیرن لاس غورځوي.

همدوی ځمونږ هیواد، ځمونږ داولس په وینو سور که ، ځمونږ کوروته ئې وران کړه ، ځمونږښارونه یې وسو، ځمونږ ځوانان ئې ژوندي په دیوالونو کښې خښ کړه، درانه نغری ئې سپیره شو ـ دوی دشهیدانو په پاکو مخونو تیزاب وشیندل، دجوماتونو ډیوی ئې په شرابو بل کړې داولس ژوند ئې ژوبل که، او اوس ئې پرهرونو ته اورر نیسي..... خو بیاهم ددوی باداران د ټینك په خوله د سولې سندرې وائي ....

ځما خویندو ! که نننی پیغلتوب دخپلو شهیدانو خلوته کې نه ناست ، نو صبا به، دحیا هره مریم دشیطان په کوڅو کښې دنیستی دار ته ټړی.

ای دبیټ نبکه په دعاگانو کښې نغښتلو پیغلو ! مرگ دغلامی ددوزخ دبره هغه پل دی چې دآزادی جنت ته لیار وړی ، زه په دی پله پوری وځم، خدای دشهید وورله خلاصو سترگو ماته گوری، راشئ ځما گامونه پیاوړی کړی چې زموږ سلگی دانقلاب دسندرې نیمگړې بند پوره کړی دهیواد جنگ زموږ په وینو شیرازه اوسه. ځی چې داله سرو وینو ډك شین کمیس د خدای جنده کړو او د آزادی وږی آسمان ئې په تنگ ول کښې پرانیزو.»

دناهید سکنی پیغلتوب دتورو په ژبه وغږېدوطن لوڼه یوبل ته ورلنډی شوی، یوموټی لکه زر پرښتی چې یو کړی، دانقلاب بدن وخوځید، دهغوی دگامونو غږ دمکتب له دیوالونو نه وتښتید او سړك ته شوی .....

ناهید لکه دخدای جنډه دخویندو په لښکر کښې وړاندې تله ـ دهغې شین کمیس دآزادی دپسرلي بیرغ ؤو ، کابل نن په وینو کښې لمبل دعمومي بڼ تر پله ورغلی – سړك لکه د عزرائیل دمرگ توره بیا مسته غزیدلی پروت وو – دجینکو ډلی ، دژوند دلښکر ټولی په تورسړك داجل ددی نری مار په سر پښتی ایښودلی وخت اوږدی مراندی په لنډوراښکلی .

یو غړوؤ د خپلواکی، دانسان له ستونی خوت ، چې دټینك دغوږ پولادی پردې یې شلولی – ژوند غوړیده او دمرگ توری بلاگان خوږ– دعمومي بڼ پل په ټینکونو ډك شو – په سل گونو ټینگونه په لس گونو هلیکوپټری راغلی په ماشین گنو اوراکټونو سمبال ، دسرونودبره دالحاد دسره شیطان آسمان ودرید، جینکو خپل پرونی له ملا تاو کړه ، په بنگړو دك مړوندونه یی دسړك دغاړی دترافیکو زنځیر ته را پریښودل تابه ویل جوړ دا زنځیر ئی دهمدی دپاره تړلی ؤو .

بنگړی ریچی ریچی شو – دهغوی پسنوته پریتول د بنگړو دماتو بنیسنو نه لمروتنبید او دانقلاب دساه تنور ذپاك پاځون دقدموله تاله جوړ ؤو – او دا تر خدایه ورغلی اولس دآزادی ورته ....

جینگی په پله دبره وړاندی تلی په هرگام ور سره خلق ملگری کیدل ، دپله په بل سرټینکونه ودریدل، ځنگ تر ځنگ او پرله پسی. دپرگنوسیلاب ته ئی داوسپنو بند وتړه ، دټینکونو په سر سره دشمنان ناست ؤو چې له ځیروئی دشرمناکی ماتی ذلت ځځیده .یو روسی به لوډسپیکر کښې و گوابنیده . په شاشی گنی ومو ویشتی ... هله....په شاشی ... یو....دوه ....او ....

خو دجینکو سیلاب تم نشو – هغه خو دتاریخ پریکړه ، دانقلاب تیز او د وخت تونده شیبه وه ...پل دجینکو له گامه وربردیده ، دپل له ریزده د ټینك دځنځیر ونو لاندی مزکه و لړزیده ، مزکه چې دآزادی دلښکر له گامه و لړزیده نو دسرو ملهو بنیادونه سست شو، اودشیطان دکور پاتیکورئ مات کړو.

د الله اکبر غږ ، لکه هغه ستن چې له مزکوئی اسمانونو ته و دروی ، له ځمکی نه اسمان ته وخوت ، روسی سپاهی بیا وگوابنید .

«په شاشی ، گنی ومو ویشتی ... یو ....دوه....دری.....»

او بیا، بیا خو ځمکه وسوه ـ اور وورید دټینکو نو شپیلی تاو شوی، هلیکوپټری ټیټی راغلی او دآزادی لښکر ئی په راکټونو ویشته ـ

ناهید دخدای دلښکر جنډه ، داولس پاك لمنی لور ـ میرنی او پښتنه ناهید په گولو ولگیده ، په وړاندی تله ، په سوونو پیغلی ، په خدای مینی دشهیدانو ځلمو خویندی ، دحیادافق ستوری لکه دتنکو لښتو گیډی په خاورو پریوتی، تابه ویل جوړ دکلیمی دپاکی ونی ځانگی ئی پریکړی، هغه ونه چې ځځبلی ئی په ځمکه کښی وی او ځوکی اسمان ته وړی.

تودی گولی دناهید په روانو اندامونو کښی سری شوی او چې دهغی قدمونه سست شول او دگامونو تالئی وشوکید، نو هغه ورو ورو ، راپریوته لکه دروغ آسمان نیمه تکړه چې پریوزی، لکه ځمکه چې پنځلسمه سپوږمی را کاږی ، او لکه د گلاب تنکی بوټی په گل غوټو دروند، چې دتوندو وږمو لار ته کوږ شی، دناهید په رگونو کښی دساه وروستی جوپی وکوچیدی ، اوله زخمونو ئی غلټول پریوتل ، دټینك دمشین گنو گولی دادشیطان کانی هم هغه شان دشهیدانو په جوپه وریدل .دناهید او خدای تر منځ یو گام لار وه ، د ژوند داخری گام لار ، چې دهغی په راولیدوپوره شوه .

ناهید دخپل وطن دیوه نهار په سړك راپریوته او دسړك له مخه گرد پاځید ، خړپر گرد، داد غریب وطن زبره ساه ، دناهید ساه ، اود وطن ساه گډا لاډیره شوه. داسی لکه دهیواد زړه چې دهغی له ساه نه ساه واخیستهٔ دهغی ساه دهیواد په زړه پریوته اودهغی تنه دهیواد په خاورو.

ناهید، دی شهیدی پرښتی په خپل مرگ دانقلاب ژوند ابدی کړو اوپه مړو شونډوئی دخدای دکلیمو نیمگړی بندپوره شو .

زموږ پرجهاد دخوست د سوبې سیاسي او پوځي اغیزې

د ۱۳۷۰ هـ.ش د حمل د ۱۱ مې نیټې په ماسپښین د قوماندان حضرت محمد تر قوماندانۍ لاندې مجاهدین د خوست د شمال له لورې د «مټون بابا» په غونډۍ د دښمن په پخه کلا وروختل -د جنوب او شمال شرق او جنوب شرق له لورې هم فوق العاده چټك پر مختګ وشو ، چې بالاخره د همدې ورځې د مازدیګر په څلورو بجو او ۱۵ دقیقو خوست په بشپړه توګه ازاد شو او درژیم قوتونو کامله ماتې وخوړه -دې ماتې د نجیب حکومت ته دا ضربې ورکړې :

الف:-- رژیم خپل لس زره وسلوال جنګي افراد له لاسه ورکړل --دا شمیر چې په ۲۵ فرقه ، قبا یلي او محلي ملیشه ، سرحدي لومړی نومره او دوهمه نومره لواګانو ، دخاد او څارندویو څواك ګلم جم او د انقلاب سپاهیانو او خاص ګارد کې تنظیم شوي وو یامجاهدینو ونیول ، یا ووژل شول او یا یوه اوبله خوا وتښتیدل.

ب:--تقریباً ۵۲ الوتکې ئې ویجاړې شوې ، ۲ هلیکوپټر ۲۰۰۰۰ میله کلاشینکوف ، د ۲۰۰ په شاوخوا کې موټر ، د ۲۰۰ په حدودو کې لوی او واړه توپونه ئې مجاهدینو غنیمت کړل -د ۴۰ په شاوخواکې زرهدار او زرهپوش ټانګونه ئې ویجاړ او ۴۰ ئې روغ مجاهدینو ته په لاس ورغلل.

ج:-- رژیم زیات شمیر جنګي کدر له لاسه ورکړ . د ۳۶۰په شاوخواکې افسران ونیول شول -پدې کې د دفاع وزارت لومړی مرستیال ډګر جنرال ظاهر «سوله مل» د خوست د ۲۵ فرقې قوماندان برید جنرال ګل آقا ، دفاع وزارت د سیاسي چارو مرستیال برید جنرال مصطفی ، په خوست کې د الوتکو د ډګرونو قوماندان برید جنرال محمد عظیم ، د محلي ملیشې قوماندان جنرال شرین اود خوست د خاد مرستیال جنرال جلیل هم شامل وو.

د :-- په ټول هیواد کې ئې د رژیم د ځواکونو مورال ډیر را ټیټ کړ .

هـ :--خوست په داسې یوه وخت کې ازاد شو چې له یوه لورې څه د پاسه یوه نیمه میاشت مخکې له افغانستان څخه د روسي پوځونو د وتو دوه کاله پوره شوي وو ، له دې امله حالات د رژیم په ګټه تحلیلیدل . له بلې

حضرت محمد

ارمان

خوا د خلیج د جګړې تر ختمیدو وروسته نړیوال شرایط د کابل رژیم په طرف شول -په همدې وجه د خوست سوبې دا حالت په رژیم خراب کړ.

و :-- خوست په پاکستان او قبایلي سیمو کې د رژیم د تخریبي چارو د سوق او ادارې لوی مرکز و-- رژیم دهغه په بایللو سره په ستونزه کې ولوید.

ز:-- د پرچم او خلق د ګروپونو تر منځ ئې اختلاف تشدید کړ.

خوست دخلقیانو لوی مرکز ګڼل کیده -له همدې امله وچې د جګړې په وروستیو ورځو کې نجیب د انجینر نظرمحمد په مشرۍ د خلق ګروپ له مشرانو او د نورمحمد«تره کی» له خپلوانو څخه خوست ته یو هیئات راولیږه ، د خوست تر ازادیدو وروسته په کابل کې خلقیان په دې معتوب شول چې له خپل یوه مهم مرکز څخه ئې دفاع ونه کړای شوه.

ح :--خوست د رژیم او ګوند د ډیرو مهمو افرادو پلارنې سیمه وه ، د مجاهدینو په لاس کې په لویدو سره د نوموړو کسانو روحیه او موقعیت زیانمن شو.

ط :--نجیب د خپلو دې افراطي تبلیغاتو په منځ کې چې رژیم ئې مضبوط دی او دمجاهدینو له خوا د خوست د نیولو هیڅ سوال نه پیداکیږي مجبور شو چې د سوبې په دوهم ماښام په پرېوتې روحیه او ماتِ غږ دکابل رادیو او تلویزون له لارې ووائي چې «نن سهار له خوست سره زما ارتباط قطع شو او زه پدې رابطه ملي ماتم اعلانوم».

کله چې موږ د مجاهدینو پر حالت د خوست سوبې پر اغیزو فکر کوو پاس مو چې په رژیم باندې د هغې کومې ضربې وشمیرلې هغه ټولې د مجاهدینو په وضعه مثبت اثرات دي، خو په هغو برسیره چې ئې د جهاد او مجاهدینو د موقعیت د ټینګولو او ښه کیدو لپاره کوم نقش ولوباوه ، هغه داسې حسابولای شو :

الف -پداسې حالت کې چې په مجاهدینو مرستې کمې شوې وې او د بیخي کمیدو نښې ئې ښکاره وې، دخوست په ازادولو ئې د ۲ هلیکوپټرو ، ۴۰ په شاوخوا کې زرهدار او زرهپوشو او ډیر زیات مقدار درندې او سپکې وسلې او نور وسایلو په نیولو ځان مضبوط کړ.

ب -د جلال آباد د جګړې له امله چې د مجاهدینو پر ستیژ تر کومو پوښتنو لاندې راغلې و ، د هغو د اثراتو دازالې لپاره ئې تر ډیره حده مرسته وکړه .

ج - دخوست سوبې له یوه لورې د جهاد دښمنان او مخالفین په تبلیغاتي او سیاسي لحاظ بې وسلې کړل او له بلې خوا یې دمجاهدینو موضع او منطق ته عملي مفهوم او افادیت ورکړ پدې معنی چې خوست په داسې شرایطو کې ازاد شـ چې ویل کیدل جهاد له رکود سره مخامخ دی د مجاهدینو پر مختګ په ټپه ولاړ دی او رژیم ته د نظامي ماتې له ورکولو عاجز دی همدا راز ددمجاهدینو مشرانو چې د قضیې د نظامي حل خبرې کولې او د جګړې له لارې یې د رژیم د را پرځولو په سیاست ټینګار کاوه د خپلې دې موضع او خبرې لپاره کوم عملي تحرك او افادیت نه درلود خو د خوست سوبې د واقعیت او عمل معنی ورکړه .

د : مجاهدینو په جبهه یی جګړه کی د بری نوی تجربه او بنه مثال تر لاسه کړ .،

هـ : د جهادی ځواکونو روحیه یی لوړه کړه .،

: د تلوار تلو او اکمالاتو لار یی اسانه شوه یواځی د پکتیا مجاهدینو او خلکو ته نه بلکی نورو ولایتونو ته هم د خوست، ځدرانو

فضل الرحمن

زرمت لویه لار پرانیستل شوه .

ز : مجاهدین د خوست په آزادو لوسره د ګردیز په امنیتی کمر بندونو ودریدل .

ح : له خوسته ۸۰۰۰ کور نی پاکستان ته را مهاجری شوی ، پداسی حال کی چی ډیر بهرنی طاقتونه د روسانو تر وتو وروسته پدی تلاش وو چی مهاجرین هیواد ته ستانه شی او پدی توګه زمونږ قضیه نوره سره وبنیئ ، دی پیښی مهم اثر وغور ځاوه .

دمجاهدینو لپاره د خوست سوبی د دی اساسی او رغنده مشبتوارخونو او اغیزو په څنګ کی لیږ منفی ټکی هم را منځ ته کړل هغه دا چی د خوست د نیولو په وخت کی دوسایلو او مواد و په انتقال کی د مثالی نظم او دسپلین مظاهره ونشوه او چور او چپاول ته ورته ځینی حرکتونو د مجاهدینو پرستیږ ته یو څه تاوان واړاو او دښمن ته یی د تبلیغاتو حربه په لاس ورکړه .

همدا راز تر آزادی وروسته او د وسایلو دنه انتقال بعد هم د یوی داسی اداری په جوړولو کی چی د سیمی ټولی چاری کنترول کړی او دجهادی اداری نمونه وی مجاهدین له مشکلاتو سره مخامخ شول چی دی هم د ذهنیتونو د مغشوشو لو لپاره دښمن ته یوه پلمه پیدا کړه .

خو له دی دواړو کمزوریو سره سره د وسایلو د ویش او لیږد په سر د مرګ ژوبلی نه واقع کیدل او په سیمه کی د امنیتی وضعی فوق العاده بنه والی د مجاهدینو د اخلاقی بر تری ښی مظاهری ګڼلی کیدای شی

د خوست سوبی د پاس اثراتو تر څنګ زمونږ د قضیی په رابطه په نړیواله سطحه هم اغیزی واچولی خوست په داسی وخت کی فتحه شو چی یو خو لا ترهغه پخوا د امریکا او غرب سیاست د افغانستان د قضیی په برخه کی اوښتی وُ د هغوی اهداف او نقشی د مجاهدینو له اهدافو سره په بشپړ ډول په ټکر کی وی غوښتل یی چی د افغان قضیی اهمیت کم وښیی مجاهدین کمزوری کړی او داسی یوه حل ته لار اواره کړی چی د مجاهدینو نقش پکی فیصله کن نه وی .

د خلیج جګړی هم نوی حالات را منځ ته کړل پدی جګړه کی د مجاهدینو مهمی برخی د امریکا مخالفت وکړ چی دی مخالفت ته امریکا په ډیره هوښیاری د سعودی عربستان د مخالفت رنګ هم ورکاوه امریکا له جګړی بریالی راووته داسی بریالی چی په ټوله نړی یی د هیبت سیوری خپور شو . دا داسی حالت و چی یو خوا د نړیوالو ټوله توجه د خلیج په پیښو او په هغه منطقه او جهان کی د هغو د احتمالی عواقبو لوری ته وراوښتی وه او زمونږ قضیی ته پاملرنه کمه شوی وه بل د مجاهدینو یو مخالف لوری د امریکا له یوی نوی کینی سره په ډیر زور او سرعت د نړی د یوه قطبیت په لوری پر مختګ وکړ سعودی عربستان نور په داسی موقعیت کی وُ چی ورته ګرانه و چی د امریکا د خوښی پر خلاف قدم پورته کړی پدی برسیره حتمی ده چی دخلیج په باب د دوی له سیاست سره د مجاهدینو د موثرو جهادی احزابو عدم موافقت هغه خوابدی کړی وُ .

په پاکستان کی هم دخلیج د جګړی نتیجی د هغو حلقو موقعیت کمزوری کړی و چی د مجاهدینو کلك پلویان بلل کیدل د پاکستان اسلامی احزابو د امریکا شدید مخالفت او د عراق پلوی کړی وه پدی برسیره د دی هیواد د پوځ د هغه وخت قوماندنان جنرال میرزا اسلم بیګ په ډیر صراحت د امریکا پر ضد ویناوی وکړی او د عراق یی طرفداری وکړه د هغه تحلیل دا و چی علاوه پدی چی امریکا د جګړی تر شانور اهداف لری جنګ هم نشی ګټلای . پدی فضا کی خبرو او شعارونو خپل افادیت له لاسه ورکړی و یوازی عملی ابتکار ، یوی حادثی او اقدام کولای شوای ، وضعه ماته کړی .

دخوست سوبه په یوه دغسی حالت کی وشوه او په بنه توګه یی د وضعی په نوی کولو کی نقش ولوباوه .

د نړیوالو توجه یی افغان قضیی ته راواړوله غرب چی کومه روانی جګړه د مجاهدینو پرخلاف تشدید کړی وه د هغی اغیزی یی کمی کړی او په بهر کی یی د جهاد دخوا خوږ یو موضع ته قوت ورکړ . د

خوست له فتحی سره جوخت د حمل په ۱٤ مه نیته په اسلام آباد کی د پاکستان افغان سیل چی د جمهور رئیس صدراعظم او د ریو واړو قواوو په قوماندانانو برسیره یی ځینی نور لوړرتبه مامورین هم غړیتوب لری غونډه وکړه تر نوموړی غونډی وروسته که څه هم پاکستان اعلان کړه چی دوی د افغانستان د بحران په سیاسی حل ټینګار کوی خواصلی خبره دا وه چی د خوست فتحی هغوی ته د داجرئت ورکړ چی افغانی قضیه په قوت مطرح کړی او په نړیواله سطحه یی ابتکار د امریکا ړیانو په ځای دوی په لاس کی واخلی .

سعودی عربستان هم مجبور شو چی په قضیه کی دلچسپی واخلی پاکستان ته یی لوړ رتبه هیئاتونه راغلل د مجاهدینو له مشرانو سره یی ملاقاتونه وکړل او ځینو ته یی سعودی ته د سفر بلنی ورکړی .

همدار از د خوست سوبی د یوه قوی عامل په توګه له نورو عواملو سره لاس یو

سپین پاچا

کړ چی د کابل رژیم او شوروی اتحاد وارخطا کړی او له امریکا مرسته وغواړی امریکا د هغوی په ځواب کی ملګری ملتونه فعال کړل او په ګډه یی تصمیم ونیو چی یوه داسی طرحه اعلان کړی او پر هغی عملا کار پیل کړی چی په یوه داسی حل تمامه شی چی مجاهدین اقتدار وانه خیستلای شی او د یوه مخلوط حکومت لپاره زمینه مساعده شی د همدی لپاره و چی د ۱۳۷۰ د ثور په ۳۱ مه د ملګرو ملتو د هغه وخت سرمنشی پریزدیکویار پنځه فقره ایزه طرحه اعلان کړه دا طرحه ډیره توده تر کار لاندی ؤه او بینن سیوان پری د ملګرو ملتو د سر منشی د خاص استازی په توګه مامور دی او بالاخره د خوست سوبی په شوروی اتحاد کی د هغو جناحو موضع مضبوطه کړه چی د کابل رژیم ملا تړ یی بی ګټی او د هغه مستقبل یی تیاره ګڼله .

****

****

ارشاد نبوي

ابوهريره رضي الله عنه از پيامبر خدا صلي الله عليه وسلم روايت مي كند كه فرمود : خداوند تعالي مي فرمايد ، من با گمان بنده ام به خويش مي باشم ومن باا‌و هستم هر كجا كه مرا ياد كند ، سوگند به خدا كه خدا شادمان تر مي شود به توبه بنده اش از يكي از شما كه در بيابان گم شده اش را مي يابد وانكه بسوي من يك وجب نزديكي جويد به او يك گز نزديك شوم ، وانكه بسويم گزي نزديك شود به او يك باع نزديك شوم وچون بسويم گام زند با سرعت به او روي مي آورم

حکمتیار صاحب او مولوی صاحب خالص په سرویی کی